# په ملائکو او
# قضاء و قدر باندي ايمان

## معنی،
## دلايل
## او غوښتني ئې

حکمتيار

# پر ملائکو ایمان
# معنی،
# دلائل او غوښتني ئې

حکمتیار

# فهرست

| صفحه | عنوان |
| --- | --- |


د ناشر مقدمه---------------------------------------------------- ۱
پر ملائکو ایمان---------------------------------------------------- ۳
پر فرشتو د ایمان غوښتني-------------------------------------------۱۵
پر قضاء او قدر ایمان-------------------------------------------------۲۰
پر قضاء او قدر ایمان-------------------------------------------------۲۱
قدر-------------------------------------------------------------------۳۰
قضاء------------------------------------------------------------------۳۷
د قضاء اقسام---------------------------------------------------------۴۰
تکویني قضاء:---------------------------------------------------------۴۰
تشریعي قضاء:--------------------------------------------------------۴۲
اراده------------------------------------------------------------------۴۳
لوح محفوظ ----------------------------------------------------------۴۵
آیا انسان د اختیار خاوند دئ؟-------------------------------------۵۰
پر قضاءاو قدر د ایمان غوښتني ---------------------------------۵۸
د مصائبو په وړاندي صبر-------------------------------------------۵۹
مصیبتونه او پیښي د قضاء او قدر په رڼا کي ------------------۶۹

بسم الله الرحمن الرحيم

# د ناشر مقدمه

د الله تعالی له پېرزوینو ممنون یو چي موږ ته ئې د یوه بل ښکلي کتاب د خپرولو توفیق راکړ، دا کتاب د هغو درسونو د لړۍ یوه برخه ده چي ورور حکمتیار د اردوی سپاهیان رضاکار اسلام (اسرا) په تربیتي غونډو کي رضاکارانو ته درلودل او په ۱۳۶۹هـ ش کال کي د کتابونو په بڼه کي ترتیب او چاپ شول، د ځینو عربو ورونو په غوښتنه؛ په عربي ترجمه او په کافي شمېر کي چاپ شول، دا کتاب موږ ته ښيي چي رښتینی ایمان کوم دئ او غوښتني ئې څه دي؟ په څه څه به ایمان لرو؟ د ایمان حقیقي معنی څه ده او الله تعالی کوم ایمان او د چا ایمان قبلوي؟ د دې درسونو دا لړۍ د لاندي پنځو کتابونو په بڼي کي خپره شوې:

- پر الله تعالی ایمان، معنی، دلائل او غوښتني ئې.
- پر آخرت ایمان، معنی، دلائل او غوښتني ئې.
- پر پیغمبرانو ایمان، معنی، دلائل او غوښتني ئې.
- پر کتابونو ایمان، معنی، دلائل او غوښتني ئې.
- پر ملائکو او قضاء او قدر ایمان، معنی، دلائل او غوښتني ئې.

د دغو اساسي مسائلو اهمیت ته په پام سره مو دا غوره وګڼله چي یو ځل بیا ئې خپل خدای پال او په دین مین ولس ته وړاندي کړو، دا ځل ټول یو ځای او په یوه مجلد کي خپروو، دا باید واضح کړو چي په نوې طبع کي ځیني ګټور او ضروري مطالب اضافه شوي، هغو باایمان ځوانانو ته چي د غربي استعمار د فکري یرغل په

ضد ئي د مبارزې سنګر تود ساتلی او غواړي د ایمان په حقیقت پوه شي، نورو ته ئي وښيي، خپل فردي او اجتماعي ژوند د ایمان په رڼا کې او د خپل رب د لارښوونو مطابق تنظیم کړي، او په آزاد او خپلواك افغانستان کې د اسلام پرتمین بیرغ رپانده وګوري، د دې کتاب د ژوري او دقیقي مطالعي بلنه ورکوو، دعاء کوو چي الله تعالی موږ په دنیا او آخرت کې د هغو توریالیو مبارزینو په صف کې محسوب کړي چي له الله تعالی پرته بل چا ته سر نه ټیټوي، له بل چا طمع او وېره نه لري، د خپل رب رضاء لټوي او دې سپېڅلي هدف ته د رسېدو په لار کې هري قربانۍ ته چمتو دي.

اللهم اهدنا الصراط المستقيم

بسم الله الرحمن الرحیم

# پر ملائکو ایمان

الله تعالی په داسي حال کي چي په هر کار قادر او د بل له مرستي بې نیاز دئ، په ټول عالم کي د ده حکم نافذ او د دې عالم په اداره او تنظیم کي له شریك او مرستندوی مستغني دئ، خو د دې عالم د چارو د سمبالولو لپاره د ملائکو په نامه داسي لښکري لري چي له ځنډه پرته، طوعاً او کرهاً، د الله تعالی احکام او اوامر پلي کوي، تل د ده په عبادت بوختي دي او له الهي احکامو سرغړونه ورته ممکنه نه ده.

هر څه چي په دې عالم کي تر سره کېږي، د الله په اراده او له ثابتو الهي سننو سره سم او د هغو ځواکونو او ذواتو په ذریعه ترسره کېږي چي د سرته رسولو لپاره ئې مأمور شوي، په دې عالم کي هیڅ پېښه، هیڅ حرکت او خوځښت؛ نه تصادفي دئ او نه په خپل سر، هر څه د ملائکو په ذریعه او د الله تعالی له اوامرو سره سم ترسره کېږي.

دا فرشتې لکه څنګه چي ځیني ګمان کوي مجرد، بې هویته او بې هیکله ځواکونه نه دي چي خارجي وجود ونه لري؛ بلکي وجود لري، له نوره پیدا شوې، هري ډلي ته ئې خاصي دندي سپارل شوې، په خپله خوځېږي، د آسمان او زمکي ترمنځ تګ راتګ کوي، هر هغه څه خوځوي چي دوی ورباندي مأمور شوي.

که شیطان د انسان د بې لاري کولو لوړه کړې او د انسان د بې لاریتوب او سقوط په لټه کي دئ او هغه ته د الله په لار کي ښي او کیڼ لوري ته په کمین کي ناست، فساد او انحراف ته ئې بلي، ده ته د یأس او ناهیلۍ تلقین کوي، غواړي د

ده نشاط، تحرك، شور او شوق ختم کړي، په ده کې وېره، حزن او اضطراب راپيدا کړي او په دې ترتيب غواړي د ده ټول استعدادونه او ځواکونه راکد پاتې شي، له کاره ولوېږي او د الله په لوري د تلو عزم او توان له لاسه ورکړي، خو ملائکې د شيطان برعکس، انسان ته زېرى ورکوي، هغه په سمه لار تلو ته هڅوي، ښېګڼو ته ئې بلي، هغه ته د خوف، وېرې، اندېښنې او اضطراب په ځاى د ډاډ او اطمئنان تلقين کوي، لکه چې قرآن فرمايي:

إِنَّ ٱلَّذِينَ قَالُواْ رَبُّنَا ٱللَّهُ ثُمَّ ٱسۡتَقَٰمُواْ تَتَنَزَّلُ عَلَيۡهِمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ أَلَّا تَخَافُواْ وَلَا تَحۡزَنُواْ وَأَبۡشِرُواْ بِٱلۡجَنَّةِ ٱلَّتِي كُنتُمۡ تُوعَدُونَ ٣٠ نَحۡنُ أَوۡلِيَآؤُكُمۡ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَفِي ٱلۡأٓخِرَةِۖ وَلَكُمۡ فِيهَا مَا تَشۡتَهِيٓ أَنفُسُكُمۡ وَلَكُمۡ فِيهَا مَا تَدَّعُونَ ٣١ فصلت: ٣٠-٣١

يقيناً هغه چې وئې ويل: زموږ رب الله دئ؛ بيا ئې استقامت وکړ، فرشتې به پرې نازلېږي (له دې وينا سره) چې مه وېره کوئ او مه غمجن کېږئ او د هغه جنت په زېري سره خوښ اوسئ چې وعده ئې درکول کېږي، موږ هم د دنيا په ژوند کې ستاسو دوستان يو او هم په آخرت کې، او تاسو ته په دې کې هر هغه څه شته چې ستاسو زړه ئې غواړي او هر هغه څه چې تاسو ئې غوښتنه وکړئ، يوه مېلمستيا د ډېر مهربان بخښونکي له لوري.

د هغو په مقابل کې چې ملګري او مشاورين ئې جني او انسي شيطانان دي او بد کارونه ئې ورته ښايسته کوي؛ مؤمنان او هغه چې وايي: زموږ رب الله دئ او په همدې باور او اعتقاد او غوښتنو ئې ثابت او ټينګ پاته کېږي؛ داسي معرفي شوي چې فرشتې به پرې نازلېږي او دوى ته به وايي: مه وېره کوئ او مه غمجن کېږئ او د هغه جنت په زېري سره خوښ اوسئ چې وعده ئې درکول کېږي، موږ هم دلته په دنيا کې ستاسو دوستان يو او هم په آخرت کې، که په دنيا کې له آزموينو،کړاوونو او محروميتونو سره مخامخ شوئ پروا ئې مه کوئ، الله تعالى به ئې په بدل کې هغه جنت درکړي چې په هغه کې به تاسو ته هر هغه څه وي چې

ستاسو زړه ئې غواړي او هر هغه څه چې تاسو ئې غوښتنه وکړئ، يوه داسې مېلمستيا چې د ډېر مهربان بخښونكي رب له لوري به وي!!

دلته پوښتنه راولاړېږي چې دا فرشتې څنګه او په کومې بڼې کې پر مؤمنانو نازلېږي؟ ځواب ئې دا دئ: همغسې لکه چې شيطانان بدو انسانانو ته ورځي او هغوی وسوسه کوي، فرشتې مؤمنانو ته ورځي او دغه ويناوې ورته تلقينوي چې په مخکنيو آيتونو کې راغلي.

قرآن فرمايي چې د انسان روح د فرشتو په لاس قبض کېږي او د هغه مرګ تصادفي او په خپل سر نه دئ.

وَقَالُوٓاْ أَءِذَا ضَلَلۡنَا فِي ٱلۡأَرۡضِ أَءِنَّا لَفِي خَلۡقٖ جَدِيدِۢۚ بَلۡ هُم بِلِقَآءِ رَبِّهِمۡ كَٰفِرُونَ ١٠ قُلۡ يَتَوَفَّىٰكُم مَّلَكُ ٱلۡمَوۡتِ ٱلَّذِي وُكِّلَ بِكُمۡ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُمۡ تُرۡجَعُونَ ١١ السجده: ١٠-١١

او وئې ويل: آيا کله چې په زمکې کې ورك (او خاورې) شو بيا به په نوي پيدايښت کې وو؟! بلکې دوی د خپل رب د ملاقات په اړه کافران دي، ورته ووايه: د مرګ هغه فرشته تاسو وفات کوي (ستاسو روح قبض کوي) چې پر تاسو ګمارل شوې، بيا د خپل رب په لوري ګرځول کېږئ.

په دې مبارکو آيتونو کې دا لارښوونې ګورو:

- د آخرت منکرين وايي: آيا دا ممکنه ده چې موږ ومرو، جسدونه مو خاورې او په زمکې کې متلاشي او ورك شي؛ بيا به په نوي پيدايښت کې پيدا کېږو؟! د دوی په اړه ويل شوي: دوی په اصل کې له خپل رب سره په مخامخېدو باور نه لري، له بيا ژوندون ئې انکار له دې کبله نه دئ چې دا کار ورته مستحيل او ناممکن برېښي، د انکار اصلي وجه ئې دا ده چې له خپل رب سره د ملاقات او د خپلو جرمونو له سزا سره د مخامخېدا منل ورته ګران کار دئ، په دې اړه د دوی کفر د دې باعث شوی چې له بياژوندون انکار کوي.
- د دوی په ځواب کې ويل شوي: ستاسو مرګ کومه تصادفي او خپل سرې پېښه

نه ده، دا ځکه چې الله تعالی ستاسو د حفاظت او ساتنې بند و بست کړی او له خپلې خوا ئې ستاسې لپاره ساتونکې موظف کړي، دا ساتونکې د مرګ تر ثابتې نېټې ستاسو ساتنه کوي او د دې نېټې په رارسېدو سره ټاکلې فرشتې ستاسو روح قبض کوي. نو ستاسو د روح وتل د یوې دقیقې منصوبې له مخې ترسره کېږي، بدن مو متلاشي کېږي خو روح مو ساتل کېږي. الله تعالی به هغه ورځ چې ستاسو د بېرته ستنېدو لپاره ئې ټاکلې ده؛ دغې روح ته بیا بل کالبوت ورکړي.

د مرګ په کار ګمارل شوې فرشتې به د روح د قبضولو په دوران کې د نېك او بد انسان ترمنځ تفکیك کوي او له هر یوه سره به د دوی معامله بېله وي. چا چې په خپل ژوند کې د منافقت لار غوره کړې، ظاهر ئې یو رنګ او باطن ئې بل رنګ، د مسلمانانو په وړاندې په یوه څېره او د دوی شا ته په خفاء کې په بله څېره، د کافرانو په ډله کې کافر او د مسلمانانو په ډله کې مسلمان وي، فرشتې به د دوی د روح اخیستلو په وخت کې دوی په شا او مخ وهي.

فَكَيْفَ إِذَا تَوَفَّتْهُمُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ يَضْرِبُونَ وُجُوهَهُمْ وَأَدْبَٰرَهُمْ ٢٧ محمد:٢٧

نوڅنګه به وي چې فرشتې د دوی روح قبضوي په داسې حال کې چې پر مخ او شا ئې وهي.

هغه کسان چې په قدیر خدای د ایمان له دعوی سره سره د ضعف او ناتوانۍ احساس کوي، ذلت او اسارت ته غاړه ږدي او د دې په ځای چې د خپلې آزادۍ لپاره هجرت وکړي او په بل ځای کې د سرلوړي او آزاد ژوند د تر لاسه کولو هڅه وکړي، د سپکاوي او ذلت ژوند غوره کوي او دښمن ته د اسارت سرټیټوي، کله چې ملائکې د داسې کسانو روح قبضوي، د دوی د دې استدلال په ځواب کې چې د ضعف او ناتوانۍ له کبله ئې هجرت ونکړ، داسې وایي: آیا د الله زمکه پراخه نه وه چې هجرت مو کړی وی؟

إِنَّ ٱلَّذِينَ تَوَفَّىٰهُمُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ ظَالِمِىٓ أَنفُسِهِمْ قَالُوا۟ فِيمَ كُنتُمْ ۖ قَالُوا۟ كُنَّا مُسْتَضْعَفِينَ فِى ٱلْأَرْضِ ۚ قَالُوٓا۟ أَلَمْ تَكُنْ أَرْضُ ٱللَّهِ وَٰسِعَةً فَتُهَاجِرُوا۟ فِيهَا ۚ

فَأُوْلَٰٓئِكَ مَأۡوَىٰهُمۡ جَهَنَّمُۖ وَسَآءَتۡ مَصِيرًا ٩٧ النساء:٩٧

بې شکه هغه کسان چې ملائکې ئې روح قبضوي، په داسې حال کې چې دوی پر خپلو ځانونو ظلم کوونکي وي، ورته وايي به: تاسې په څه حالت کې وئ؟ وايي: مونږ په زمکه کې کمزوري او مستضعف وو، ورته وبه وايي: آيا د الله زمکه پراخه نه وه چې هجرت مو په کې کړی وی؟ نو دوی همغه دي چې مېشت ځای ئې دوزخ دئ او د ورګرځېدو ځومره بد ځای.

دلته د هغو کسانو په اړه بحث شوی چې د هجرت له فرض کېدو وروسته ئې له هجرت ډډه کړې، په دارالحرب کې پاته شوي، څه عذر ئې نه وو، هسې د الله لپاره له خپل کور، کلي وتل او له خپل مال، دولت لاس اخيستل ورته ګران وو، د دوی په اړه لاندې وضاحتونه شوي:

- دوی پر خپل ځان ظلم کوي او خپله دنيا او آخرت تباه کوي.
- د مرګ په وخت کې به ئې ملائکې دا بهانه د منلو وړ نه ګڼي چې وايي: مجبور او ناتوانه وو.
- ملائکې به ورته وايي: آيا د الله دا پراخه زمکه دومره دربانده تنګه شوې وه چې د هجرت لپاره مو کوم ځای نه شو موندلی تر څو له خپل دين او ايمان سره هلته تللي وی او د کفر له سلطې مو ځان آزاد کړی وی؟!
- د دوی مېشت ځای دوزخ دئ.

د فرشتو بېل بېل ټولګي او اصناف دي، هر ټولګي ته بېله بېله دنده سپارل شوې او د خپلې مشخصې وظيفې او دندې پوره علم او پوهه ورکړی شوې. د انسان په نسبت د دوی پوهه محدوده ده، دوی ته د انسان په څېر د داسې جامع پوهې د تر لاسه کولو استعداد نه دئ ورکړی شوی چې هر څه وپېژندی او په هر څه پوهېدی شي؛ بلکې د خپلې مشخصې دندې محدود علم ورکړی شوی، قرآن عظيم الشأن په دې اړه فرمايي:

وَعَلَّمَ ءَادَمَ ٱلۡأَسۡمَآءَ كُلَّهَا ثُمَّ عَرَضَهُمۡ عَلَى ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ فَقَالَ أَنۢبِـُٔونِي بِأَسۡمَآءِ

هَٰٓؤُلَآءِ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ٣١ قَالُواْ سُبۡحَٰنَكَ لَا عِلۡمَ لَنَآ إِلَّا مَا عَلَّمۡتَنَآۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡعَلِيمُ ٱلۡحَكِيمُ ٣٢ البقره: ٣١-٣٢

او آدم ته ئې نومونه ورزده کړل، ټول ئې، بیا ئې ملائکو ته وړاندي کړل، نو وئې ویل: د دغو پر نومونو مي خبر کړئ؛ که رښتیني یاست. وئې ویل: پاکي ده تا لره، مونږ له هغه پرته چي تا راښودلي هیڅ علم نه لرو، ته خو بې شکه چي ښه پوه او ښه د حکمت خاوند یې.

له دې آیت څو مهم مطالب تر لاسه کولی شو:

- الله تعالی آدم علیه السلام او د ده نسل ته پر ملائکو باندي دا فضیلت ورکړی چي علم ئې تر فرشتو جامع دئ، د هرڅه د پېژندلو او هغه ته د خاص نوم ورکولو استعداد په کي ایښودل شوی، خو ملائکي داسي دي چي هر صنف ئې د خپل خاص کار په اړه علم لري او د نورو شیانو په اړه نه پوهېږي، هر څه پېژندل او بیا هغه ته خاص نوم ورکول د انسان ځانګړتیا ده، دا خصوصیت په بل هیڅ مخلوق کي نشته، د زمکي د خلافت لپاره همداسي یوه مخلوق ته ضرورت وو، ملائکو دا کار نه شو کولی. متأسفانه ځیني داسي ګمان کوي چي ملائکو غوښتل د زمکي خلافت د دوی په واك کي وي او بل چا ته ورنکړی شي، الله غوښتل دوی په دې ملامت کړي او ورته ثابته کړي چي تر تاسو آدم علیه السلام د دې مقام لپاره وړ دئ، نو آدم علیه السلام ته په غوږ کي وویل شو چي د دې او هغه شیانو نومونه څه دي، بیا د همدغو شیانو د نومونو په اړه له ده او ملائکو امتحان واخیستل شو، ملائکي ناکامه او دی بریالی شو. حال دا چي نه دا کار د امتحان اخیستو لپاره ترسره شوی، نه ملائکي داسي دي چي د الله له حکم مخالفت وکړي او د ځان لپاره کومه دنده وغواړي او نه په داسي امتحان سره د آدم علیه السلام وړتیا ثابتېدی شي. دا له اسرائیلي روایاتو اخیستل شوي آراء دي، په دې کي هم الله تعالی ته د عدل او عقل خلاف کارونه منسوب شوي او هم ملائکو ته د ګناه کارونه! الله تعالی خو نه د عدل خلاف کار کوي او نه د عقل، دا تأویل هم د عدل منافي دئ هم د مشاهدې، داسي امتحان چي په هغه کي یوه ته نقل ورکړی شي د عدالت منافي امتحان دئ او

مونږ په مشاهدې سره ګورو چې آدم علیه السلام او اولاد ته ئې د ټولو شیانو نومونه نه دي ښودل شوي، په څو دلائلو:

- که ده ته نومونه ورښودل شوي وی نو باید ترقیامته د ده په ټول اولاد کې همدا نومونه پاته وی، د ده عرب او عجم زامنو باید ورته نومونه کارولی او د ټولو ژبه یوه وی، خو عملاً ګورو چې نه ژبه یوه ده او نه نومونه. دا دوی ولې د قرآن د آیتونو داسې تعبیرونه کوي چې د مشاهدې خلاف دي، آدم علیه السلام ته به نومونه همغسې ښودل شوي وي لکه د ده اولاد ته چې ئې ښیي، د آدم علیه السلام قصه خو ئې د دې لپاره راوړې چې د ده اولاد ته وښیي چې پر تاسو مې دا او دا نعمتونه پېرزو کړي، تاسو ته مې پر ټولو مخلوقاتو فضیلت درکړ، پر ملائکو هم، د هر څه پېژندل او خاص نوم ورته وضع کول ستاسو هغه ځانګړتیا ده چې هیڅ مخلوق ته نه ده ورکړی شوې، په کوم ترتیب چې الله تعالی د آدم علیه السلام اولاد ته نومونه ښیي همداسې ئې آدم علیه السلام ته ښودلي، د آدم علیه السلام هر ماشوم چې پیدا شي نو هر څه ته لاس اچوي، یوه خوا بله خوا ئې ګوري، نوم ورته ږدي، مور، پلار، ډوډۍ او اوبو ته له خپلې خوا نومونه ږدي، په سر کې خوراك او څښاك په ژړا غواړي، چې لږ لوی شي خپلو ضروري شیانو ته داسې وړوکي وړوکي نومونه کېږدي چې خپله مور وربانديې پوهولی شي، که ئې مور پلار خپله ژبه ورباندې تحمیل نه کړي نو ځان ته به نوې ژبه او نومونه غوره کړي، آدم علیه السلام ته د نومونو د ښودلو معنی دا ده، نه هغه چې په اسرائیلي روایاتو کې راغلي.
- د ټولو شیانو علم له الله پرته هیچا ته ممکن نه دئ، آدم **علیه السلام** او اولاد ئې دا توان نه لري چې د ټولو شیانو نومونه زده او حفظ کړی شي، حافظه ئې دومره ظرفیت نه لري.
- دا خبره مو باید تل په پام کې وي چې قرآن د حق او باطل د پېژندو لپاره وروستی معیار او ملاك دئ، هره اختلافي خبره باید قرآن ته محول شي او یوازې هغه خبره حق وګڼو چې له قرآن سره موافق وي، روایت به د قرآن په تله تلو، نه دا چې د قرآن آیت د روایت لپاره تأویل کړو! دا خو هغه کار دئ چې اهل کتابو وکړ او په نتیجه کې ئې د الله کتاب شا ته وغورځاوو، په روایاتو پسې ولاړل او په

اختلافاتو اخته شول، حاشا و کلا چې صحابه دې هغه خبره وکړي چې قرآن نه وي کړې، صحابه خو د قرآن لومړي زده کوونکي او حاملان وو، تر هرچا ښه ورباندې پوه شوي وو، له هغه چا ئې مخامخ اورېدلې وو چې دا قرآن ورباندې نازل شوی وو، څنګه به هغوی د قرآن خلاف خبره کوي؟ که کله له داسې روايت سره مخامخ کېږو چې له قرآن سره اړخ نه لګوي نو د دې په ځای چې د قرآن آيتونه د روايت لپاره تأويل کړو بايد ووايو چې يا راوي اشتباه کړې او يا مروي عنه د اهل کتابو خبره کوله او اورېدونکي ګمان کړی چې دا د ده خپله خبره او رأيه ده او نورو ته ئې د ده د خبرې په توګه انتقال کړې. په رواياتو کې بې شمېره داسې روايات شته چې په اصل کې د اهل کتابو روايات دي خو صحابه وو ته منسوب شوي.

- د (علم آدم الاسماء کلها) تفسير بايد تر هر څه د مخه په خپله په قرآن کې ولټوو او وګورو چې (علَّم) په کومه معنی راغلی؟ قرآن مونږ ته د دې وضاحت کړی، د قرآن په رڼا کې په دې پوهېدل آسان دي چې آدم عليه السلام ته د اسماوو تعليم او ښوونه داسې ده لکه چې د ده اولاد ته د بيان د تعليم په اړه ئې فرمايلی: (علمه البيان: خبرې کول ئې وروښودل). الله تعالی انسان ته د وينا استعداد ورکړی، دا ښوونه داسې نه ده چې د پيدايښت له لومړۍ ورځې خبرې کولی شي، بلکې ورو ورو ئې زده کړي، همدا راز ئې د ټولو شيانو د پېژندو او هر يوه ته د خاص نوم ورکولو استعداد ورکړی.

- آدم عليه السلام له دې کبله په زمکه کې د خلافت لپاره تر فرشتو غوره دئ چې ده ته تر فرشتو د جامع علم او پوهې استعداد ورکړی شوی، چې له هر څه سره مخامخ شي نو د تفحص او تجسس حس ئې وهڅوي، د هغه پلټنه کوي، د هغه د پېژندلو هڅه کوي او په خصوصياتو ئې له پوهېدو وروسته هغه ته مناسب نوم غوره کوي.

- د انسان ټوله پوهه او علم د نومونو او اسماوو مجموعه ده، خو ګورو چې د نومونو غوره کول د انسان کار دئ، هغه په خپله د يوه شي له پېژندلو او جوړولو وروسته هغه ته مناسب نوم غوره کوي، همدا وجه ده چې په مختلفو قومونو کې د اشياوو نومونه بېل بېل دي. که دا نومونه الهامي وی بايد د آدم عليه السلام په

اولاد کې ثابت پاته شوي او له يوې پېړۍ بلې ته انتقال شوي وی.

- له بلې خوا د انسان د حافظې ظرفيت محدود دئ، يو معين شمېر الفاظ حفظ کولی شي، د ټول عالم د ټولو شيانو نومونه د ده په محدودي حافظې کې نه ځايېږي، داسي جامع او کلي علم يوازي له عليم الله سره دئ، نو آدم عليه السلام ته د هر څه د نوم ښودلو معنی دا ده چي آدم عليه السلام ته ئې د هر څه د پېژندلو او په مناسب نوم د هغه د نومولو استعداد ورکړ، په زمکه کې د خلافت لپاره همدا استعداد ضروري دئ، فرشتو ته دا استعداد نه دئ ورکړی شوی، د هغوی علم محدود دئ، هره ډله ئې يوازي د خپلې مشخصې دندې په اړه علم او پوهه لري.
- د فرشتو په نسبت دا غوره والی يوازي آدم عليه السلام ته مختص نه دئ بلکې د ده د ټول نسل لپاره دئ؛ دا ځکه چي د زمکې خلافت ده او د ده اولاد ته ورکړی شوی، بايد دا استعداد د ده په ټول نسل کې هم موجود وي.
- فرشتو ته امر شوی چي آدم عليه السلام ته سجده وکړي، په دې اړه د مفسرينو ترمنځ پوره اختلاف شته چي آيا دا سجده د تعظيم سجده وه که د شکر، آدم عليه السلام ته وه او که د آدم عليه السلام په لوري او الله تعالی ته. غوره رأيه دا ده چي فرشتې د آدم عليه السلام په وړاندي په انقياد او منني مکلف شوې، کېدی شي د دې انقياد د اظهار لپاره ئې کوم خاص حرکت هم ترسره کړی وي، لکه د ملا، ستورو او ونو له سجدې چی مراد کامل انقياد او منښه ده، نه د انسان په شان تندی پر زمکه اېښودل، دا ځکه چي دوی د انسان په شان نه دي چي ملا او زنګون ولري، کوپ شي او تندی پر زمکه کېږدي. د آدم عليه السلام په وړاندي د فرشتو له انقياد سره، د زمکې او آسمانونو هر څه انسان ته مسخر شول، دا ځکه چي ملائکې د دې عالم د چارو سمبالوونکې دي، د دوی له انقياد سره به هر څه د انسان په وړاندي منقاد او مسخر وي، لکه چي قرآن فرمايي:

وَسَخَّرَ لَكُم مَّا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعٗا مِّنۡهُۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَتَفَكَّرُونَ ١٣ الجاثيه:۱۳

او تاسو ته مو ټول هغه څه چي په آسمانونو کې دي او هغه څه چي په زمکه کې

دي مسخر کړل، يقيناً په دې کې هغه قوم ته نښې دي چې فکر کوي.

دا آيت په ډېر صراحت سره وايي چې فرشتې هم د عالَم د نورو شيانو په څېر انسان ته مسخر دي، د زمکې او آسمانونو هر څه به په هغه صورت کې انسان ته مسخر وي چې سمبالوونکې فرشتې ئې انسان ته منقادې وي، له دې معلومېږي چې دا د آدم عليه السلام په وړاندې د فرشتو انقياد يوازې د ده لپاره نه وو بلکې د ده د اولاد لپاره هم وو. موږ عملاً ګورو چې د کوم کار اراده کوو، که له زمکې ډېره را پورته کوو، له ونې مېوه را شکوو، له ډبرو اوسپنه راوباسو او موټرې او جهازونه ترې جوړوو، زموږ په ټولو کړو وړو کې فرشتې زموږ له ارادې سره سم خوځېږي او په دې ترتيب موږ ته د هغه کار د تر سره کولو توفيق را په برخه کېږي چې د کولو اراده ئې کوو، که داسې نه وی نو انسان به د جماداتو په څېر وو او په خپله خوښه به ئې د کوم کار د کولو توان او قدرت نه درلود.

انسان ته داسې فرشتې ټاکل شوې چې د ده څارنه کوي، هره خبره او هر عمل ئې ليکي، دا فرشتې هره دوشنبه او پنجشنبه ليکل شوې عمل پاڼې پورته وړي او ځای ئې نورې فرشتې نيسي. فرشتې د الله په عبادت کې لګيا وي، د الله اوامر ترسره کوي، د ده ستاينه کوي او مؤمنانو ته له الله بخښنه او مغفرت غواړي، لکه چې قرآن فرمايي:

ٱلَّذِينَ يَحۡمِلُونَ ٱلۡعَرۡشَ وَمَنۡ حَوۡلَهُۥ يُسَبِّحُونَ بِحَمۡدِ رَبِّهِمۡ وَيُؤۡمِنُونَ بِهِۦ وَيَسۡتَغۡفِرُونَ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْ رَبَّنَا وَسِعۡتَ كُلَّ شَيۡءٖ رَّحۡمَةٗ وَعِلۡمٗا فَٱغۡفِرۡ لِلَّذِينَ تَابُواْ وَٱتَّبَعُواْ سَبِيلَكَ وَقِهِمۡ عَذَابَ ٱلۡجَحِيمِ ٧ رَبَّنَا وَأَدۡخِلۡهُمۡ جَنَّٰتِ عَدۡنٍ ٱلَّتِي وَعَدتَّهُمۡ وَمَن صَلَحَ مِنۡ ءَابَآئِهِمۡ وَأَزۡوَٰجِهِمۡ وَذُرِّيَّٰتِهِمۡۚ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ٨ وَقِهِمُ ٱلسَّيِّـَٔاتِۚ وَمَن تَقِ ٱلسَّيِّـَٔاتِ يَوۡمَئِذٖ فَقَدۡ رَحِمۡتَهُۥۚ وَذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ٩ المؤمن:٧-٩

هغه چې عرش پر اوږو وړي او هغه چې شاوخوا ئې دي د خپل رب له ستاينې

سره تسبيح وايي، پر ده ايمان لري او هغو ته بخښنه غواړي چي ايمان ئې راوړی؛ (وايي) اې زموږ ربه! د رحمت او علم له پلوه هر څه ته په پراخه پيمانه رسېدلی يې، نو هغو ته بخښنه وکړه چي توبه ئې کړې او ستا د لاري متابعت ئې کړی او د دوزخ له عذاب ئې وساته، اې زموږ ربه! هغه تلپاتي جنت ته ئې ننباسه چي تا ئې ژمنه ورسره کړې او د دوی له پلرونو، د دوی له مېرمنو او د دوی له اولاد هغه هم چي صالح وي، يقيناً چي ته باحکمت عزتمن يې، له بديو ئې وساته، څوك چي ته په دې ورځ له بديو وساتې نو پېرزوينه دي پرې کړې، او دا همغه ستره بريا ده.

د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

- مؤمنانو ته هغه فرښتې دعاء کوي چي الله تعالی ته ډېري نږدې او مقربي دي، عرش پر اوږو وړي او د عرش شاوخوا کي د خپل رب په ستايني او تسبيح لګيا دي، هغه چي د مؤمنانو په څېر دي او پر الله تعالی ايمان لري، دوی هغو ته بخښنه غواړي چي ايمان ئې راوړی، په خپلو دعاګانو کي وايي: اې زموږ ربه! ستا رحمت او علم پراخ دئ، هر څه ئې احتوی کړي، د خپل رحمت او علم له پلوه هر څه ته په پراخه پيمانه رسېدلی يې، يعني ستا رحمت پر هر څه وزر غوړولی او هيڅ څه ستا د پراخ علم له دائرې بهر نه دئ پاته. هغو ته بخښنه وکړه چي توبه ئې کړې او ستا د لاري متابعت ئې کړی او د دوزخ له عذاب ئې وساته، ته د خپل رحمت له مخي د هغوی توبه قبوله کړه، ته ښه پوهېږې چي څوك په رښتينې توګه توبه کوي او څوك ستا د لاري متابعت کوي، اې زموږ ربه! هغه تلپاتي جنت ته ئې ننباسه چي تا ئې ژمنه ورسره کړې او د دوی له پلرونو، د دوی له مېرمنو او د دوی له اولاد هغه هم چي صالح وي، يقيناً چي ته باحکمت عزتمن يې. د مؤمنانو په اړه د فرشتو وروستۍ دعاء دا ده: اې زموږ ربه! له بديو ئې وساته، څوك چي ته په دې ورځ له بديو وساتې نو پېرزوينه دي پرې کړې، او دا همغه ستره بريا ده. د دې دعاء په تعبير کي د مفسرينو تر منځ د اختلاف شاهد يو، ځيني (يومئذ) د قيامت ورځ ګڼي او ځيني ئې د دنيا ننۍ ورځ، ځيني (السيئات) د ګناهونو سزا بولي او ځيني ئې په اصلي معنی نيسي او د بديو او ګناهونو په معنی ئې تعبيروي، غوره او دقيق تعبير د دوهمي ډلي تعبير دئ، په څو دلائلو: ۱- د دوزخ له اوره د مؤمنانو د

ژغورني دعاء تر دې وړاندې تېره شوې (وقهم عذاب الجحيم) تکرار ته ئې ضرورت نشته، ۲- د (السيئات) اصلي معنی گناه او بدي ده نه سزا ئې، صحيح نه ده چې اصلي معنی ئې له کومې اړتيا پرته پرېږدو او د سزا په معنی ئې ونيسو. ۳- د فرشتو دا دعاء د قيامت د ورځې دعاء نه ده چې يومئذ د قيامت ورځ وگڼو، نن او دغه مهال چې مؤمنان په دنيا کې ژوند کوي فرشتې هغوی ته دعاء کوي.

# پر فرشتو د ایمان غوښتني

څوك چي په دې حقيقت ایمان لري چي په دې عالم کي هر څه د الله په اراده او د الهي سننو سره سم او د هغو فرشتو په لاس ترسره کېږي چي د الله له لوري وربانديې ګمارل شوې هغه به نه یوازي دا چي په هیڅ حالت کي د یوازیتوب احساس نه کوي؛ بلکي د الله په معیت به ډاډه وي او باور به لري چي الله به ئې په خپلو نامرئي لښکرو تأیید کوي، لکه چي قرآن د بدر د جګړي په ارتباط فرمایي:

وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ ٱللَّهُ بِبَدْرٍ وَأَنتُمْ أَذِلَّةٌ ۖ فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ١٢٣ إِذْ تَقُولُ لِلْمُؤْمِنِينَ أَلَن يَكْفِيَكُمْ أَن يُمِدَّكُمْ رَبُّكُم بِثَلَٰثَةِ ءَالَٰفٍ مِّنَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةِ مُنزَلِينَ ١٢٤ بَلَىٰٓ ۚ إِن تَصْبِرُوا۟ وَتَتَّقُوا۟ وَيَأْتُوكُم مِّن فَوْرِهِمْ هَٰذَا يُمْدِدْكُمْ رَبُّكُم بِخَمْسَةِ ءَالَٰفٍ مِّنَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةِ مُسَوِّمِينَ ١٢٥

آل عمران:۱۲۳-۱۲۵

او یقیناً چي الله په بدر کي تاسو ته نصرت او بریا درکړه په داسي حال کي چي تاسو کمزوري وئ، نو له الله ووېرېږئ تر څو مو شکر کړی وي. کله چي تا مؤمنانو ته ویل: آیا دا درته کافي نه ده چي ستاسو رب مو په دریو زرو رالېږل شویو ملائکو مرسته وکړي؟ هو! که صبر او تقوی وکړئ او دوی په همدې شور ځوږ دربانديې راشي، نو ستاسو رب به مو په پنځو زرو نښانمنو ملائکو مرسته وکړي.

یعني د صبر او تقوی په نتیجه کي به الله تعالی د دښمن له شمېر سره برابرې فرشتې ستاسو مرستي ته رالېږي، که د دښمن فوځ درې زره وي نو الله به ستاسو مرستي ته درې زره ملائکي راولېږي، که پنځه زره شو پنځه زره به راولېږي، که

هغوی له شور ځوږ او مستۍ سره او ناڅاپي پر تاسو برید وکړي الله تعالی به هم ځانګړې ملائکې له خپلو خاصو نښانونو سره راولېږي، مه د دوی له شمېر وېره ولرئ او مه ئې له ظاهري شان شوکت.

همدا را ز فرمايي:

﴿إِذۡ يُوحِي رَبُّكَ إِلَى ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ أَنِّي مَعَكُمۡ فَثَبِّتُواْ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْۚ سَأُلۡقِي فِي قُلُوبِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱلرُّعۡبَ فَٱضۡرِبُواْ فَوۡقَ ٱلۡأَعۡنَاقِ وَٱضۡرِبُواْ مِنۡهُمۡ كُلَّ بَنَانٖ ١٢﴾ الانفال:١٢

هغه وخت چې ستا رب فرشتو ته وحي کوله چې زه درسره یم، نو هغه کسان ثابت قدمه کړئ چې ایمان ئې راوړی، ژر به د هغو خلکو په زړه کې وېره واچوم چې کافران شوي، نو سرونه ئې ووهئ او هر هر بند ئې ترې ووهئ. دا د دې لپاره چې له الله او د ده له رسول سره ئې مخالفت وکړ او څوک چې له الله او رسول سره ئې مخالفت وکړي نو یقیناً چې الله سخت عذاب ورکوونکی دئ. همدا دئ نو وئې څکئ او دا چې کافرانو لره د اور عذاب دئ.

د دې مبارکو آيتونو اساسي لارښووني دا دي:

- الله تعالی د بدر په جګړې کې ملائکو ته امر وکړ چې زه درسره یم، درومئ د مؤمنانو قدمونه ټینګ او عزم ئې مضبوط کړئ او په دوی کې صبر او استقامت راپیدا کړئ.
- مؤمنان دي ډاډه وي چې الله تعالی به حتماً د کافرانو په زړونو کې وېره او خوف اچوي، د هري نښتي پايله د جنګياليو په وېري او زړه ورتيا پوري تړلې ده، هغه لوری به بریا ترلاسه کوي چې په ډاډه او مطمئن زړه سره د دښمن مقابله کوي او هغه لوری به له ماتې سره مخامخ کېږي چې وېره ئې په زړه کې راولاړه شوې.
- مؤمنانو ته ویل شوي چې د جګړې په مهال خپله ټوله توجه دې خوا ته واړوئ چې د دښمنانو سرونه قلم کړئ او بندونه ئې قطع کړئ.

- دا د دوی د هغه مخالفت سزا ده چي له خپل رب او د ده له پيغمبر سره ئې کړی، شديد العقاب رب به دوی ته ستاسو په لاس همدا سزا ورکوي.
- دا په دنيا کې د دوی پايله ده او په آخرت کې ئې ځای د دوزخ اور دئ.

ځينو مفسرينو هغو رواياتو ته اعتبار ورکړی چي وايي: فرشتو د بدر په جګړې کې مخامخ او عملاً برخه اخيستې ده او د کافرانو د سرونو او بندونو په وهلو کې ئې ونډه درلوده، ځينو نورو ويلي چي دوی دا کار د مجاهدينو په لاس کړی، خو ځينو نورو دا روايات د اعتناء وړ نه دي ګڼلي، ځکه چي نه د آيت الفاظ دا مفهوم افاده کوي او نه دا د الله تعالی سنت دئ چي د فرشتو په ذريعه د کافرانو مقابله وکړي، د قرآن د وينا له مخې فرشتې د عذاب نازلولو لپاره ګمارل کېږي، نه د دې لپاره چي د مجاهدينو په څنګ کې له کافرانو سره وجنګېږي، که داسي وی نو يوه فرشته د ټولي نړۍ د کافرانو د مقابلې لپاره کفايت کوي.

آيت په صراحت سره وايي چي د فرشتو دنده يوازي دا وه چي د مؤمنانو زړونه مضبوط او قدمونه ټينګ کړي. د الله تعالی سنت دا دئ چي کافرانو ته د مجاهدينو په لاس سزا ورکوي.

همدا راز فرمايي:

ثُمَّ أَنزَلَ ٱللَّهُ سَكِينَتَهُۥ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ وَعَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ وَأَنزَلَ جُنُودًا لَّمْ تَرَوْهَا وَعَذَّبَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ۚ وَذَٰلِكَ جَزَآءُ ٱلْكَٰفِرِينَ ٢٦ التوبه:٢٦

بيا الله خپله ډاډېينه پر خپل رسول او پر مؤمنانو نازله کړه او هغه فوځونه ئې راولېږل چي تاسو نه ليدل او هغه کسان ئې تعذيب کړل چي کافران شوي وو او همدا د کافرانو سزا ده.

د احزابو د جګړې په ارتباط فرمايي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱذْكُرُوا۟ نِعْمَةَ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ جَآءَتْكُمْ جُنُودٌ فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحًا وَجُنُودًا لَّمْ تَرَوْهَا ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرًا ٩
الاحزاب:٩

اې هغو چې ایمان ئې راوړی! پر تاسو د هغه مهال الهي پېرزوینه درياد کړئ چې لښکري درته راغلې نو موږ سيلۍ پرې ولېږله او داسې لښکري چې تاسو ونه ليدلې، او الله د هغه څه ښه ليدونکی وو چې تاسو کول،

دا آيت د احزابو هغې سختې نښتې ته گوته نيسي چې د مسلمانانو په ضد ټول مخالفين يو ځای شوي وو، د قريشو تر مشرۍ لاندې پر مدينې د پرېکنده بريد لپاره خوځېدلي وو، غوښتل ئې له مسلمانانو سره خپله ستونزه د تل لپاره حل کړي، مدينه دا د اسلام ستر او يوازينی مرکز ونيسي، مسلمانان ترې وشړي او داسې څوک پرې مسلط کړي چې د دوی خوښ او د اسلام په ضد د دوی ملگري وي، يهودانو او منافقينو هم دوی ته په جنگ کې د ملگرتيا ډاډ ورکړی وو، د عربو په تاريخ کې تر ټولو ستر فوځ د بريد لپاره چمتو شوی وو، مسلمانانو د مخامخ مقابلې توان په ځان کې نه لېدو، د يوه خندق په کيندلو سره ئې غوښتل د دوی مخه ونيسي، محاصره نږدې يوه مياشت اوږده شوه، د اضطراب او پرېشانۍ حالت ئې داسې وو چې د ځينو زړونه پوړېدل، ځيني د الله تعالی د وعدو په اړه شکمن شول، ځينو تمنا کوله چې کاش په مدينه کې نه وی، ځينو د نفاق لاره غوره کړه او دښمن ته ئې د دوستۍ پيغامونه لېږل، الله تعالی دغه ستر فوځ په خپلو غيبي لښکرو مات کړ، سخته سيلۍ ئې پر دښمن مسلطه کړه، داسې چې آسونه او اوښان ئې تښتېدل، خيمې ئې ړنگې شوې، دېگونه ئې نسکور شول، له تېښتې پرته ئې بله چاره نه موندله، هغه ستر لښکر په څو شېبو کې خور وور شو، کله چې رڼا شوه او مسلمانانو د دښمن لوري ته وکتل هيڅوک ئې تر سترگو نشو، ډاگ ئې تش او سپېره وموند.

څوک چې په فرښتو ايمان لري او په دې باور وي چې الله تعالی د ده څارنه کوي او فرښتې د ده هره خبره او هر کار ليکي، هغه به په خپلو خبرو او په خپلو کړو وړوکي محتاط وي، د داسې څه له ويلو او کولو به ځان ساتي چې فرښتې ئې د گناه په توگه د ده په عمل پاڼه کې ثبتوي.

ډېره عجيبه ده چې انسان دې هم په دې باور ولري چې د ده ښي او چپ اړخ ته داسې حساس او دقيق څارونکي گمارل شوي چې هره شېبه، په هر حالت او په

هر ځای کې د ده هره خبره اوري او د ده هر څه ګوري او هغه لیکي، تر څو ئې په لیکلې توګه خبیر او بصیر خدای ته وړاندي کړي، خو سره له دې اعتقاد هغه د ګناه جرأت هم کوي!

همدا راز څوک چي له زړه په دې حقیقت باور ولري چي پدې عالم کې هر څه د الله تعالی په اراده او د الهي سننو سره سم، د هغو ملائکو په لاس ترسره کېږي چي د ټولو کارونو سمبالول ورته سپارل شوي، هغه به هیڅکله له پېښو او حوادثو مأیوس نشي، که څه هم په ظاهر کې خطرناکې او هیبت ناکې وي او د ده په ضرر، دا ځکه چي هغه په دې ایمان لري چي د دې عالم پېښې نه تصادفي دي او نه په خپل سر، هره پېښه د الله تعالی په اراده تر سره کېږي او خامخا د هغه تر شا کوم مصلحت او حکمت مضمر دئ.

# پر قضاء او قدر ایمان

# معنی

# دلائل

# او غوښتني ئې

# پر قضاء او قدر ایمان

د قضاء او قدر موضوع یوه له هغو مهمو اعتقادي موضوعاتو ده چې ډېر بحثونه پرې شوي، د علماوو تر منځ ډېر اختلاف پرې راولاړ شوی، دښمنانو ډېر اعتراضات پرې کړي، ډېرو ته تر ټولو پېچلې موضوع برېښېدلې، ځینو په دې اړه داسې څه ویلي چې موضوع ئې د توضیح په ځای مزید پېچلې کړې او خلکو ته ئې سؤالونه او شبهات راپیدا کړي، ځینو په دې اړه له بحث کولو ممانعت کړی او ویلي ئې دي چې باید په مجمله توګه ئې ومنو، له ژور او تفصیلي بحث ډډه وکړو. مخکې له دې چې تفصیلي بحث ته ننوځو باید ووایو چې په مختصره توګه په قضاء او قدر د ایمان معنی دا ده:

- الله تعالی د هر انسان او هر مخلوق برخلیك له مخکې ټاکلی، دا برخلیك نه بدلېدونکی دئ، هیڅوك او هیڅ څه نشي کولی په دې کې بدلون راولي.
- انسان یوازې هغه څه کولی شي چې الله تعالی ورته مقدر کړي، الله تعالی ئې وغواړي او ده ته ئې د کولو توفیق ورکړي.
- د عالم له پیدایښت تر قیامت پورې چې کومې پېښې رامنځته کېږي په لوح محفوظ کې لیکل شوې، هره پېښه به په خپل ټاکلي وخت او خپل ثابت ځای کې واقع کېږي.

کم علمه او د سطحي نظر خاوندانو ته په دې خبرو کې اشکال په نظر ورځي، ګمان کوي چې د دې عقیدې له مخې باید انسان داسې بې واکه، محکوم او مجبور مخلوق وګڼو چې په خپله خوښه او اختیار نه ښه کار کولی شي او نه بد، د خپلې دغې غلطې انګېرنې په اساس اعتراض کوي چې که د انسان برخلیك او مقدرات له

مخکې ټاکل شوي وي او په دې مقدراتو کې هيڅ ډول تغيير نشي راتلی، نو ولې به انسان د ښه يا بد عمل په سبب مکافات او مجازات کېږي؟!!

په مسلمانانو کې هم ځيني داسي دي چې د (تقدير) تر څنګ د (اختيار) منل ورته ګران برېښي او کله کله په دې اړه د داسي مغالطې مرتکب شي چې له هغې وتل او سمه لار موندل ورته محال شي. ځيني په هغو نصوصو استناد او استدلال کوي چې وايي: انسان خپله لار په خپله خوښه غوره کوي، د ده نېك او بد عمل د ده خپل انتخاب دئ، خوښه ئې د کفر لار او د شيطان ملګرتيا غوره کوي او که د ايمان لار او د الله تعالی بندګي، يوه ئې دوزخ ته بيايي او بله جنت ته، جنت د ده د نېکو عملونو بدله او دوزخ د ده د بدو عملونو سزا ده. او ځيني په هغو نصوصو تکيه کوي چې انسان د مقدراتو په وړاندې خاضع او تسليم ګڼي او مقدرات ثابت او تغيير نه منونکي. د قضاء او قدر په اړه چې کوم آيتونه او روايات راغلي، په تعبير کې ئې مسلمانان په دريو ډلو وېشل شوي:

۱. هغه چې انسان د مقدراتو په وړاندې داسي بې واکه، مجبور او محکوم مخلوق ګڼي چې برخليك ئې له مخکې ټاکل شوی، دی ئې د بدلولو توان نه لري، د ده افعال او کړه وړه نه د ده د خپلې ارادې زېږنده دي او نه ئې د خپل ذاتي توان او ځواك محصول، اراده ئې د الله تعالی د ارادې تابع او ځواك ئې الهي توفيق دئ، دا ډله د جبريه په نامه نومول شوې. د دوی د عقيدې او باور خلاصه دا ده:

- انسان په خپلو افعالو کې خپلواك نه دئ.
- ځيني انسانان سعيد او بختور او ځيني شقي او بد بخت پيدا شوي.
- ځيني انسانان د جنت لپاره پيدا شوي او ځيني د دوزخ لپاره،
- جنتي به خامخا د جنت کارونه کوي او دوزخي د دوزخ، نه دا خپل برخليك بدلوی شي او نه هغه!
- که الله تعالی څوك جنت يا دوزخ ته لېږي دا پوښتنه نه شي ترې کېدی چې ولې؟ که ټول انسانان دوزخ ته ولېږي نو ظلم ئې نه دئ کړی او که ټول جنت ته ولېږي بې عدالتي ئې نه ده کړې. دا ځکه چې ظلم هغه څه ته وايي چې څوك د

بل په مال او حق تېرى وکړي، انسانان ټول د ده مخلوق او دى ئې ټولواك دئ، د دوى په اړه هره پرېکړه د ده حق دئ.
۲- هغه چي د پورتنۍ ډلي په مقابل کي ده، انسان په خپلو افعالو کي مستقل او خپلواك ګڼي، د ده ټول افعال د ده د خپلي ارادې زېږنده بولي، د دوى له نظره جنت د مؤمن حق دئ چي خامخا ئې بايد ترلاسه کړي او دوزخ د کافر د بدو عملونو سزا ده چي بايد ورسره مخامخ شي، دوى د مخکنۍ ډلي عقيده او مجبوروونکى تقدير او برخليك د الهي عدل خلاف ګڼي، دوى د قدريه په نامه ياد شوي، چي د باور خلاصه ئې دا ده:

- د انسان هر عمل په خپله د ده له لوري دئ، هم بد عمل په خپله خوښه کوي او هم نېك عمل، مخکنۍ ډله د انسان ټول افعال الله تعالی ته منسوبوي او دوى ټول انسان ته منسوبوي.
- جنت ته به هغه څوك درومي چي د جنتيانو عمل ئې کړى وي او دوزخ به د هغه چا ځاى وي چي د دوزخيانو عملونه ئې کړي.

دا دواړه ډلي د خپلي عقيدې په ملاتړ کي په خاصو او ځانګړو نصوصو استناد کوي او د مقابل طرف د استناد وړ آيات تأويلوي او روايات ئې يا نه مني او يا ئې د آيتونو په څېر تأويلوي.

۳- د دغو دواړو ډلو په مقابل کي دربيمي ډلي منځنۍ لار غوره کړې، د انسان په نسبي اختيار او نسبي محکوميت باور لري. دوى د اهل سنت و جماعت په نامه يادېږي او د امت اکثريت جوړوي.

اهل سنت و جماعت په دې عقيده دي چي انسان نه مجبور مطلق دئ او نه مختار مطلق، بلکي په يوې محدودې کي د اختيار خاوند دئ، د دوى له نظره د انسان په اړه دا عقيده درلودل چي هغه په مطلقه توګه محکوم او مجبور دئ هم د واقع خلاف خبره ده، هم له څرګندو نصوصو سره متصادم او هم د الهي عدالت خلاف، عملاً ګورو چي انسان نه د جماداتو په څېر بي واکه او محکوم دئ او نه داسي فعال مايشاء چي هر څه ئې زړه وغواړي وئې کړى شي، خبره داسي نه ده بلکي د ځينو کارونو د کولو واك او اختيار لري او د ځينو له کولو عاجز او ناتوانه، د

همدغه واك او اختيار له كبله له هغه سره محاسبه كېږي، ده ته چي د كومو كارونو كول ممكن دي د هغوی له منځه د يوه انتخاب كولی شي، خو د ده په دې انتخاب چي كوم نتائج مرتب كېږي، دی ئې په خپله نه بلكي الله تعالی ئې پرې مرتب كوي، په دې لار كي چي دی له كومو لوړو ژورو سره مخامخ كېږي دا ټول د ده له واكه بهر شيان دي، كه هغه مجبور او بې اختيار وی نو نه محاسبه ورسره صحيح وه او نه ئې مجازات، دا ځكه چي د هغه چا مجازات او تعذيبول د عدالت خلاف كار دئ چي د اختيار او واك خاوند نه وي او د هر كار په كولو اړ شوی وي، الله تعالی په خپلو بندگانو ظلم نه كوي، څنگه به هغه څوك تعذيبوي چي بل گناه ته اړ كړی وي، الله تعالی خو د مجبوريت او اضطرار په وخت كي حرام كار هم انسان ته روا كړی.

جبريه د خپلي عقيدې د اثبات لپاره په دې آيت تر هر څه زيات استناد كوي:

وَٱللَّهُ خَلَقَكُمۡ وَمَا تَعۡمَلُونَ ٩٦ الصافات:٩٦

چي ترجمه ئې داسي كوي: او الله هم تاسو پيدا كړي يئ او هم ستاسو عملونه!

يعني دا تاسو نه يئ چي خپل عملونه ترسره كوئ بلكي ستاسو عملونه هم د الله تعالی له لوري پيدا كېږي!! د خپلو عملونو پرېكړه تاسو نه كوئ الله تعالی ئې كوي!!

د دغې ژباړي او استدلال په اړه بايد ووايو:

- دا ژباړه ناسمه او د آيت د مراد او مقصد خلاف ده. راشئ د دې آيت الفاظو ته لږ ځير شو او وگورو چي د آيت دقيقه او سمه ترجمه كومه ده؟ دا په اصل كي د ابراهيم عليه السلام د هغي جامع وينا يوه برخه ده چي خپل مشرك قوم ته ئې كړې، په صحيح ترجمې او معنی ئې په هغه صورت كي سم پوهېدی شو چي دا آيت او ترې مخكنی يو ځای په پام كي ونيسو، د دواړو آيتونو ترتيب داسي دئ:

قَالَ أَتَعۡبُدُونَ مَا تَنۡحِتُونَ ٩٥ وَٱللَّهُ خَلَقَكُمۡ وَمَا تَعۡمَلُونَ ٩٦

الصافات: ٩٥-٩٦

وئې ويل: آيا د هغه څه عبادت كوئ چي تاسو ئې (په خپله) تراشئ؟ حال دا چي

الله تعالی هم تاسو پیدا کړي يئ او هم هغه څه چي تاسو ئې جوړوئ.
په مخکني آيت کې د دوی بُتان د ماتنحتون په نامه ياد شوي او په وروستني آيت کې همدا (ماتنحتون) د (ماتعملون) په صيغه راغلي، يعني الله تعالی هم تاسو پيدا کړي يئ او هم هغه بتان چي تاسو په خپل لاس جوړ کړي.

دلته (ما تعملون) داسي دئ لکه په لاندنيو آيتونو کې چي راغلي:

أَوَ لَمْ يَرَوْاْ أَنَّا خَلَقْنَا لَهُم مِّمَّا عَمِلَتْ أَيْدِينَآ أَنْعَٰمًا فَهُمْ لَهَا مَٰلِكُونَ ٧١ يس: ٧١

آيا دي ته ئې پام نه دئ کړی چي موږ هغه څاروي ورته پيدا کړل چي زموږ لاسونو جوړ کړي او اوس ئې دوی خاوندان دي.

او يا دا آيت:

لِيَأْكُلُواْ مِن ثَمَرِهِۦ وَمَا عَمِلَتْهُ أَيْدِيهِمْۚ أَفَلَا يَشْكُرُونَ ٣٥ يس: ٣٥

ترڅو ئې مېوه او هغه څه وخوري چي دوی په خپلو لاسونو جوړ کړي، نو آيا شکر نه کوي؟!

نو د دې آيت (وَاللَّهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُونَ ) دا الفاظ (وَمَا تَعْمَلُونَ ) داسي تعبيرول چي الله تعالی د انسان عملونه پيدا کوي، غلط تعبير دئ، له دې آيت دا انتباه اخيستل چي انسان په خپل عمل کې هيڅ راز استقلال نه لري ډېره بې بنسټه انتباه ده.

همدا راز دا ډله په دې روايت ډېر استناد کوي:

عن عبد اللّه قال: «حدثنا رسولُ اللّه صلى الله عليه و سلم قال: إن أحدَكم يُجمَعُ في بطنِ أمِّه أَربعينَ يوماً، ثم يكون عَلَقةً مثلَ ذلك، ثم يكون مُضغةً مثلَ ذلك، ثمَّ يَبعثُ اللّهُ مَلَكاً فيُؤْمرُ بأربع: برِزقه وأجَلَه، وشقيّ أو سعيد. ثم ينفخ فيه الرّوح. فوَاللّه إنَّ أحدَكم ليَعملُ بِعملِ أهلِ النار، حَتى ما يكونُ بينه وبينَها غيرِ باعٍ أو ذراعٍ، فيَسبِقُ عليه الكتابُ، فيعمَلُ بعمل أهل الجنَّة فيدخُلها. وإن الرجل لَيعملُ بعملِ أهلِ الجنَّةِ حتى ما يكونُ بينَه وبينها غيرُ ذراعٍ أو ذراعين، فيَسبِق عليه الكتابَ، فيعمل بعمَلِ أهلِ النار فيدخلها». رواه البخاري

له عبد الله رضی الله عنه روایت دئ چي رسولُ اللّه صلی الله علیه و سلم مونږ ته دا خبره وکړه: یقیناً چي ستاسو هر یو د مور په رحم کي څلوېښت ورځي رایوځای کېږي، بیا همدومره موده ځوړند توکی وي، بیا همدومره موده ژوول شوې غوښې ته ورته وي، بیا الله تعالی یوه فرشته راولېږي او د څلورو شیانو (د لیکلو) امر ورته وشي: د ده رزق، اجل او دا چي شقي (بد بخت) به وي که سعید(بختور)، بیا روح په کي پو شي، نو په الله قسم چي ستاسو یو کس به د دوزخیانو عملونه کوي تر هغه چي د ده او دوزخ تر منځ به یوازي دوه یا یو لاس ( نیم گز) واټن پاته وي، خو (د مقدراتو) لیك پاڼه به ئې پرې وړاندي شي، نو د جنتیانو عمل به وکړي نو ورداخل به شي او یقیناً چي یو کس به د جنتیانو عمل کوي تر هغه چي د ده او جنت تر منځ به یوازي یو لاس ( نیم گز) واټن پاته وي، خو (د مقدراتو) لیك پاڼه به ئې پرې وړاندي شي نو د دوزخیانو عمل به وکړي نو ورداخل به شي.

د دې روایت په اړه لاندي ټکي د پام وړ دي:

- قدریه دا او دې ته ورته روایات د حدیث په توگه نه مني، نه ئې متن مني او نه ئې اسناد.

- دا د جبریه وو لپاره نه یوازي مستمسك او د استناد وړ دلیل نه شي کېدی بلکي د دوی د عقیدې په بطلان دلالت کوي، دا ځکه چي دلته جنت او دوزخ ته تگ د انسان په عمل پوري تړل شوی او په کي ویل شوي: فیعمَلُ بعمل أهل الجنّة فیدخُلها: نو د جنتیانو عمل به وکړي او د همدې عمل له کبله به جنت ته داخل شي، فیعمل بعملِ أهلِ النار فیدخلها: نو د دوزخیانو عمل به وکړي او د همدې په سبب به دوزخ ته داخل شي.

- د فرشتو دا کتابت؛ کتابت بالحکم نه دئ بلکي کتابت بالوصف دئ، لیکنه ئې داسي نه ده چي دا دي سعید یا شقي وي، بلکي داسي ده چي دا به سعید یا شقي وي، دا ځکه چي کتابت ئې له خلقته مخکي نه بلکي له خلقت وروسته دئ، او دا داسي ده لکه په یوې فابرېکې کي چي کومه دوا یا خوراکي توکی تولید شي او د فابرېکې مربوط هیئت د هغه له پاسه د دې خبرو د لیکلو هدایت ورکړي چي: د دې خصوصیات، گټه او تاوان به څه وي، عمر ئې څومره او ترکومي نېټې وروسته

خپل اصالت او خصوصيات له لاسه ورکوي او د استفادې وړ نه پاته کېږي.

• له دې روايته يوازي دا خبره ثابتېږي چي د هر انسان په اړه به د فرشتو ليکنه رښتيا وخېژي او لکه چي دوی ليکلي همداسي به يا د خپل عمل له کبله دوزخ ته ځي يا جنت ته. د دې روايت له هيڅ لفظ دا نه معلومېږي چي انسان بې اختيار او مجبور پيدا شوی.

جبريه په دې روايت هم ډېر استناد کوي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم قَالَ « احْتَجَّ آدَمُ وَمُوسَى ، فَقَالَ مُوسَى أَنْتَ آدَمُ الَّذِى أَخْرَجْتَ ذُرِّيَّتَكَ مِنَ الْجَنَّةِ . قَالَ آدَمُ أَنْتَ مُوسَى الَّذِى اصْطَفَاكَ اللَّهُ بِرِسَالاَتِهِ وَكَلاَمِهِ ، ثُمَّ تَلُومُنِى عَلَى أَمْرٍ قَدْ قُدِّرَ عَلَىَّ قَبْلَ أَنْ أُخْلَقَ . فَحَجَّ آدَمُ مُوسَى » رواه البَخاري

له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: آدم او موسی عليهما السلام په خپلو کې مناظره وکړه، نو موسی عليه السلام وويل: ته خو هغه آدم يې چي خپل اولاد دي له جنته وايستل او آدم عليه السلام ورته وويل: ته هغه موسی يې چي الله تعالی په خپل رسالت او کلام سره تا ته غوره والی درکړ، خو بيا ما په هغه کار ملامتوې چي زما له پيدايښت مخکي زما لپاره مقدر شوی وو! نو رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل چي آدم عليه السلام؛ موسی عليه السلام پړ کړ.

د دې روايت په اړه لاندي خبري په پام کې ولرئ:

دا روايت په بخاري کې پنځه ځلي راغلی، د سند له پلوه غريب دئ او په صحابه وو کې يوازي يو راوي لري، د متن له پلوه داسي دي چي تر منځ ئې دا ژور توپيرونه ترسترګو کېږي: په يوه کې أَنْتَ آدَمُ الَّذِى أَخْرَجَتْكَ خَطِيئَتُكَ مِنَ الْجَنَّةِ په بل کې أَنْتَ الَّذِى أَشْقَيْتَ النَّاسَ وَأَخْرَجْتَهُمْ مِنَ الْجَنَّةِ په بل کې أَنْتَ الَّذِى أَخْرَجْتَ النَّاسَ مِنَ الْجَنَّةِ بِذَنْبِكَ وَأَشْقَيْتَهُمْ په بل کې أَنْتَ أَبُونَا خَيَّبْتَنَا وَ أَخْرَجْتَنَا مِنَ الْجَنَّةِ په بل کې أَنْتَ آدَمُ الَّذِى أَخْرَجْتَ ذُرِّيَّتَكَ مِنَ الْجَنَّةِ راغلي، په يوه کې فَقَالَ لَهُ آدَمُ أَنْتَ مُوسَى الَّذِى اصْطَفَاكَ اللَّهُ بِرِسَالاَتِهِ وَبِكَلاَمِهِ ، ثُمَّ تَلُومُنِى عَلَى أَمْرٍ قُدِّرَ عَلَىَّ قَبْلَ أَنْ أُخْلَقَ » په بل کې قَالَ لَهُ آدَمُ أَنْتَ الَّذِى اصْطَفَاكَ اللَّهُ بِرِسَالَتِهِ ، وَاصْطَفَاكَ لِنَفْسِهِ وَأَنْزَلَ

عَلَيْكَ التَّوْرَاةَ قَالَ نَعَمْ . قَالَ فَوَجَدْتَهَا كُتِبَ عَلَىَّ قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَنِى قَالَ نَعَمْ . فَحَجَّ آدَمُ مُوسَى » په بل کي قَالَ آدَمُ يَا مُوسَى أَنْتَ الَّذِى اصْطَفَاكَ اللَّهُ بِرِسَالَتِهِ وَبِكَلاَمِهِ أَتَلُومُنِى عَلَى أَمْرٍ كَتَبَهُ اللَّهُ عَلَىَّ قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَنِى أَوْ قَدَّرَهُ عَلَىَّ قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَنِى » .
قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه و سلم- « فَحَجَّ آدَمُ مُوسَى په بل کي قَالَ لَهُ آدَمُ يَا مُوسَى اصْطَفَاكَ اللَّهُ بِكَلاَمِه ، وَخَطَّ لَكَ بِيَدِه ، أَتَلُومُنِى عَلَى أَمْرٍ قَدَّرَ اللَّهُ عَلَىَّ قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَنِى بِأَرْبَعِينَ سَنَةً . فَحَجَّ آدَمُ مُوسَى په بل کي قَالَ آدَمُ أَنْتَ مُوسَى الَّذِى اصْطَفَاكَ اللَّهُ بِرِسَالاَتِهِ وَكَلاَمِهِ ، ثُمَّ تَلُومُنِى عَلَى أَمْرٍ قَدْ قُدِّرَ عَلَىَّ قَبْلَ أَنْ أُخْلَقَ . فَحَجَّ آدَمُ مُوسَى

• جبریه وایي چي آدم علیه السلام د هغي مېوې په خوړلو اړ شوی، له مخکي د ده په تقدير او برخليك کي ليکل شوي وو چي دی دي حتماً دا مېوه وخوري، نو ځکه دی ملامت نه وو او موسی علیه السلام د اعتراض حق نه درلود.

• قدريه نه دا روايت مني او نه ئې اسناد صحيح گڼي. وايي: آدم او موسى عليهما السلام چېري له يوه بل سره ليدلي او دا مناظره کله او چېري واقع شوې؟ د دې ذکر نه په قرآن کي راغلی او نه په تورات کي.

• اهل سنت و جماعت د دې روايت په اړه د جبريه له تعبير سره موافق نه دي او په دې تعبير دا اعتراضات لري:

۱- په قرآن کي په ډېرو صريح الفاظو او په مکرره توگه آدم علیه السلام په دې کار ملامت کړی شوی، په خپله آدم علیه السلام او بي بي ئې هم دا کار گناه گڼي او له الله تعالی د معافي او مغفرت غوښتنه کوي.

۲- څنگه به الله تعالی له يوې خوا آدم علیه السلام ته د هغي مېوې د نه خوړلو امر کوي او له بلي خوا به ئې د همدې مېوې خوړلو ته اړ کوي؟ له داسي کاره خو يو شريف انسان هم ډډه کوي، څنگه الله تعالی ته د دې نسبت کوئ؟!!

۳- د آدم علیه السلام له ځوابه دا معنی نه شو اخيستی چي هغه خپل ځان له ملامتيا برئ گڼلی، دا ځکه چي په قرآن کي د ده اعتراف زمونږ مخي ته پروت دئ، له يوه روايت داسي تعبير راايستل چي د قرآن له گڼ شمېر آيتونو سره تصادم کوي،

له قرآن او حدیث سره جفا او بې باکي ده، له دې روایت له دې پرته بل تعبیر نه شو کولی چې آدم علیه السلام موسی علیه السلام ته وویل: له جنته ستاسو ایستل خو زما کار نه وو، دا پرېکړه خو الله تعالی کړې، الله تعالی به ولې زما د غلطۍ سزا تاسو ته درکوي؟! او د هغه چا له شأنه خو داسې اعتراض کول ډېر لرې دئ چې الله تعالی ورته د رسالت مقام او د کلام افتخار ورکړی وي!!

جبریه د قرآن په دغه آیت استناد کوي چې فرمایي:

وَمَا تَشَآءُونَ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٢٩ التکویر: ٢٩

او نه غواړئ تاسو (کوم څه) مګر دا چې الله د عالمونو رب ئې وغواړي.

په دې آیت کې یوې ډېرې مهمې اعتقادي موضوع ته اشاره شوې، داسې موضوع چې د مفسرینو ترمنځ د ډېرو ژورو او پراخو بحثونو باعث شوې او هغو خلکو ته ئې ډېرې ډېرې پوښتنې راولاړې کړې چې له قرآني مفاهیمو سره آشنا نه دي، دوی وایي: که زمونږ مشیت د الله د مشیت تابع وي او تر څو د عالمونو رب نه وي غوښتي زمونږ اراده او غوښتنه بې تأثیره ده! تر څو الله نه وي غوښتي زمونږ په زړه کې نه کومه تلوسه او تمنا راولاړېږي او نه د کوم کار د کولو عزم او اراده، که خبره داسې وي چې مونږ څه غواړو او د کولو اراده او عزم ئې کوو، الله ئې زمونږ په زړه کې راولاړوي او مونږ د هغه کار کولو ته هڅوي، نو مونږ ولې باید د داسې کار په اړه وپوښتل شو او د مکافات او مجازات مستحق وګڼل شو؟! تر څو ئې الله ونه غواړي مونږ ئې نه شو غوښتی، تر څو الله د کوم کار د کېدو اراده نه وي کړې مونږ ئې نه شو ترسره کولی، د هر څه غوښتنه او د هر کار د کولو اراده الله تعالی زمونږ په زړه کې اچوي، نو مونږ به ولې او په کوم دلیل په کومې ګناه نیول کېږو؟!! دا موضوع د (قضاء او قدر) په بحث پورې تړلې یوه اعتقادي موضوع ده او دې پوښتنې ته ځواب وایي چې آیا انسان (آزاد) او (مختار) پیدا شوی که (مجبور) او (محکوم)؟ آیا په خپلو کړو وړو کې له استقلال او خپلواکۍ برخمن دئ که د هغو مقدراتو په وړاندې محکوم دئ چې دی ئې په خپلو منګولو کې نیولی او د هر راز مخالفت او سرغړاوي امکان ئې ترې سلب کړی؟! او که د دې دواړو ترمنځ درېیمګړی حالت، نسبي آزادي او اختیار او نسبي محکومیت او مجبوریت؟ په دې

مطلب د ښه پوهېدو لپاره په کار ده چې لومړی په دې موضوع پورې د ټولو مفاهيمو په معنی ځان پوه کړو او بیا د دوی ترمنځ ارتباط او تړاو درك کړو او په پای کې د موضوع په حقیقت پوه شو. په موضوع پورې تړلي مفاهيم دغه دي:

## قدر

د قدر لغوي معنی اندازه، حد او توان دئ او د قضاء او قدر په مبحث کې په دې معنی راغلی چې الله تعالی هر څه په خاصه او معینه اندازه پیدا کړي، د مقدار لپاره ئې یو حد ورته ټاکلی، د ټولو شیانو د مقادیرو تر منځ ئې دقیق تناسب او تعادل رامنځ ته کړی، نه پرېږدي دا تعادل او توازن له منځه ولاړ شي، د توکیو ضروري مقدار کم یا زیات شي، د هر څه د پیدایښت، دوام او فنا لپاره ئې خاص اجل او نېټه ټاکلې، د هر څه د حرکت لپاره ئې د پیل او پای مسیر ټاکلی او هره پېښه په خپل ثابت وخت کې رامنځ ته کېږي.

نن ساینس همدغه خبره کوي چې د دې عالم د هر څه مقدار او اندازه ثابته او معینه ده، له ټولو هغو پرله پسې او مسلسل تحولاتو سره سره چې هره شېبه ئې هري خوا ته گورو، یو د تجزیې په حالت کې، بل د راټوکېدو په حالت کې، د یوه موجود شکل بدل شي او بل څه ترې جوړ شي، جامد په مایع او مایع په گاز بدل شي، خو له دې ټولو سره سره نه دا ثابت مقادیر بدلېږي او نه ئې ترمنځ تعادل او توازن، په عالم کې شته (تقدیر) نه بدلېدونکی دئ او په عالم کې ترسترگو کېدونکي تغییرات ئې نه شي بدلولی. که په دې (تقدیر) کې ډېر لږ بدلون او تغییر راشي او دا شته توازن او تعادل له منځه ولاړ شي، نه به د زمکې پر سر ژوند ممکن وي او نه به د دې عالم دوام، هر څه به متلاشي کېږي او دا ټول کائنات به له منځه ځي!! ساینس نن په جگ غږ اعتراف کوي چې د عالم هر توکی له پیدایښت تر زړښت او مرگ پورې ثابت او معین مسیر پلی کوي..

په لاندنيو آیتونو کې قدر په دغه معنی راغلی:

وَجَعَلَ فِيهَا رَوَاسِيَ مِن فَوْقِهَا وَبَارَكَ فِيهَا وَقَدَّرَ فِيهَآ أَقْوَاتَهَا فِيٓ أَرْبَعَةِ أَيَّامٍ

سَوَآءٗ لِّلسَّآئِلِينَ ١٠ فصلت:١٠

او په هغې(زمکې) کې ئې غرونه ورباندې راپیدا کړل او برکت ئې پکې واچاوو او په څلورو ورځو کې ئې په هغې کې د رزق غوښتونکو له غوښتنې او اړتیا سره سم د رزق اندازه وټاکله.

یعنې ټول هغه څه ئې پکې راپیدا کړل چې د زمکې ټول رزق غوښتونکې ورته ضرورت لرې.

او یا فرمایې:

سَبِّحِ ٱسۡمَ رَبِّكَ ٱلۡأَعۡلَى ١ ٱلَّذِي خَلَقَ فَسَوَّىٰ ٢ وَٱلَّذِي قَدَّرَ فَهَدَىٰ ٣ الاعلى: ١-٣

د خپل اعلی رب نوم په پاکۍ سره یاد کړه، هغه چې (هرڅه) ئې پیدا کړل او برابر ئې کړل او هغه چې اندازه او هدایت ئې کړل.

لومړی آیت دوو مطالبو ته اشاره کوې:

الف: ستا پالونکی رب (لوړ) دئ، لوړ تر هر هغه څه چې په دې عالم کې ستا تر سترګو کېږې، لوړ تر دې چې ستا په خیال، وهم او ګمان کې وګرځې، په دې پراخ عالم کې هیڅ څه هغه ته ورته نه شې موندلی.

ب: د خپل لوړ رب نوم په پاکۍ یادکړه، په څو معنی:

اولاً: پام چې د الله تعالی په اړه د بحث په دوران کې کوم عیب او نقص ورته منسوب نه کړې، الله تعالی تر دې لوړ دئ چې په ذات او صفاتو کې ئې څه کمی او عیب وې.

ثانیاً: الله تعالی په داسې نامه مه یادوه چې د ده له عظمت او شأن سره نه ښایې، الله تعالی غوره نومونه لرې، په دغو غوره نومونو سره ئې یادوه، باید پوره محتاط وې چې د الله د یادولو او ذکر په وخت کې داسې نوم ونه کاروې چې د الله تعالی په شأن کې بې ادبې ګڼل کېږې، د الله ذکر خاص ادب او ځانګړی فرهنګ او قاموس لرې، د ځان پاکوالی، د زړه حضور او د روح خشوع، د دې مقدس مقام آداب دې، څوک چې له دې پرته بل حالت ولرې، بې ادبې ئې کړې، همداراز د ذکر په دوران کې

هغه نومونه کارول چي له دې خاص او ځانګړي قاموس څخه نه وي اخيستل شوي، الحاد او له اصلي لاري کږېدل دي، څوك چي د مستۍ او بې خودۍ په حالت کې، له جذبې او ساز او سرود سره الله يادوي بې ادبي کوي، څوك چي الله د ساقي، صنم، دلبر، معشوق، پيرمغان او ... په نامه يادوي بې فرهنګه دئ، د الهي ذکر له قاموسه بې خبره او د الله تعالی د ذکر له آدابو بې برخي.

۲ـ ستا پالونکی رب همغه دئ چي دا ټول پيدا شوي ئې پيدا کړي، نه يوازي دا چي هغه ئې پيدا کړي بلکي (سم) ئې پيدا کړي، د دې عالم هر څه ښه، ښايسته، موزون او دقيق پيدا شوي، له يوې خوا د دوی (وجود او شته والی) په دې دلالت کوي چي حتماً يو (پيدا کوونکی) لري، له بلي خوا د دوی سم، دقيق او موزون خلقت په دې شهادت ورکوي چي (پيدا کوونکی) ئې (اعلی) او (لوړ) دئ. د هر څه پيدايښت له نشت پيل کړي، ورو ورو ئې کمال او د سموالي وروستي پړاو ته ورسوي، له (پيدايښت) او (تسويې) علاوه دوې نوري ځانګړتياوي هم د ده په مخلوقاتو کې ګورو:

الف: هغه ثابته او معينه اندازه چي د دوی په (مقدار) کې مراعات شوې.

ب: هغه لارښووني چي د هر څه په فطرت او خټه کې اېښودل شوې.

د دې عالم خالق او پالونکي رب هر څه د ضرورت په اندازه پيدا کړي، نه تر ضرورت کم او نه زيات، هيڅوك نه شي کولی د دې پراخ عالم په غبړ کې کوم داسي (اضافي) او (غيرضروري) شی ومومي چي هسي او بې له کومي ګټې ئې دلته کوم (ځای) اشغال کړی وي!! همداراز نه شي کولی د داسي کوم څه نوم واخلي چي په دې عالم کې ئې ځای تش او خالي وي، د دې عالم د توکيو په (مقدار) او د دوی ترمنځ (تناسب) کې چي کومه (اندازه) مراعات شوې دومره دقيقه ده چي په هغه کې ډېر لږ تغيير او تعديل د ټول عالم د متلاشي کېدو باعث کېږي!! هر شئ په خپل ځای او مقدار کې داسي دقيق پيدا شوی چي که له منځه ولاړ شي او يا ئې اندازه او مقدار کم او زيات شي، د ټول عالم بقاء له ګواښ سره مخامخ کوي.

پالونکي رب چي هر څه پيدا کړي هغه ته ئې لارښوونه او (تلقين) کړی چي دنده ئې څه ده او دلته به د خپل شتون په دوران کې کوم کوم کارونه ترسره کوي،

کوم خالي ځای به ډکوي، په کوم مسیر کې به خوځي، کوم نتائج به وړاندي کوي. مګر نه ګورئ چي لمر په خاص وخت کې له خاص ځایه راخېژي، په معین مسیر کې درومي، د یوې معیني مسافې له پلې کولو وروسته په خاص وخت کې، په داسي ځای کې پرېوځي چي له مخکي ورته ټاکل شوی، خپل مأموریت ترسره کوي، تاسو ته رڼا او تودوخه درکوي، ستاسو، حیواناتو او نباتاتو اړتیاوو ته ځواب وایي، ستاسو په خدمت کې دئ، د دانې او مېوې په پیدایښت کې ممد او د رزق او روزي په درکولو کې درسره مرسته کوي، سپوږمۍ د شپې رابره کېږي، ستاسو تیاره شپې روښانه کوي او ستاسو لپاره په تیارو شپو کې روښانه او څرګند تقویم، چي د شپو ورځو حساب پرې معلومولی شئ.

ونې ګورئ چي شپه ورځ په کار بوختي وي، زیار باسي، مضر ګازونه جذبوي او ستاسو د اړتیا وړ اکسیجن تولیدوي، د زمکي له خاورو په خپلو نازکو جرړو سره هغه حیاتي مواد جذبوي چي ته ورته ضرورت لرې او د لمر د وړانګو په مرسته له دغو موادو تا ته ښایسته او خوندوري مېوې جوړوي.

د شاتو موچۍ ګورئ چي له دې وړوکتوب او نازکتوب سره سره څومره منظم او ښایسته کور ځان ته جوړوي، داسي منظم کور چي د نړۍ ستر مهندسین ئې په ډېرو مجهزو وسائلو هم له جوړولو عاجز دي، له داسي توکیو ئې جوړوي چي د شاتو په څېر شی په کې تر اوږدې مودې خوندي او روغ رمټ ساتلی شي، په دې پوهېږي چي څنګه د خپلي خوښي (ملکه) او (واکمن) ځان ته غوره کړي، د زور پاچایي نه مني، په ډېر ښه شان خپل وظائف په خپلو کې وېشي او دا استعداد لري چي په خپل ملك کې دقیق نظم پلی کړي، په کوم کې چي هم د دندو وېش عادلانه وي، هم د نظافت او صفایي خیال ساتل شوی وي او هم د پردیو او د هغو موچیو له ننوتو مخنیوی وشي چي له ناپاکو وزرونو او پښو سره د دوی پاك او صفا کور ته ننوتل وغواړي، د کور په دروازه کې حساس او هوښیار پهره داران ودروي او هر ننوتونکی څاري او یوازي په هغه صورت کې د ننوتو اجازه ورکوي چي (خپل) وي او (پاك ستره) وي، په دې پوهېږي چي څنګه د ګلانو عصاره وزبېښي او شات ترې جوړ کړي، داسي شات ترې جوړ کړي چي د کلونو کلونو په تېرېدو هم نه ګنده کېږي، د انسان د ډېرو بیماریو لپاره درمل دئ او انسان تر اوسه له خپل ټول مخکي

تگ او مجهزو لابراتوارونو سره سره د هغه له تولیده عاجز دئ، خو همدا وړه حشره ئې هم پیدا کولی شي او هم ئې تر اوږدې مودې صفا، ستره او روغ رمټ ساتلی شي!! چا به حتماً دې ته په غوږ کې ویلي وي چې څنگه والوزي، څنگه له هغه وروسته خپل کور ته بېرته راستنه شي او لار ورکه نکړي چې د گلانو په لټه کې، په پراخي فضاء کې څو څو کیلومتره لرې ځي، بېرته راگرځي او له کومې اشتباه او غلطۍ پرته د خپل کور دروازه پیدا کوي!!

مونږ داسې مرغان هم مومو چې بچوړي ئې هیڅکله خپله مور نه گوري، مور ئې د زېږښت په وخت کې په یوه خوندي ځای کې څو پوړیزه ځاله جوړه کړي، داسې چې کافي نور او حرارت وررسېدی شي، په هرې برخې کې یوه هگۍ واچوي او خوا ته ئې د خپل بچوړي اړتیا وړ کافي مقدار خوراك کېږدي، بیا د هرې ځالې خوله وربنده کړي، دا د خپلو بچوړو له راوتو مخکې ومري، بچوړي ئې له هگیو راووځي، په هماغه خوراك تر هغو گوزاره کوي چې ستر شي او د الوتو جوگه، نو د ځالې خوله پرانیزي، بهر راووځي او د خپلې مور په څېر ئې ژوند او خوی او عادت وي او د ژوند په پای کې د خپلې مور په څېر ځاله جوړه کړي، هگۍ په کې واچوي، خولې ئې وربندې کړي او ومري. ووایئ: څوك دغو مرغانو ته چې خپله مور ئې نه ده لیدلې، معلم او استاد هم نه لري، لارښوونه کوي او ورته وایي چې ستا د پلار نیکه د ژوند طریقه دا وه؟! یقیناً چې الله تعالی هر څه پیدا کړي او هر یوه ته ئې د خپل فطرت او طبیعت مطابق لارښوونه کړې.

د عالَم په ټولو مخلوقاتو کې یوازې انسان داسې مومو چې د هغو فطري لارښوونو تر څنگ چې د ده په ضمیر کې اېښودل شوې هم مور ته شدیداً اړ وي او هم مرشد او لارښود ته. له دې پرته نه سم ژوند کولی شي او نه کمال ته رسېدی شي.

د غرڅه بچی په دې پوهېږي چې څه وخت د واښو خوړل پیل کړي او د غرونو په پراخو لمنو او لویو دښتو کې، چې له راز راز بوټو ډکې وي، کوم بوټی وخوري او د کوم یوه له خوراکه ځان وساتي. خو د انسان (بچی) تر اوږدې مودې نه شي کولی چې په خپل وړوکي کور کې ښه او بد وپېژني او مفید له مضره بېل کړي، هم اور ته لاس غځوي او هم ډبره، لوټه او حتی زهر په خوله منډي. نه اور ته له ځان اچولو

ډېره کوي او نه اوښو ته، (لارښود) او مرشد ته اړتیا د ده د فطرت مقتضا ده.

ستا رب هماغه ذات دئ چي بوټي راشنه کوي، هماغه ذات چي په اراده ئې د زمکي له کلك او سخت پوټکي نازك او ښایسته بوټي راټوکېږي او هیڅوك د دغو رنګ رنګ بوټو په پیدا کولو کي د ده د فعل شریك نه دئ، همدا ستا رب دئ. ته زمکه وسپړې، مړه دانه په کي وکرې او ستا رب ئې د داسي شنه او ښایسته بوټي په څېر راوباسي چي ژوندی دئ، احساس لري، وده کوي، د خپل نسل د دوام بند وبست کوي او څو دانې په عوض کي درکوي.

په بل ځای کي فرمایي:

وَٱلشَّمۡسُ تَجۡرِي لِمُسۡتَقَرّٖ لَّهَاۚ ذَٰلِكَ تَقۡدِيرُ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡعَلِيمِ ٣٨ وَٱلۡقَمَرَ قَدَّرۡنَٰهُ مَنَازِلَ حَتَّىٰ عَادَ كَٱلۡعُرۡجُونِ ٱلۡقَدِيمِ ٣٩ یس:٣٨-٣٩

او لمر خپل تم ځای ته درومي، دا د یوه عزتمن ذات ټاکلي اندازه ده او سپوږمۍ ته مو منازل ټاکلي، تر هغه چي د خرما د وني د زړې څانګي په څېر شي.

هم لمر ته د تلو راتلو مستقر او تم ځای ټاکل شوی چي په همدې معین او ثابت مسیر کي درومي او هم سپوږمۍ ته له مختلفو مراحلو او منازلو د تېرېدو مدار وضع شوی چي په همدې مسیر کي د حرکت له کبله ورو ورو وړېږي، ان تر دې چي د ووړوالي له کبله زړې څانګي ته ورته شي او بیا له نظره پټه شي. دا هغه مقدرات او ټاکلې اندازې دي چي د یوه عزتمن او ځواکمن الله له لوري وضع شوې، همغه چي لمر سپوږمۍ د ده په اراده خوځي او شپه ورځ د ده په اراده ځي راځي.

او په دې اړه چي هر څه ئې د یوې ثابتي او ټاکلې اندازې سره سم پیدا کړي، فرمایي:

ٱلَّذِي لَهُۥ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَلَمۡ يَتَّخِذۡ وَلَدٗا وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ شَرِيكٞ فِي ٱلۡمُلۡكِ وَخَلَقَ كُلَّ شَيۡءٖ فَقَدَّرَهُۥ تَقۡدِيرٗا ٢ الفرقان:٢

هغه ذات چي د آسمانونو او زمکي پاچایي د ده ده، نه ئې زوی نیولی (چي د ده ځای ناستی شي) او نه ئې په واکمنۍ کي کوم شریك شته (داسي څوك هم نشته

چي د زمکې او آسمانونو په اداره کې له هغه سره شريك وي) او هر څه ئې پيدا کړل او ځانګړې اندازه ئې ورته وټاکله.

په بل ځای کې فرمايي:

وَيَرۡزُقۡهُ مِنۡ حَيۡثُ لَا يَحۡتَسِبُۚ وَمَن يَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِ فَهُوَ حَسۡبُهُۥٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ بَٰلِغُ أَمۡرِهِۦۚ قَدۡ جَعَلَ ٱللَّهُ لِكُلِّ شَيۡءٖ قَدۡرٗا ٣ الطلاق: ٣

او چا چې پر الله توکل وکړ نو هغه ورته کافي دئ يقيناً چې الله خپل کار ته رسېدونکی دئ (څه چې وغواړي ترسره کوي ئې) يقيناً چې الله هر څه ته يوه اندازه ټاکلې (د پيدايښت لپاره ئې، د پای لپاره ئې او د مقدار لپاره ئې).

همدا راز فرمايي:

أَلَمۡ نَخۡلُقكُّم مِّن مَّآءٖ مَّهِينٖ ٢٠ فَجَعَلۡنَٰهُ فِي قَرَارٖ مَّكِينٍ ٢١ إِلَىٰ قَدَرٖ مَّعۡلُومٖ ٢٢ فَقَدَرۡنَا فَنِعۡمَ ٱلۡقَٰدِرُونَ ٢٣ المرسلات: ٢٠-٢٣

آيا له سپکو کرکجنو اوبو مو پيدا نه کړئ او آيا هغه مو په مضبوط ځای کې ځای په ځای نه کړ؟ تر يوې معلومې نېټې؟ نو وتوانېدو او همدا راز ښه توانېدونکي يو.

په دې آيتونو کې د بياژوندون د اثبات لپاره يو بل مضبوط دليل وړاندې شوی، د انسان د پيدايښت په څرنګوالي باندې استناد سره د بياژوندون امکان ثابتوي، په دې شرح:

الف: مګر تاسو مو د اوبو له يوه کرکجن څاڅکي پيدا نه کړئ؟ ولې مجدد خلقت درته ګران او مستحيل برېښي؟

ب: آيا د (رحم) په تياره دنيا کې ستاسو استقرار او په هغه کې تر معينې نېټې او مودې ستاسو توقف او بيا مو له هغې تنګې او تيارې نړۍ د زمکې د سر پراخې او روښانه نړۍ ته راتګ، دا نه ثابتوي چې له يوې دنيا بلې ته انتقال مو يو ځل آزمويلی بيا به ئې هم آزمويئ؟ د زمکې په (رحم) او تنګې محدودې غېږ کې له توقف وروسته به د آخرت پراخې نړۍ ته درومئ.

ج: هغه ذات چي په دې وتوانېدو تاسو له يوه څاڅکي اوبو پيدا کړي، د مور په رحم کي مو ځای په ځای کړي او له هغي تنگي دنيا مو بلي ته راولي، آيا هغه به په دې لا ښه قادر او توانا نه وي چي بيا مو راژوندي کړي؟ څنگه او په کوم دليل دا مجدد بعثت نه منئ او ترې انکار کوئ؟

له دغو آيتونو په ډاگه معلومېږی چي الله تعالی هر څه په يوه معينه اندازه پيدا کړي، د هر څه د مقدار او اندازې لپاره ئې ثابت حد ټاکلی، د ټولو مخلوقاتو د اندازې او مقدار ترمنځ ئې دقيق تناسب او تعادل رامنځته کړی، نه پرېږدي دا تعادل او تناسب ختم شي او د اشياوو مقدار کم يا زيات شي، هر څه ته ئې د خوځېدو لپاره ثابت مسير ټاکلی، د پيدايښت، دوام او فنا لپاره ئې معينه نېټه او اجل ټاکلی، هر څه به په خپل معين وخت کي ترسره کېږي.

نن ساينس په دې حقيقت چي قرآن څوارلس پېړۍ مخکي ويلی اعتراف کوي چي د کائناتو هر څه معين او ثابت مقدار لري، په دې عالم کي د ټولو تحولاتو بدلونونو او د يوې مادې په بلي د بدلېدو سره سره دا ثابت مقدار او د اشياوو ترمنځ تناسب او تعادل په خپل حال پاته کېږي او په هغه کي هيڅ تغيير نه راځي. که په دې تناسب کي ډېر کم تغيير راشي، د دنيا په سر به د ژوند امکانات ختمېږی او د عالم دا موجوده نظم به متلاشي کېږي.

همدا راز ساينس په دې خبري اعتراف کوي چي هر څه له پيدايښت تر کهولت او زړښت او بيا تجزيې پوري ثابت مدار پلی کوي او معين عمر لري.

## قضاء

له قضاء هغه سنن او ضوابط مراد دي چي په ټول عالم او د کائنات په هري برخي حکومت کوي، همغه چي مونږ ئې مظاهر په خپلو سترگو گورو، گورو چي هر څه د دغو سننو او ضوابطو په وړاندي محکوم او مقهور دي، هيڅ څه او هيڅوك له دې ضوابطو د سرغړاوي مجال نه شي ترلاسه کولی، په دې عالم کي هرکار د دغو سننو او ضوابطو مطابق ترسره کېږي، نه کوم ستر کار او نه کوم ووړ کار، نه کوم عادي خوځښت او نه پراخ او ستر حرکت، هيڅ څه دغو ضوابطو ته له کامل انقياد پرته نه شي ترسره کېدی، د عالم د هر ستر او ووړ توکي پيدايښت، ارتقا، د

کمال اوج ته رسېدا، له هغه ځایه ئې د ضعف او ناتوانۍ په لوري د خوځښت پیل، په مرګ محکومېدا او خپل ځای بل ته پرېښودل، دا ټول د هغو سننو او ضوابطو مطابق ترسره کېږي چي دا عالم ئې په خپلو منګولو کي نیولی، د قرآن په قاموس کي دغه سنن او ضوابط د (قضاء) په نامه يادېږي.

انسان نن په دې حقيقت پوه شوی چي د دې پراخ او ستر عالم هر څه د خاصو قوانينو او ضوابطو په وړاندي منقاد دي او هر څه د دغو قوانينو مطابق ترسره کېږي، که دا د توکو پيدايښت دئ، په خپلو کي د عناصرو ترکيب دئ، د ژوو زېږېدا، وده، زړښت، مرګ او تجزيه کېدل دي، د شيانو حرکت، سرعت، راپرېوتل او ويشتل دي او که هر بل کار او هر حرکت، دا ټول د هغو ضوابطو مطابق ترسره کېږي چي ساينس ئې د (فارمول) په نامه يادوي او قرآن ئې د قضاء په نامه.

په قرآن عظيم الشأن کي قضاء اکثراً د فيصله کولو، امر صادرولو او پای ته رسولو په معنی راغلی لکه چي راځي:

وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْكِتَـٰبَ فَٱخْتُلِفَ فِيهِ ۗ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِن رَّبِّكَ لَقُضِىَ بَيْنَهُمْ ۚ وَإِنَّهُمْ لَفِى شَكٍّ مِّنْهُ مُرِيبٍ ﴿١١٠﴾ هود:١١٠

او بې شکه چي موسی ته مو کتاب ورکړ، خو په هغه کي اختلاف وکړی شو او که چېري ستا د رب هغه کلمه (پرېکړه، سنت او قضاء) نه وی چي مخکي (صادره) شوې نو حتماً به د دوی ترمنځ پرېکړه شوې وه او يقيناً چي دوی د هغه په اړه په حيرانوونکي شك کي دي.

يعني که د الله هغه سنت او حکم نه وی چي تر يوې معيني نېټې يا د قيامت تر ورځي له دوی انتقام او د دوی تعذيب ځنډوي، نو د اختلاف کولو سره متصل به د دوی ترمنځ وروستۍ فيصله شوې وه او ظالمان به فوري تعذيب شوي وو.

له دې آيت معلومېږی چي الله تعالی له بنده سره په خپلي معاملې کي ثابت سنن لري، چي د هغه مطابق د ده کړو وړو ته سزا او جزاء ورکوي، که څه هم هغه د الله په کتاب کي اختلاف کړی وي او د ده د استازي او پيغمبر مخالفت ته ئې ملا تړلې وي، داسي نه ده چي له مخالفت سره سم له کومي قاعدې او ضابطې

پرته دوی مؤاخذه کړي او الهي عذاب پرې نازل شي.

همدا راز فرمايي:

﴿وَٱللَّهُ يَقْضِي بِٱلْحَقِّ وَٱلَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِهِۦ لَا يَقْضُونَ بِشَيْءٍ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْبَصِيرُ ٢٠﴾ غافر:٢٠

او الله په حقه سره فيصله کوي او هغه چي له الله پرته ئې (مرستي ته) وربلي په هيڅ شي قضاوت او فيصله نه کوي، يقيناً چي الله اورېدونکی ليدونکی ذات دئ.

يعني د الله تعالی قضاوت او فيصله په حق مبتني ده، هغه ته ټول حقائق څرګند دي، د خلکو ترمنځ چي څه تېرېږي هغه اوري او ويني، خو له الله پرته چي خلك کوم څه يا کوم څوك مرستي ته وربلي او په الوهيت او ربوبيت کي ئې له الله سره شريکوي، نه د پرېکړو او فيصلو صادرولو واګي او اختيارات دوی ته سپارل شوي او نه په کوم حق او واقعيت مبتني قضاوت کولی شي. د پرېکړو او فيصلو صادرولو اختيارات او واګي ټولي له الله تعالی سره دي او په دې کي هيڅوك له الله تعالی سره شريك نه دئ.

په بل ځای کي راځي:

﴿هُوَ ٱلَّذِي خَلَقَكُم مِّن طِينٍ ثُمَّ قَضَىٰٓ أَجَلًا وَأَجَلٌ مُّسَمًّى عِندَهُۥ ثُمَّ أَنتُمْ تَمْتَرُونَ ٢﴾ الانعام: ٢

دی هغه ذات دئ چي تاسو ئې له خټې راپيدا کړئ، بيا ئې د ثابتي نېټې پرېکړه وکړه (د مرګ لپاره ئې معينه نېټه وټاکله) او (د قيامت د ورځي) ثابته نېټه له ده سره ده (دا نېټه ئې له ځان سره ساتلې او چا ته ئې د هغې علم نه دئ ورکړی)، بيا تاسو (سره له دې د بعثت په اړه) شك کوئ.

له دې آيت معلومېږي چي د پېښو او کارونو ترسره کېدو لپاره ثابتي نېټې وضع شوې، الله تعالی د دې پرېکړه کړې چي کوم کار کله ترسره شي؟ همدا راز له دې آيت معلومېږي چي کېدی شي ځيني پېښي داسي وي چي انسان د هغه د وقوع د نېټې په اړه نسبي علم تر لاسه کړي، خو د قيامت د قيام نېټه يوازي الله ته

معلومه ده.

هُوَ ٱلَّذِي يُحۡيِۦ وَيُمِيتُۖ فَإِذَا قَضَىٰٓ أَمۡرٗا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ٦٨

غافر: ٦٨

دی همغه ذات دئ چي ژوند ورکوي او مړول کوي (وژني)، او کله چي د کوم کار پرېکړه وکړي نو فقط ورته وايي: وشه، نو کېږي.

يعني د کوم چا په اراده چي تاسو پيدا شوي يئ او د ژوند دا بېل بېل پړاوونه پلي کوئ، د مرگ ژوند پرېکړي همدغه ذات کوي. يوازي د يوه حکم په صادرولو سره د هر هغه کار د ترسره کېدو لړۍ پيل کېږي چي ده ئې د ترسره کېدو پرېکړه کړې.

## د قضاء اقسام

قضاء دوه اړخه لري: تکويني قضاء او تشريعي قضاء.

**تکويني قضاء:** کوم سنن او ضوابط چي په دې کون او عالم کي وضع شوي، ټوله هستي د هغو مطابق عياره شوې او هر څه د هغو مطابق ترسره کېږي، دې ته تکويني قضاء وايي، دا ثابت سنن دي چي نه بدلېږي او الله تعالی د هغوی د بدلون او تغيير واک او توان هيچا ته نه دئ ورکړی.

لکه چي قرآن فرمايي:

وَلَن تَجِدَ لِسُنَّةِ ٱللَّهِ تَبۡدِيلٗا ٢٣ الفتح: ٢٣

او د الله سنت ته بدلون نه شي موندلی

قرآن د دې تکويني قضاءپه اړه فرمايي:

فَقَضَىٰهُنَّ سَبۡعَ سَمَٰوَاتٖ فِي يَوۡمَيۡنِ وَأَوۡحَىٰ فِي كُلِّ سَمَآءٍ أَمۡرَهَاۚ وَزَيَّنَّا ٱلسَّمَآءَ

ٱلدُّنۡيَا بِمَصَٰبِيحَ وَحِفۡظٗاۚ ذَٰلِكَ تَقۡدِيرُ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡعَلِيمِ ١٢ فصلت:١٢

نو وئې گرځول اوه آسمانونه، په دوو ورځو کې او په هر آسمان کې ئې د هغه د کار (د څرنګوالي او تدبیر په اړه) وحي وکړه او د دنیا آسمان مو په څراغونو (رڼو ستورو) سره ښایسته کړ او د هغه خاص حفاظت او ساتنه مو وکړه، دا د پوه عزتمن ذات ټاکنه او تقدیر دئ.

له دې لحاظه د زمکې او آسمانونو هر څه د دې الهي قضاء په وړاندې منقاد او تسلیم دي او له همدغو ثابتو سننو طوعاً او کرهاً اطاعت کوي، لکه چې قرآن فرمايي:

أَفَغَيۡرَ دِينِ ٱللَّهِ يَبۡغُونَ وَلَهُۥٓ أَسۡلَمَ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ طَوۡعٗا وَكَرۡهٗا وَإِلَيۡهِ يُرۡجَعُونَ ٨٣ آل عمران:٨٣

نو آیا د الله له دین پرته بل (دین) لټوي، حال دا چې ده ته د آسمانونو او زمکې هر څه طوعاً او کرهاً ( که غواړي که نه غواړي) تسلیم او منقاد دي او د ده لورې ته ګرځول کېږي.

یعني په داسې حال کې چې د زمکې او آسمانونو هر څه د الله تعالی د تکویني سننو چار او ناچار اطاعت کوي او هیڅ څه له دغو سننو او ضوابطو سرغړونه او مخالفت نشي کولای، په ټول عالم کې د الله تکویني احکام په مطلق ډول حاکم او نافذ دي، خو کافران غواړي د الله له دین پرته بل دین ځان ته غوره کړي او د خپل ژوند په هغو برخو کې چې الله دوی ته هلته د څه کولو او نه کولو اختیار ورکړی، غواړي د الله له خوا د رالېږل شوي دین او تشریعي احکامو مخالفت وکړي او ځانته بل دین غوره کوي؟!!

د زمکې او آسمان هر څه الله ته تسلیم دي، د ټولو دین اسلام دئ، هغه څه کوي چې الله پرې ګمارلي، په همغه لار درومي چې الله ورته ټاکلې، لمر، سپوږمۍ، ستوري په خپل خپل مدار کې خوځي، په خپل خپل وخت او له خپل خپل ځای راخېژي او پرېوځي، ونې، بوټي او حیوانات د خپل فطرت مطابق په خپل کار لګیا دي، په ټولو مخلوقاتو کې یوازې کافر او عاصي انسان دئ چې د الله له دین پرته د

بل څه په لټه کې شي، هم د الله د دین په نسبت کافر شي او هم د خپل فطرت په نسبت، دی سټر باغي دئ، له هغه دین ئې بغاوت کړی چې د زمکې او د آسمان د هر څه دین دئ.

ساینس ته اوس دا خبره جوته شوې چې په دې عالم کې هر څه د معینو ضوابطو او قواعدو سره سم ترسره کېږي، حرکت، سرعت، شتاب، ویشتل، سقوط، د عناصرو ترمنځ ترکیب، د موادو او مرکباتو پیدایښت، زېږښت او ببرته تجزیه، ټول د ثابتو او تغییر نه منونکو قواعدو سره سم، سرته رسي، نن ساینس دا ثابت سنن د فورمولونو په شکل کې توضیح کوي.

**تشریعي قضاء: هغه احکام چې د انسان لپاره وضع شوي او انسان وربانـدي مکلف شوی چې هغه مراعات کړي او خپل ژوند د هغه مطابق عیار کړي، دې ته تشریعي قضاء وایی: لکه چې قرآن فرمایي:**

وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ أَمْرًا أَن يَكُونَ لَهُمُ ٱلْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ ۗ وَمَن يَعْصِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَٰلًا مُّبِينًا ٣٦

الاحزاب:٣٦

او نه با ایمانه نارینه او نه مؤمني ښځې ته ښایي چې کله الله او د ده رسول د کوم کار فیصله وکړي، بیا دي دوی ته په خپل دې کار کې څه اختیار او واك وي (بیا له دوی اختیار سلب کېږي او مکلف دي چې خامخا به د پرېکړې په وړاندي انقیاد کوي) او چا چې د الله او د ده له رسول عصیان او سرغړونه وکړه نو یقیناً چې په څرګنده ضلالت سره بې لاري شو.

د تشریعي قضاء سنن او احکام د انسان د ژوند د هغو برخو د تنظیم لپاره وضع شوي چې هلته انسان ته د تصرف نسبي آزادي او اختیار ورکړی شوی، هلته انسان کولی شي له دوو لارو یوه په خپله خوښه انتخاب کړي.

## اراده

اراده د هوډ، عزم او قصد په معنی ده او په دې مبحث کې دا مفهوم افاده کوي چې د دې عالم هر څه د (قضاء او قدر) مطابق او د الله تعالی په اراده ترسره کېږي، خبره یوازې دا نه ده چې د کائنات له پیدایښت وروسته او په هغه کې د سننو او مقدراتو له وضع کولو وروسته، د دې عالم هر کار په خپله او له دغو سننو سره سم، د الله له تصرف او پرېکړې پرته سر ته رسي، داسې نه ده چې دا عالم خپلې مخې ته پرېښودل شوی وي او پېښې په خپل سر او د دغو ضوابطو او فورمولونو مطابق او د طبیعي بهیر په څېر رامنځ ته کېږي، برعکس خبره داسې ده چې که څه هم هر کار، هر خوځښت او هر بدلون او تحول د خاصو سننو او ضوابطو مطابق ترسره کېږي خو پیل او پای ئې د الله په اراده او إذن وي، دا الله دئ چې لحظه په لحظه او هره شېبه ئې اداره کوي، جهت او مسیر ورته ټاکي او خاص نتائج پرې مرتب کوي. خو باید دې پوښتنې ته ځواب پیدا کړو چې په داسې حالت کې د انسان د نسبي استقلال او آزادۍ او له دوو لارو او دوو بدیلونو څخه د یوه په انتخاب کې د ده د اختیار معنی څه کېدی شي؟ چې دلته د هر څه او هر کار لپاره له مخکې مقادیر او مقدرات ټاکل شوي، ثابت او تغییر نه منونکې سنن او ضوابط په ټول عالم حکومت کوي او هر کار د الله په اراده ترسره کېږي، دا باور خو د هر ډول خپلواکۍ او استقلال مجال ختموي او له انسان او د عالم له هر څه مجبور او مقهور مخلوق جوړوي!!

د ارادې معنی قصد او د یوه کار د سرته رسولو عزم او تصمیم دئ لکه چې قرآن فرمایي:

إِنَّمَآ أَمۡرُهُۥٓ إِذَآ أَرَادَ شَيۡـًٔا أَن يَقُولَ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ٨٢ یس:۸۲

یقیناً چې د ده کار داسې دئ چې کله د کوم څه اراده وکړي نو ورته وایي: شه! نو (هغه له ځنډ پرته) کېږي.

د دې عالم هر کار، د قضاء او قدر سره سم او د الله تعالی په اراده ترسره کېږي، داسې نه ده چې الله تعالی د عالم له پیدایښت وروسته او په هغه کې د هر څه د

مقدار له ټاکلو او د سننو او ضوابطو له وضع کولو وروسته دا عالم او کاروونه ئې خپلې مخې ته پرېښی وي او پېښې ئې په خپل سر، له دغو ضوابطو سره سم د یوه طبیعي بهیر، جریان او تسلسل په شکل تر سره شي، بلکې د هر کار سرته رسېدل که څه هم د الهي ثابتو سننو سره سم وي، خو د الله په اراده شروع کېږي، د هغه په اراده پای ته رسي او هغه ورباندې نتائج مرتب کوي. لکه چې قرآن عظیم الشأن په دې ارتباط د انسان د مرګ په اړه فرمايي:

وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ أَن تَمُوتَ إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ كِتَٰبًا مُّؤَجَّلًا ۗ وَمَن يُرِدْ ثَوَابَ ٱلدُّنْيَا نُؤْتِهِۦ مِنْهَا وَمَن يُرِدْ ثَوَابَ ٱلْءَاخِرَةِ نُؤْتِهِۦ مِنْهَا ۚ وَسَنَجْزِى ٱلشَّٰكِرِينَ

١٤٥ آل عمران:١٤٥

او هيڅ نفس ته نه ښايي چې ومري، مګر د الله په اذن او ارادې سره، په ليکل شوې او ټاکلې نېټې.

يعني د انسان د مرګ لپاره ثابته نېټه ټاکل شوې، د اجل دا ثابته نېټه مخکې له مخکې ليکل شوې او د انسان مرګ په همدې ليکلې او ټاکلې نېټې د الله په اذن او اراده واقع کېږي.

همدا راز فرمايي:

مَآ أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ فِى ٱلْأَرْضِ وَلَا فِىٓ أَنفُسِكُمْ إِلَّا فِى كِتَٰبٍ مِّن قَبْلِ أَن نَّبْرَأَهَآ ۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٌ ﴿﴾ الحديد: ٢٢

هيڅ مصيبت په زمکه او په خپله تاسو کې نه پرېوځي مګر دا چې په کتاب کې (ليکل شوی)، مخکې له دې چې پيدا ئې کړو، بېشکه چې دا (کار) الله ته آسان دئ.

خو په بل ځای کې د مصيبت د نزول په ارتباط دا برخه هم راځي چې هر مصيبت د الله په اراده او اذن نازلېږي لکه چې فرمايي:

مَآ أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۗ وَمَن يُؤْمِنۢ بِٱللَّهِ يَهْدِ قَلْبَهُۥ ۚ وَٱللَّهُ

بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٌ ۱۱ التغابن:۱۱

هيڅ مصيبت نه نازلېږي مګر د الله په اذن او اراده او څوك چې په الله ايمان راوړي هغه ئې زړه هدايت کړي او الله په هر څه پوه دئ.

له دې آيتونو په څرګنده معلومېږي چې د هرې پېښې وقوع او د هر مصيبت نزول د الله له سننو سره سم، د مخکې ليکل شوې پرېکړې مطابق او د الله تعالی په اراده او اذن ترسره کېږي.

## لوح محفوظ

الله تعالی چې په دې عالم کې کوم سنن او مقدرات وضع کړي او د دې سننو او مقدراتو مطابق چې د عالم له پيدايښت تر قيامته پورې کومې پېښې تر سره کېږي، ټول ئې په کامل او مفصل طور په لوح محفوظ کې ثبت کړي، که د تکويني قضاء مطابق په دې عالم کې څه تحول او بدلون راځي او که انسان د خپلو اختياراتو په محدوده کې څه کوي، ټول مخکې له مخکې هغه الله په لوح محفوظ کې ثبت کړي چې عالم بالغيب دئ، حاضر او غائب، ماضي او مستقبل، نږدې او لرې، هغه ته برابر او يو شان دي، په خپل غيبي او کامل علم سره پوهېږي چې هر انسان به بېل بېل له خپلو اختياراتو په استفادې سره څه کوي؟ دا په لوح محفوظ کې د راتلونکو پېښو او د انسان د کړو وړو په اړه ليکنه د انسان اختيارات نه سلبوي او هغه په يوه مجبور، محکوم او بې واکه موجود نه بدلوي. انسان ته چې کوم اختيارات ورکړی شوي او د ده په اړه کوم سنن او ضوابط وضع شوي او د هغه مطابق الله تعالی ورسره معامله کوي، دا هم په لوح محفوظ کې ثبت شوي. له دغو سننو يو هم دا دئ چې انسان ته نسبي آزادي او واك ورکړی شوی، کولی شي په خپله خوښه د ښېګڼې او بدۍ له دوو لارو يوه غوره کړي، د ده د آزادۍ او د انتخاب قدرت، د هماغه مقدراتو او ضوابطو مطابق دئ چې الله تعالی مخکې له مخکې وضع کړي او په لوح محفوظ کې ثبت دي.

کوم ښه يا بد عمل چې انسان د الله تعالی په توفيق، له الهي سننو او ضوابطو سره سم او له هغه نسبي آزادۍ او واك په استفادې سره چې الله ورکړی؛ کوي او

الله تعالی کوم نتائج د ده په کړو وړو مرتب کوي، ټول الله تعالی ته د غیبي علم په رڼا کې څرګند دي او په کتاب کې ئې مخکې له مخکې لیکلي، د مثال په توګه: دوا د انسان په معالجې او تداوي کې اثر لري، لکه چې په حدیث کې راځي: الله تعالی هري بیمارۍ ته دوا پیدا کړې. الله تعالی چې د هري بیمارۍ لپاره کومه دوا پیدا کړې، طبعاً له هغې په استفادې سره انسان نوموړې بیماري معالجه کولی شي، دا د یوې بیمارۍ معالجه په یوې خاصې دوا سره له الهي مقدراتو سره سم ترسره کېږي او د دوا د عدم استعمال په نتیجه کې د بیمارۍ تشدید هم د الهي مقدراتو مطابق رامنځته کېږي، خو الله تعالی چې د کوم بیمار کس د انجام په اړه څه لیکلي ټول هغه عوامل ئې په پام کې نیولي چې د دې بیمار د انجام په ټاکلو کې اثر لري، لکه دا چې: کوم امکانات به ئې په واک کې وي؟ په کومه مرحله کې به ژوند کوي؟ آیا د دې بیمارۍ ضد دوا تر لاسه کولی شي که نه؟ او په دې ترتیب به د ده پای او عاقبت څه وي؟ الله تعالی ته دا ټول عوامل د خپل غیبي علم په اساس روښانه دي، د دغو ټولو په رڼا کې ئې د ده د عاقبت په اړه څه لیکلي.

د دغو نصوصو څو بېلګې دا دي:

- پیغمبر علیه السلام فرمایي: دعاء د مصیبتونو په ردولو کې اثر لري. یعني الله تعالی چې کوم فرد یا قوم ته د هغه د کړو وړو له کبله کوم مصیبت مقدر کړی، که هغه توبه وکړي، خدای ته رجوع وکړي، الله ته دعاء وکړي او له هغه مرسته وغواړي، الله تعالی دا مقدر شوی مصیبت مسترد کوي.

لکه چې قرآن فرمایي:

إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكۡتُمُونَ مَآ أَنزَلۡنَا مِنَ ٱلۡبَيِّنَٰتِ وَٱلۡهُدَىٰ مِنۢ بَعۡدِ مَا بَيَّنَّٰهُ لِلنَّاسِ فِي ٱلۡكِتَٰبِ أُوْلَٰٓئِكَ يَلۡعَنُهُمُ ٱللَّهُ وَيَلۡعَنُهُمُ ٱللَّٰعِنُونَ ١٥٩ إِلَّا ٱلَّذِينَ تَابُواْ وَأَصۡلَحُواْ وَبَيَّنُواْ فَأُوْلَٰٓئِكَ أَتُوبُ عَلَيۡهِمۡ وَأَنَا ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ١٦٠ البقره: ١٥٩-١٦٠

له څرګندو آیتونو چې مونږ کوم څه نازل کړي، څوک چې دا پټوي، وروسته له هغه

چي مونږ خلکو ته په کتاب کې بیان کړي، نو یقیناً چي په دغو کسانو هم الله لعنت وايي او هم هر لعنت ویونکی پرې لعنت وايي، مګر هغه چي توبه او رجوع ئې وکړه او خپل کړه ئې اصلاح کړل او بیان ئې کړل، نو د دوی توبه به قبوله کړم او زه خو یقیناً چي ډېر مهربان توبه منونکی یم.

دلته هغو دین په دنیا خرڅوونکو ته اشاره شوې چي حق پټوي او په دې سره د فساد او فتنو خورولو باعث ګرځي، د دوی دا حق پټول د الله په دین کې دومره ستره ګناه ګڼل شوې چي د الله، ملائکو او ټولو خلکو د لعنت وړ ئې ګڼي، خو که دوی له دې جرم توبه وکړي، هغه فتنې او فسادونه چي په همدې پټولو سره ئې راولاړ کړي هغه اصلاح کړي او پټ کړي حقائق بیان کړي، یوازي په دې صورت کې الله تعالی د دوی توبه مني، له دې پرته که په خپل مخکني حالت کې ومري نو همداسي به د تل لپاره په لعنت کې پاته وي. دلته ګورئ چي د توبې قبلېدو لپاره درې شرطونه اېښودل شوي:

- له خپلي ګناه بېرته راګرځېدل او الله ته مخه کول،
- د حق په پټولو سره چي کوم فساد رامنځته شوی د هغه اصلاح او جبران،
- او پټ کړي حقائق بیانول.

ګورئ هغه کسان چي د حق پټولو له کبله د الله تعالی له خوا رټل شوي او د لعنت وړ ګرځېدلي، د توبې، اصلاح او د حق څرګندولو له کبله له دې عذاب ژغورل شوي د دوی سابقه تقدیر او انجام بدل شوی.

د احد په جنګ کې چي الله تعالی د پیغمبر علیه السلام له یارانو سره د مرستي وعده کړې وه، ملائکې ئې د دوی مرستي ته راولېږلې، الله تعالی دوی ته د صبر او تقوی له کبله پر کفارو غلبه او فتح ورکړه؛ خو وروسته چي ځینو له هغو اصولو او ضوابطو عدول وکړ چي د فتحي او بري لپاره مقدر شوي او د ماتي او ناکامۍ عوامل د دوی په ډله کې راپیدا شول، الله جل شانه د دوی فتح او بری په ماتي او ناکامۍ بدل کړ.

لکه چي قرآن فرمايي:

﴿وَلَقَدْ صَدَقَكُمُ ٱللَّهُ وَعْدَهُۥٓ إِذْ تَحُسُّونَهُم بِإِذْنِهِۦ ۖ حَتَّىٰٓ إِذَا فَشِلْتُمْ وَتَنَٰزَعْتُمْ فِى ٱلْأَمْرِ وَعَصَيْتُم مِّنۢ بَعْدِ مَآ أَرَىٰكُم مَّا تُحِبُّونَ ۚ مِنكُم مَّن يُرِيدُ ٱلدُّنْيَا وَمِنكُم مَّن يُرِيدُ ٱلْءَاخِرَةَ ۚ ثُمَّ صَرَفَكُمْ عَنْهُمْ لِيَبْتَلِيَكُمْ ۖ وَلَقَدْ عَفَا عَنكُمْ ۗ وَٱللَّهُ ذُو فَضْلٍ عَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ ١٥٢﴾ آل عمران:١٥٢

**او يقيناً چې الله خپله وعده درسره رښتينې کړه، هغه وخت چې د الله په حکم مو دوی نيول او وژل، تر هغه چې بې زړه شوئ او په هغه کار کې مو په خپلو کې نزاع وکړه او له هغه وروسته مو نافرماني وکړه چې تاسو ته ئې ستاسو محبوب شيان دروښودل، له تاسو ځينو دنيا غوښته او ځينو مو آخرت غوښتو، بيا ئې له دوی راوګرځولئ، تر څو مو وآزمويي او يقيناً چې تاسو ته ئې عفو وکړه او الله خو پر مؤمنانو د فضل څښتن دئ.**

**يعني الله تعالى له تاسو سره خپله وعده ترسره کړه، تاسو ته ئې برى درکړ، دښمن مو پسې اخيستى وو، يو په بل پسې مو نيول او وژل، دا لړۍ تر هغه روانه وه چې تاسو بې زړه توب وښود، په خپلو کې مو اختلاف وکړ، له هغه وروسته چې غنائم مو تر سترګو شول د پيغمبر هدايات او اوامر مو له پامه وغورځول او بالآخره د هغو په څنګ کې چې آخرت لټوي داسې کسان هم راپيدا شول چې د غنيمت په لټه کې وو، نو خود به ستاسو فتح په ماتې بدلېده او الله تعالى به خپله مرسته متوقف کوله او د دښمن له تعقيب به پاته کېدئ، خو دا هم د الله يوه آزموينه وه، الله دا غلطي معاف کړه، که دا الهي عفو ستاسو په حال نه وى شامله شوې معلومه نه ده چې له کوم بد عاقبت سره به مخامخ شوي وئ، الله پر مؤمنانو باندې د فضل خاوند دئ.**

**د آدم عليه السلام د پيدايښت او په جنت کې د ځاى په ځاى کېدو او بيا له هغه د وتلو په قصې کې هم قرآن عظيم الشأن دا حقائق ښه څرګند کړي، داسې چې:**

**١- آدم عليه السلام په زمکه کې د خليفه په توګه پيدا کړى شو، د خلافت د دندې د ترسره کولو لپاره د دې عالم هغه ځواکونه ده ته منقاد کړى شول چې د عالم د**

امورو د سمبالولو دنده په غاړه لري، ملائکي ده ته په سجده شوې، يعني ده ته به منقادي وي او د ده مرسته به کوي.

۲- خو شيطان د ده مخالف او د ده د بې لاري کولو په لټه کې.

۳- د آدم عليه السلام د اوسېدو اصلي ځای جنت دئ خو د ده مخالف ځواکونه هڅه کوي دی له جنت محروم کړي.

٤- په جنت کې آدم عليه السلام ته له يوې خوا څه استقلال او د انتخاب واك او اختيار ورکړی شوی او له بلې خوا څه محدوديتونه ورته وضع شوي، د جنت هر راز مېوې، په هر ځای کې او هرڅومره خوړی شي، خو د ونو يوې خاصې نوعې ته بايد نږدې نه شي، چې دې ته نږدېوالی او د مېوې خوراك ئې ظلم او تېری ګڼل کېږي او له جنت د محرومېدا سبب ګرځي.

٥- شيطان آدم او بي بي حوا عليهما السلام د دې مېوې خوړلو ته وهڅول، د دوی قدمونه ئې وښويول او له جنت ئې وايستل.

٦- شيطان سرغړونه او لويي وکړه، الله تعالی له خپلې خوا ورټلو او د لعنت وړ وګرځېدو.

۷- آدم عليه السلام د شيطان په لمسونه د هغې ممنوعه ونې مېوه وخوړه؛ خو توبه ئې وکړه، الله تعالی د ده توبه ومنله او خپل رحمت او پېرزوينه ئې د ده په حال شامله کړه.

د سرکشۍ او تکبر له کبله د شيطان رټل او د توبې او انابت له کبله په آدم عليه السلام پېروزينه او رحمت، دواړه د الهي سننو او مقدراتو مطابق وو.

يوه بله قصه دا مطلب مزيد توضيح کوی: د يوه سفر په دوران کې، د اصحابو لښکر ته چې عمر رضی الله عنه هم پکې وو اطلاع ورسېده چې په مخکني کلي کې وبا خوره شوې، په خپلو منځونو کې مشورې ته کښېناستل چې آيا نوموړي کلي ته داخل شو که نه، ځينو په دې ټينګار کولو چې بايد له څه تشويش پرته کلي ته داخل شو. په قضاء او قدر زموږ ايمان د دې غوښتنه کوي چې له پېښو ونه وېرېږو، که زموږ د مرګ نېټه نه وي را رسېدلې نه مرو او وبا په موږ اثر نشي کولی، له مناقشې وروسته دا پرېکړه وشوه چې نوموړي کلي ته له ننوتو ډډه کوو. د غونډې

په پای کې یوه کس له عمر رضی الله عنه پوښتنه وکړه چی آیا له قدر په څنگ شو، عمر رضی الله عنه په ځواب کی ورته وویل: له یوه قدر بل ته درومو.

## آیا انسان د اختیار خاوند دئ؟

دا پوښتنه راولاړېږي چي آیا انسان د اختیار خاوند دئ که مجبور او بې اختیاره؟ آیا انسان ته د خپلي لاري د انتخاب آزادي ورکړی شوې؟ راشئ د دې پوښتني ځواب په قرآن کي ولټوو، قرآن په ټول صراحت او وضاحت سره دا مطلب څرگندوي چي انسان ته د یوې معیني دائرې په انگړ کي د خپلي لاري او له ښه او بد د یوه د انتخاب واك او آزادي ورکړی شوې، د همدغه واك او اختیار له کبله هغه د خپلو عملونو بدله گوري. د ده دغه اختیار او استقلال ته په پام سره هغه د خپلو عملونو مسئولیت په غاړه لري او سزا به ئې گوري: دا مطلب په گڼ شمېر آیتونو کي راغلی چي مونږ دلته په دوو بېلگو اکتفاء کوو. د کهف په مبارکي سورې کي راغلي:

وَقُلِ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّكُمْ ۖ فَمَن شَآءَ فَلْيُؤْمِن وَمَن شَآءَ فَلْيَكْفُرْ ۚ إِنَّآ أَعْتَدْنَا لِلظَّٰلِمِينَ نَارًا أَحَاطَ بِهِمْ سُرَادِقُهَا ۚ وَإِن يَسْتَغِيثُوا۟ يُغَاثُوا۟ بِمَآءٍ كَٱلْمُهْلِ يَشْوِى ٱلْوُجُوهَ ۚ بِئْسَ ٱلشَّرَابُ وَسَآءَتْ مُرْتَفَقًا ٢٩ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ إِنَّا لَا نُضِيعُ أَجْرَ مَنْ أَحْسَنَ عَمَلًا ٣٠ الكهف: ٢٩ ـ ٣٠

و وایه: دا ستاسو د رب له لوري یو حقیقت دئ، نو څوك چي غواړي ایمان دي راوړي او د چا چي خوښه وي کافر دي شي، بې شکه چي مونږ د ظالمانو لپاره داسي اور تیار کړی چي دېوالونه به ئې پرې راتاو وي او چي کله د مرستي لپاره غږ کړي نو په داسي اوبو به ئې غږ ته ځواب ویلی شي چي خوټېدونکې، توري او بویناکي دي او مخونه وریتوي، څومره بد څښاك او څومره بد ټاټوبی، او بې شکه هغو چي ایمان ئې راوړی او صالح عملونه ئې کړي، مونږ د هغه چا اجر نه ضایع کوو چي د عمل له مخي ښه وي.

د دې مبارکو آیتونو مهمي لارښووني دا دي:

- دلته د (الحق من ربکم) مراد یا هغه ویناوي دي چي تر دې د مخه راغلي او یا ټول قرآن، مطلب ئې دا دئ چي دا ستاسو د رب له لوري او حقیقت دئ، نه د رسول الله صلی الله علیه و سلم ذاتي افکار او ویناوي دي او نه په هغه کې د حق او حقیقت خلاف څه نښه موندی شئ.

- د هر چا خپله خوښه ده چي ایمان راوړي او که کافر کېږي، دا واك او اختیار انسان ته ورکړی شوی چي د ایمان او کفر ترمنځ یو ئې غوره کړي، الله تعالی ئې نه ایمان راوړو ته اړ باسي او نه ئې کفر او انکار ته.

- څوك چي له دې اختیار او آزادۍ غلطه استفاده وکړي، د ظلم او تېري لار غوره کړي نو الله تعالی دغو ظالمانو ته داسي اور تیار کړی چي دېوالونه به ئې پرې راتاو وي او کله چي له ډېري تندي چیغي کړي او په چیغو چیغو سره مرسته وغواړي نو په داسي اوبو به ئې غوښتنه ځوابېږي چي خوټېدونکې، توري او بویناکې دي او مخونه وریتوي، څومره بد څښاك او څومره بد ټاټوبی!

- او چا چي ایمان راوړی او صالح عملونه ئې کړي، نو الله تعالی د هغه چا اجر نه ضایع کوي چي عمل ئې صالح وي. نه په دنیا کې او نه په آخرت کې، هم به د خپل ایمان او صالح عمل غوره نتائج په دنیا کې ترلاسه کوي او هم په آخرت کې.

له دې مبارکو آیتونو په ډېر صراحت او وضاحت سره معلومېږي چي انسان ته دا اختیار او واك ورکړ شوی چي په خپله خوښه یا د ایمان او صالح عمل لار غوره کړي او یا د کفر او ظلم لار، د همدغه واك او اختیار په وجه او د خپل انتخاب د څرنګوالي له مخي به سزا ګوري.

همداراز د النبأ په سوره کې لولو.

ذَٰلِكَ ٱلۡيَوۡمُ ٱلۡحَقُّۖ فَمَن شَآءَ ٱتَّخَذَ إِلَىٰ رَبِّهِۦ مَـَٔابًا ٣٩ النباء: ٣٩

دا رښتیني ورځ ده، نو څوك چي غواړي د خپل رب په لوري دي د ورتګ لار غوره کړي.

یعني دا هم د انسان په انتخاب پوري اړه لري چي د خپل رب لوري ته د ورتلو لار اختیار کړي او د صالح عمل په نتیجه کې د الله خوا ته غوره مقام ترلاسه کړي.

او دا چي د دې آيتونو تر څنګ قرآن دا هم ويلي چي: و ماتشاءون الا ان يشاء الله: تاسو غوښتی نه شئ تر څو د عالمونو رب الله نه وي غوښتي، دا مطلب به څنګه د انسان له نسبي آزادۍ او اختيار سره متصادم نه ګڼو او څنګه به دا آيتونه سره همغږي ثابتوو، ځواب ئې دا دئ:

که دا آيت او دې ته ورته؛ مستقل او له نورو بېل نه بلکي د ټولو هغو آيتونو ترڅنګ وڅېړو او ټول هغه آيتونه په پام کي ولرو چي د قضاء، قدر، اراده، مشيت او اختيار مفاهيم په کي راغلي، نو په مطلب ئې پوهېدل آسانه او له خبط او خطأ خوندي پاته کېدی شو، متأسفانه بادي الرأی کسان او د لنډ نظر خاوندان دا آيت يوازي او نورو ته له پامه پرته څېړي، له همدې کبله په مطلب پوهېدل ورته ګران شي او ګمان کوي چي دا آيت د انسان په بې وسۍ، مجبوريت او عدم اختيار دلالت کوي، دوی دې ته نه دي متوجه چي په دې آيتونو کي د دې موضوع يوه څنډه څېړل شوې او نوري برخي ئې په نورو آيتونو کي، په کار ده په موضوع د ښه پوهېدو لپاره ټول اړوند آيتونه په پام کي ونيسو، د دغي غلطۍ له کبله ځينو کسانو د قضاء او قدر په اړه داسي څه ويلي چي په موضوع د پوهېدو په ځای ئې هغه مزيد ګرانه او پېچلې کړې، خلکو ته ئې شکوك او شبهات راپيدا کړي او دښمنانو ته ئې د دې خبري کولو موقع ورکړې چي ووايي: قرآن هم انسان بې اختياره او مجبور مخلوق ګڼي او هم ئې کړه وړه د محاسبې وړ، په داسي حال کي چي مجبور مخلوق د خپلو کړو وړو په اړه هيڅ مسئوليت نه لري، د مجبور مخلوق د ټولو کړنو مسئوليت د هغه چا په غاړه وي چي دی ئې ورته مجبور کړی!! ځيني نور بيا په دې اړه له څه ويلو ممانعت کوي او په دې ئې ټينګار وي چي د قضاء او قدر موضوع بايد مجمل ومنو او تفصيل ته ئې له ننوتو ډډه وکړو!! په داسي حال کي چي دا يوه مهمه اعتقادي موضوع ده او ايمان پرې ضروري، ايمان له علم او پوهي پرته نه شي کېدی، ايمان په حقيقت کي د پوهي انتهاء او پايله ده، قرآن د ګڼ شمېر آيتونو په ترڅ کي او په ډېر تفصيل سره دا موضوع څېړلې. که په قضاء او قدر پوري مربوط ټول آيتونه د يوه بل څنګ ته کېږدو، د يوه لپاره بل له پامه ونه غورځوو او د ټولو په رڼا کي نتيجه راوباسو، نو نه به په اصل مطلب پوهېدل راته ګران وي او نه به له کوم مشکل او ابهام سره مخامخ کېږو.

د دغي موضوع په ارتباط مو بايد دې ته هم پام وي چې قرآن كه له يوې خوا دا ويلي چې دلته تغيير نه منونكې قضاء او قدر شته، هر كار د قضاء او قدر مطابق او د هغو سننو او ضوابطو په مراعات سره چې الله تعالى د دې عالم لپاره وضع كړي، د الهي مقدراتو په محدوده كې او د الله تعالى په اراده او إذن ترسره كېږي، له بلې خوا ئې دا هم ويلي چې انسان ته نسبي واك او اختيار وركړى شوى، هغه كولى شي له دوو لارو يوه غوره كړي، كولى شي له دوو كارونو د يوه د كولو اراده وكړي، پر قرآن د ايمان غوښتنه دا ده چې مونږ به په دواړو خبرو ايمان لرو، نه دا چې يوه ئې ومنو او پر هغې ټينگار وكړو او له بلې سترگې پټې كړو او له پامه ئې وغورځوو. هغه چا ته چې په قرآن كې لږ غور وكړي، د دې دواړو خبرو تلفيق گران كار نه دئ او په ډېره آسانۍ سره دې نتيجې ته رسېږي چې انسان ته د نسبي اختيار او واك وركول او له دوو بديلونو د يوه د انتخاب قدرت او صلاحيت وركول، د همدې الهي (قضاء) او (قدر) يوه برخه ده، الله تعالى دا سنت وضع كړى چې انسان كولى شي په ځينو مواردو كې او د يوې خاصې محدودې په انگړ كې د خپل مشيت او غوښتنې مطابق اقدام وكړي، كه دا الهي سنت نه وى او د ده دا اختيار د قضاء او قدر جزء نه وى نو انسان به د جماداتو په څېر په كامله توگه محكوم او بې اختياره وو، هيڅ څه به ئې په خپله خوښه نه شو ترسره كولى!! خو د الله تعالى مشيت داسې تللى، الله تعالى داسې اراده كړې، الله تعالى داسې غوښتې چې انسان دې نسبي واك او اختيار ولري، د همدې لپاره وايو چې انسان هر څه كوي د الله په اراده، إذن او اجازه ئې كوي، الله تعالى ورته د يوې پرېكړې عزم او د يوه كار د كولو توفيق وركوي. د (قضاء) او (قدر) معنى دا نه ده چې انسان بې اختياره او بې ارادې مخلوق دئ، چې نه د انتخاب اختيار لري او نه په خپل تقدير او برخليك كې د ده اراده او عزم څه اغېز لري. دا د قضاء او قدر ډېر غلط او ناسم تعبير دئ، (قدر) يعني دا چې دلته د هر څه لپاره خاصه او تغيير نه منونكې اندازه ټاكل شوې او (قضاء) يعني دا چې دلته هرڅه د ثابتو سننو او ضوابطو مطابق ترسره كېږي، انسان ته د همدغو سننو او مقدراتو په محدودې كې د انتخاب واك او اختيار وركړى شوى، په سم انتخاب ئې سم نتائج مرتب كېږي او خراب انتخاب ئې خراب نتائج وركوي.

دې ته مو هم بايد پام وي چي که انسان له داسي څه سره مخامخ کېږي چي د ده له اختيار او واکه بهر دي؛ لکه د ده عمر، د پيدايښت او مرګ نېټه ئې، پېښي او حوادث او که داسي څه چي په خپل انتخاب او اراده ئې کوي، دا ټول له مخکي په لوح محفوظ کي ليکل شوي، ځيني کسان په لوح محفوظ کي دا ليکنه د انسان د نسبي واك او اختيار منافي ګڼي، چي دا يوه مغالطه ده، وجه ئې يا ناپوهي ده او يا له اسلام سره دښمني!! دوی دې ته نه ګوري چي په لوح محفوظ کي دا هم ليکل شوي چي انسان نسبي واك او اختيار لري، کولی شي له دوو لارو يوه د تلو لپاره غوره کړي.

خو په دې ارتباط يوه مهم مطلب ته جدي پاملرنه په کار ده او هغه دا چي د انسان اراده، عزم او د يو کار د سرته رسولو پرېکړه، غوښتنه او تصميم د الله تعالی د ارادې او مشيت تابع دي، صرف هغه څه کولی شي چي الله تعالی ئې د کولو توفيق ورکړي، لکه چي قرآن فرمايي:

إِنَّ هَٰذِهِۦ تَذۡكِرَةٞۖ فَمَن شَآءَ ٱتَّخَذَ إِلَىٰ رَبِّهِۦ سَبِيلٗا ٢٩ وَمَا تَشَآءُونَ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمٗا ٣٠ الانسان: ٢٩- ٣٠

بې شکه چي دا يو تذکر او پند دئ، نو څوك چي غواړي خپل رب ته د رسېدو غوره لار دي غوره کړي. او نه شئ غوښتی مګر هله چي الله ئې وغواړي، بې شکه چي الله باحکمته پوه دئ.

دا آيت چي په وار وار د قرآن د مواعظو او لارښوونو په پای کي تکرار شوی، دا مهم مطالب افاده کوي:

الف: دا يو تذکر او پند دئ د هغه چا لپاره چي غواړي الله تعالی ته د رسېدو غوره لار ومومي او د ده په لوري د تلو لپاره ئې غوره کړي.

ب: انتخاب ستاسو په لاس کي دئ، پند ترې اخلئ او الله تعالی ته د رسېدو لار غوره کوئ او که مخ ترې اړوئ او په کږو لارو سر کېږئ.

ج: د الله تعالی لار د هغه ذات لار ده چي په ټولو اسرارو پوه دئ، په هر حکم او لارښوونه کي ئې ژور حکمتونه مضمر دي.

د: دا لار فقط د الله تعالی په توفیق سره وهلی شئ، د الله تعالی مشیت په دې تللی چې انسان د خپلې لارې انتخاب ته آزاد پرېږدي، که څوك د الله تعالی لار غوره کړي هغه ته د تلو توفیق ورکوي او د ځان په لوري ئې هدایت کوي او که څوك د شیطان په لارو تلو ته ملا وتړي په همدې کړو لارو د تلو فرصت او توفیق ورکوي، ده په خپل انتخاب سره د الله تعالی د مشیت خلاف نه؛ بلکې عیناً د ده د سننو مطابق کار کړی، دا ځکه چې الله تعالی غوښتي چې انسان په خپل انتخاب کې آزاد وي او وکولی شي له دوه بدیلو یو ئې غوره کړي، له دوو لارو یوه د تلو لپاره انتخاب کړي، د هر کار توفیق د ده له لوري دئ، دا د ده په إذن او ارادې سره ده چې تاسو یوه لار غوره کولی شئ او د تلو توفیق ترلاسه کوئ، دا سنن د باحکمته پوه رب له لوري وضع شوي، الهي سنن دقیق دي او په کامل او بشپړ علم ولاړ او په هر یوه کې ئې حکمت او مصلحت مضمر دئ.

همدا راز فرمايي:

إِنۡ هُوَ إِلَّا ذِكۡرٞ لِّلۡعَٰلَمِينَ ٢٧ لِمَن شَآءَ مِنكُمۡ أَن يَسۡتَقِيمَ ٢٨ وَمَا تَشَآءُونَ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٢٩ التكوير:٢٧-٢٩

دا عالمیانو ته یوازې یو پند او یادونه دئ، ستاسو هغه چا ته چې غواړي مستقیم ( او په سمه لار برابر) شي او نه غواړئ تاسو (کوم څه) مګر دا چې الله د عالمونو رب ئې وغواړي.

په دې آیتونو کې دا دوه مطلبه یو په بل پسې راغلي:

الف: انسان کولی شي له ایمان او کفر او له سمې او کږې لارې یو په خپله خوښه غوره کړي.

ب: خو د ده خوښه، غوښتنه او اراده، د الله تعالی د ارادې او مشیت تابع ده.

بادی الرأی کسانو او د سطحي نظر خاوندانو ته په دې دواړو خبرو کې څه تضاد او تباین په نظر ورځي، د دواړو تلفیق ورته ګران برېښي او کله کله په دې اړه د داسې مغالطې مرتکب شي چې له هغې وتل او سمه لار موندل ورته محال شي. خو که څوك د قضاء او قدر او د الله تعالی د ارادې او د انسان د نسبي واك او اختیار

په اړه مخکنیو مطالبو ته لږ ځیر شي، له دې مغالطې او معضلې په آسانۍ وتلی او په حقیقت پوهېدلی شي.

الله تعالی د دې عالم د هر څه لپاره اندازه ټاکلې، په دې عالم کې ئې ثابت او نه بدلېدونکي سنن وضع کړي، هر څه له همدغه تقدیر او قضاء سره سم د الله په اراده ترسره کېږي، انسان ته نسبي واك او اختیار هم د همدې سننو او مقدراتو جزء او یوه برخه ده، الله تعالی دا سنت په دې عالم کې وضع کړی چې انسان کولی شي د خپل ژوند په ځینو برخو کې په خپله خوښه تصرف وکړي. که الله تعالی دا سنت نه وی وضع کړی او انسان ته ئې دا توفیق او واك نه ورکولی، نو هغه به هم د جماداتو په څېر کاملاً محکوم وو او په خپله خوښه به ئې د څه کولو توان نه درلود، د انسان د اختیار او آزادۍ په اړه د الله اراده د ده په ارادې مقدمه ده، ځکه وایو چې انسان هر څه کوي د الله په اراده ئې کوي، هغه ورته دا اجازه ورکړې، هغه ورته د پرېکړې، عزم او بیا د اقدام او عمل توفیق ورکوي.

ښایي لاندې مثال له هغه چا سره مرسته وکړی شي چې د انسان نسبي اختیار او له مخکې ټاکل شوي مقدرات؛ یو د بل منافي ګڼي او دا ورته ګرانه برېښي چې څنګه په لوح محفوظ کې لیکل شوي تغییر نه منونکي مقدرات له انسانه اختیار او واك نه سلبوي:

مثال: تاسو د یوه داسې باغ خاوند یئ چې جګ جګ دېوالونه او دنګه مضبوطه دروازه لري، ښه ساتنه او حفاظت ئې کېږي، هیڅوك نه شي کولی ستاسو له اجازې پرته دې باغ ته ننوځي، خپل یوه دوست ته اجازه ورکوئ چې باغ ته ننوځي او مېوه ئې وخوري، د دروازې کیلي ورکوئ او ورته وایئ: دې باغ ته له دې کیلي په استفادې سره ننوتی او هره مېوه ئې خوړلی شې، له دې وروسته د دې باغ اختیار ستا په لاس کې دئ، خو دې ته دې پام وي چې د باغ کیڼ لوري ته داسې ونې ولاړې دي چې د مېوو رنګ ئې ښایسته او جالب، خوند ئې ښه، خو خوړل ئې د ګټې په ځای تاوان درته لري، ستا صحت او سلامتیا ته تاوان رسوي، که دغو ونو ته ورنږدې نه شې او مېوه ئې ونه خورې نو دا به ستا په ګټه او زما د رضایت باعث شي، زما خوښه دا ده او دا مې پرتا پېرزو کېږي چې دا نورې هغه مېوې وخورې چې هم تا

ته ګټوري دي او هم ئې زه درته خوښوم او پرې راضي کېږم او په دې سره به روغ رمټ له باغه ووځې. ستا دا دوست ستا په اجازه باغ ته ننوځي، هر څه چي په دې باغ کې کوي او هره مېوه چي خوري نو ستا په اجازه او له هغه اختياره په استفادې سره ئې خوري چي تا ورکړی، په حقيقت کې هغه ستا په اراده، إذن او اجازه او له هغه اختيار او صلاحيت په استفادې سره عمل کوي چي تا ورکړی، که مضر او د ده روغتيا او سلامتيا ته تاواني او ستا د خوښي خلاف مېوه خوري او ستا د رضايت خلاف کار کوي او يا ګټوره مېوه خوري او هغه څه کوي چي ستا د رضايت باعث کېږي، دواړه کاره ئې ستا په إذن، اجازه، اراده او توفيق کړي، تا دا موقع، توان، توفيق او اجازه ورکړه چي باغ ته ننوځي او د خپلي خوښي مېوه وخوري، که تا دا اجازه نه وی ورکړې نه باغ ته ننوتی شو، نه ئې سم او بد کار کولی شو او نه ئې تاواني او ګټوره مېوه خوړلی شوه، غلطي ئې ستا په اجازه کړې خو مسئوليت ئې پر خپله غاړه دئ، له دې کبله چي په خپل انتخاب کې ئې اشتباه کړې، له اختيار او صلاحيت ئې غلطه استفاده کړې، هغو ونو ته نږدې شوی او مېوه ئې خوړلې چي د ده لپاره تاواني او د باغ د خاوند د خفګان باعث. باغ ته له ننوتو وروسته چي نوموړی کس هرڅه کوي مسئوليت ئې د ده په خپله غاړه دئ، هم مفيده مېوه خوړی شي او هم مضره، دا ځکه چي د انتخاب واك ورکړی شوی، د خپل انتخاب نتائج به ګالي، ښه انتخاب ئې ښه نتائج لري او بد انتخاب ئې بد. د زمکي په سر د انسان خلافت او د قضاء او قدر په وړاندې د هغه محکوميت او ده ته د (اختيار) او (انتخاب) صلاحيت او واك ورکولو معنی هم داسي ده.

په دې مثال کې د باغ دېوالونه، دروازه او کيلي ئې، د خاوند اجازه، خپل دوست ته د انتخاب اختيار ورکول، د ممنوعه ونې د مېوې تاوان، د باغ د خاوند خوښي او ناخوښي له مفيد او مضر مېوو د استفادې په صورت کې، هم (قضاء)، (قدر)، ( د الله اراده)، له خپل بنده د الله تعالی رضايت او عدم رضايت ښه توضيح کوي او هم (د قضاء او قدر په محدوده کې د انسان اختيار او واك) ښه انځوروي، خو د دې قضيې د يوې خاصي څنډې له بيانولو عاجز دئ او هغه دا چي: کله ستا دوست د باغ د دروازې کيلي ترلاسه کړي او باغ ته ننوځي، نو ستا له واك او ادارې ووځي، له دې وروسته ته وربانديې هيڅ ډول سلطه او واك نه لرې، په داسي حال کې چي له

بنده سره د الله تعالی معامله داسي نه ده، هيڅ شبهه د هغه له ساتني، څارني او اداري نه شي وتی، هر گام چي مخکي ږدي د الله په توفيق او مرسته ئې ږدي، د ښه او بد کار توان هم هغه ورکوي. د الله تعالی د مشيت، ارادې، قضاء او قدر په وړاندي د انسان مشيت، اراده او انتخاب پورتني مثال ته ورته دئ، هغه ښه او بد کار د الله تعالی د مشيت او ارادې مطابق کوي خو په خپله خوښه او له هغه اختيار په استفادې سره چي الله تعالی ورکړی.

او په لوح محفوظ کي د انسان د مقدراتو ليکنه داسي ده لکه په پورتني مثال کي چي ته د هغه دوست وضعيت ته په پام سره ده ته د کيلي ورکولو په وخت کي له ځان سره وليکې: دی به په دې باغ کي څه څه وکړي او کومي کومي مېوې به وخوري، ستا دا ليکنه ستا د پوهي او علم څرگندونه کوي، هر څومره چي ستا علم او پوهه دقيق وي همدومره به د ده کړه وړه ستا د ليکني موافق خېژي، ستا ليکنه نه د ده خپلواکي سلبوي او نه ئې په کوم کار اړ کوي، دا ځکه چي تا په خپله د باغ کونجي ورکړې او د هري مېوې خوړلو اختيار دي ورکړی، په لوح محفوظ کي ليکنه دې ته ورته ده، دا ليکنه د انسان د هغو عملونو په اړه چي په خپل اختيار او خپلي خوښي ئې ترسره کوي، تقدير بالوصف دئ، نه تقدير بالحکم، دی پرې اړ شوی نه دئ بلکي د ده حالت په کي بيان شوی، دا د الله تعالی د بشپړ علم غيب ښودنه کوي، نه د هغه څه چي د انسان اختيار ترې سلب کړي او يو محکوم او مجبور مخلوق ترې جوړ کړي.

## پر قضاءاو قدر د ايمان غوښتني

د قضاء او قدر په ارتباط لومړۍ مهمه خبره دا ده چي بايد د دې موضوع په معنی، مفهوم او مطلب پوه شو، په قضاء او قدر باندي ايمان دا غوښتنه کوي چي د دغو مفاهيمو په حقيقت پوه شو، دا ځکه چي موږ د دغو الفاظو په معنی او

مفهوم باندي په ایمان او باور درلودلو مکلف شوي یو، که د دغو الفاظو په مفهوم او معنی پوه نشو او حقیقت ئې موږ ته واضح نه وي، داسي چي د هر راز شك او شبهې احتمال ختم کړي، نو یوازي په الفاظو به دایمان معنی څه وي؟

قرآن چي موږ په کوم څه مکلف کوي چي ایمان پرې راوړو نو لومړی موږ د هغه په حقیقت پوه کوي، هیڅکله موږ په مجهول او غیرقابل فهم مطلب باندي په ایمان راوړلو نه ګماري. که موږ ته د قضاء او قدر مفهوم واضح نه وي نو د ټولو هغو آیتونو په مطلب نشو پوهېدی چي دا الفاظ په کي راغلي.

## د مصائبو په وړاندي صبر

څوك چي په قضاءاو قدر ایمان لري د کړاوونو او ستونزو په وخت کي به صابر وي، له بل د شکوې او شکایت په ځای به صبر کوي او عقیده به ئې دا وي چي دا کړاوونه تصادفي پیښي نه دي، بلکي د الله تعالی له ثابتو سننو او مقدراتو سره سم واقع شوي، حتماً له ده داسي خطاء او اشتباه شوې چي په نتیجه کي ئې له دې کړاو او ستونزي سره مخامخ شوی. هغه د مصیبتونو په وخت کي د بې صبرۍ او شکوې په ځای په خپلي تګلاري او کړو وړو کي تجدید نظر کوي، له کړاو سره د مخامخ کېدو عوامل لټوي او د خپل عمل د اصلاح هڅه کوي، مصیبتونه هغه د غفلت له خوبه راویښوي، لکه چي قرآن فرمایي:

وَمَآ أَصَٰبَكُم مِّن مُّصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتۡ أَيۡدِيكُمۡ وَيَعۡفُواْ عَن كَثِيرٍ ٣٠

الشوری:۳۰

او په کوم مصیبت چي تاسو اخته کېږئ نو دا ستاسو د خپلو لاسته راوړنو له کبله ده او له ډېرو ئې (الله ) تېرېږي.

دا آیت په ډېر صراحت او قاطعیت سره وایي چي مصیبتونه ستاسو د کړو وړو په سبب راځي او دا چي دا ستاسو د ګناهونو یوازي د یوې برخي سزا ده، که الله تعالی عفو ونکړي او له تاسو سره د فضل او عفوې په ځای د عدل له مخي معامله وکړي نو تر دې به ئې ستر ستر مصیبتونه درباندي نازل کړي وو.

قرآن د هغو مجاهدینو او خدای پالونکو په اړه چي د پیغمبرانو په څنګ کي

جنګېدلي او له مصیبتونو سره مخامخ شوي خو صبر ئې کړی او مصیبتونه ئې د خپلو اشتباهاتو نتیجه ګڼلې، فرمايي:

وَكَأَيِّن مِّن نَّبِيٍّ قَٰتَلَ مَعَهُۥ رِبِّيُّونَ كَثِيرٌ فَمَا وَهَنُواْ لِمَآ أَصَابَهُمْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَمَا ضَعُفُواْ وَمَا ٱسْتَكَانُواْۗ وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلصَّٰبِرِينَ ١٤٦ وَمَا كَانَ قَوْلَهُمْ إِلَّآ أَن قَالُواْ رَبَّنَا ٱغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَإِسْرَافَنَا فِيٓ أَمْرِنَا وَثَبِّتْ أَقْدَامَنَا وَٱنصُرْنَا عَلَى ٱلْقَوْمِ ٱلْكَٰفِرِينَ ١٤٧ فَـَٔاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ ثَوَابَ ٱلدُّنْيَا وَحُسْنَ ثَوَابِ ٱلْأٓخِرَةِۗ وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلْمُحْسِنِينَ ١٤٨ آل عمران: ١٤٦-١٤٨

او ډېر پیغمبران داسي وو چي ډېر خدای پالونکي ئې په څنګ کي جنګېدلي، خو د الله په لار کي د رسېدلو مصیبتونو له کبله نه سست شول، نه ئې د ضعف احساس وکړ او نه ئې (د دښمن په وړاندي) ذلت ومنلو او داسي صبر کوونکي په الله ګران وي. او خبره به ئې له دې پرته بل څه نه وه چي ویل به ئې: اې زموږ ربه! زموږ ګناهونه او په خپلو چارو کي زموږ تېری او اسراف راته وبخښه او زموږ قدمونه استوار کړه او په دې کافر ټولګي موږ ته بری راکړه. نو الله دنيايي بدله هم ورکړه او د آخرت غوره بدله هم او الله داسي محسنين خوښوي.

په دغو مبارکو آیتونو کي څو اساسي لارښووني ګورو:

- تر محمد علیه السلام مخکي ډېر پیغمبران راغلي او تللي، د هر یوه په څنګ کي ډېر خدای پالونکي راغونډ شوي او د الله په لار کي جنګېدلي.
- د دغو پیغمبرانو خدای منونکي ملګري داسي وو چي د الله په لار کي له مصیبتونو سره د مخامخ کېدو له کبله نه سست شوي، نه ئې د ضعف او ناتوانۍ احساس کړی او نه د دښمن په وړاندي ذلت او سپکاوي ته تسلیم شوي. مبادا تاسو د الله په لار کي له مصیبتونو سره د مخامخ کېدو له کبله سست شئ، شور شوق او جذبه مو له لاسه ورکړئ، د دښمن قوت تاسو ووېروي او د هغه په وړاندي د ضعف او ناتوانۍ احساس وکړئ، د دښمن شرائطو ته تسلیم شئ او د هغه لويي

ومنئ.

• دوی له ماتو وروسته هم نه دي مأيوس شوي، ماتې او هزيمتونه ئې د خپلو اشتباهاتو او اسراف نتيجه ګڼلې، له الله تعالى ئې د خپلو ګناهونو او تېريو معافي غوښتې، سنګر ئې نه دئ پرېښی او له مبارزې ئې لاس نه دئ اخيستی، تل ئې خپل الله ته د دښمن په ضد په خپلې مبارزې کې د بريا دعاء کړې. بايد متوجه وئ چې د ايمان تقاضا همدا ده.

• دوی هم دنيايي برياوې ترلاسه کړې او هم ئې د آخرت فلاح او سعادت په برخه شوی.

• دا محسنين دي، د احسان لار همدا ده، دوی د خپلو همدې غوره صفاتو له کبله د الله د دوستۍ مستحق شوي، داسې محسنان په الله ګران وي.

• له دې مخکې هم ډېر پيغمبران تېر شوي او د دوی په څنګ کې ډېر خدای پالونکي جنګېدلي، د پيغمبرانو او د خدای پالونکو لار همدا ده؛ له حق د دفاع په خاطر د کفر، شر، فساد او ظلم په خلاف جنګېدل.

• نورو خدای پالونکو ته هم د الله په لار کې مصيبتونه رسېدلي، خو د دغو مصيبتونو په وجه نه سست شوي، نه ئې کمزوري ښودلې، نه ئې د دښمن په وړاندې د ذلت سر ټيټ کړی او نه ئې بې صبري کړې. د وهن معنی سستي ده خو دلته ترې مراد هغه حالت دئ چې د مصيبتونو او ماتې له کبله څوك ورسره مخامخ کېږي، مخکنی شور او شوق ئې ختم شي، جذبات ئې ساړه شي، ناهيله او نااميده شي. له ضعف هغه حالت مراد دئ چې انسان د کمزورۍ او ناتوانۍ احساس وکړي او تر دښمن ځان ضعيف وګڼي. او له استکانت ذلت منل او د دښمن شرائطو ته غاړه ايښودل مراد دئ. څوك چې له دغو دريو کمزوريو ځان وساتي هغه صابر دئ او پر الله ګران. الله دغسې صابران خوښوي.

• دغو خدای پالونکو نه يوازې صبر کړی بلکې ويل به ئې: اې زمونږ ربه! زمونږ ګناهونه او په خپلو چارو کې زمونږ تېری او اسراف راته وبخښې، دا ماتې او مصيبتونه زمونږ د ګناهونو او تېري او اسراف نتيجه ده او زمونږ قدمونه استوار کړې او په دې کافر ټولګي مونږ ته بری راکړې، دوی د ماتې له کبله له مقاومت

لاس نه دئ اخیستی، سنگر ئي نه دئ پرېښی، د فتح او بريا طمع ئې نه ده ختمه شوې، ثابت قدمه او د حق بريا ته منتظر پاتي شوي.

- دوی ته الله تعالی هم خپله دنيايي بدله ورکړې او هم د آخرت غوره بدله، په دنيا کي ئې فتح په برخه شوې او په آخرت کي د الله رضاء او جنت.

گورئ چي د الله د لاري مؤمن مجاهدين له مصيبتونو او ستونزو سره د مخامخ کېدو او د موقتي ماتي او ناکامۍ په وخت کي صابر وي، ستونزي او کړاوونه د دوی تحرك او نشاط نشي ختمولی، په دوی کي يأس او نا اميدي نشي راپيدا کولی، ځان بې وزله نه گڼي، د ضعف اوناتوانۍ احساس نکوي او سپکاوي او ذلت ته نه تسليمېږي، خپل فوځي کمښت او د دښمن د وسائلو او امکاناتو ډېرښت د خپلي ماتي عامل نه گڼي، بلکي خپل اشتباهات او گناهونه د ماتي باعث شمېري، په همدې خاطر له الله د خپلو گناهونو بخښنه او مغفرت غواړي او دعاء کوي چي الله تعالی د دوی گامونه د دښمن په خلاف په مورچلو کي ټينگ کړي او په دښمن دوی ته فتح او بری ور په برخه کړي.

همدا راز فرمايي:

قُل لَّن يُصِيبَنَآ إِلَّا مَا كَتَبَ ٱللَّهُ لَنَا هُوَ مَوۡلَىٰنَاۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ۝٥١ التوبه:٥١

ورته ووايه: موږ ته هيڅکله کوم مصيبت نه رسېږي مگر هغه څه چي الله راته ليکلي، هغه مو مولا دئ او مؤمنان خو بايد پر الله توکل وکړي.

دا مطلب په يوه مبارك حديث کي داسي راغلی:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّهُ قَالَ كُنْتُ رَدِيفَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فَقَالَ « يَا غُلاَمُ أَلاَ أُعَلِّمُكَ كَلِمَاتٍ يَنْفَعُكَ اللَّهُ بِهِنَّ». فَقُلْتُ بَلَى. فَقَالَ « احْفَظِ اللَّهَ يَحْفَظْكَ احْفَظِ اللَّهَ تَجِدْهُ أَمَامَكَ تَعَرَّفْ إِلَيْهِ فِي الرَّخَاءِ يَعْرِفْكَ فِي الشِّدَّةِ وَإِذَا سَأَلْتَ فَاسْأَلِ اللَّهَ وَإِذَا اسْتَعَنْتَ فَاسْتَعِنْ بِاللَّهِ قَدْ جَفَّ الْقَلَمُ بِمَا هُوَ كَائِنٌ فَلَوْ أَنَّ الْخَلْقَ كُلَّهُمْ جَمِيعاً أَرَادُوا أَنْ يَنْفَعُوكَ بِشَيْءٍ لَمْ يَكْتُبْهُ اللَّهُ عَلَيْكَ لَمْ يَقْدِرُوا عَلَيْهِ وَإِنْ أَرَادُوا أَنْ يَضُرُّوكَ بِشَيْءٍ لَمْ يَكْتُبْهُ اللَّهُ عَلَيْكَ لَمْ يَقْدِرُوا عَلَيْهِ وَاعْلَمْ أَنَّ فِي الصَّبْرِ عَلَى مَا تَكْرَهُ خَيْراً كَثِيراً وَأَنَّ

النَّصْرَ مَعَ الصَّبْرِ وَأَنَّ الْفَرَجَ مَعَ الْكَرْبِ وَأَنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْراً » رواه احمد
له عبد الله بن عباس رضی الله عنه روایت دئ یوه ورځ د رسول الله صلی الله علیه و سلم ترشا په سورلۍ سپور وم، نو ما ته ئې وویل: اې ځوانه! آیا داسي څو کلمې در وښیم چي په هغوی سره به الله تا ته ګټه ورسوي؟ ومي ویل: هو، وئې فرمایل: د الله د حقوقو ساتنه وکړه چي هغه دي وساتي، د الله د حقوقو ساتنه وکړه چي په هغه صورت کي به ئې (مرسته او پاملرنه) خپلي مخي ته ومومې. په سوکالۍ کي الله ته (په عبادت او بندګۍ سره ځان) معرفي کړه، چي د شدت او کړاو په وخت کي دي وپېژني (او مرسته دي وکړي)، که دي غوښتنه کوله نو له الله ئې غواړه او که دي مرسته غوښتله نو له الله مرسته غواړه، د هغه څه په لیکلو سره قلم وچ شوی چي کېدونکي دي (مقدرات ثبت شوي او په هغه کي تبدیلي نه راځي)، که د دنیا ټول خلك د دې هڅه وکړي چي تا ته داسي ګټه درورسوي چي الله نه ده درته لیکلې نو نشي توانېدلی، او که ټول خلك هڅه وکړي چي تا ته داسي تاوان درورسوي چي الله نه دئ درته لیکلي نو نشي توانېدلی، او په دې پوه شه چي په هغه څه صبر کولو کي ډېر خیر مضمر دئ چي نه دي خوښېږي او دا چي بری له صبر سره ملګری دئ او خلاصون له کړاو سره او یقیناً چي په هري سختۍ پسي آساني ده.

په قضاء او قدر باور او اعتقاد د دې باعث شي چي انسان د مصیبتونو په وخت کي ووایي: (إنالله و إنا إلیه راجعون: بې شکه چي موږ د الله یو (هغه پیدا کړي یو او هر څه مو د ده دي) او یقیناً چي موږ د ده طرف ته ګرځېدونکي یو)، خو هغه څوك چي په قضاء او قدر باور نه لري او ښې او بدي پېښي تصادفي ګڼي، د سترو او غیر متوقع پېښو په دوران کي ځان وبایلي، فتح او بری ئې مغرور کړي او ناکامي او ماتي ئې مأیوس او ناامیده کړي.

لکه چي قرآن فرمایي:

وَلَئِنْ أَذَقْنَا ٱلْإِنسَٰنَ مِنَّا رَحْمَةً ثُمَّ نَزَعْنَٰهَا مِنْهُ إِنَّهُۥ لَيَـُٔوسٌ كَفُورٌ ٩ وَلَئِنْ أَذَقْنَٰهُ نَعْمَآءَ بَعْدَ ضَرَّآءَ مَسَّتْهُ لَيَقُولَنَّ ذَهَبَ ٱلسَّيِّـَٔاتُ عَنِّيٓ ۚ إِنَّهُۥ لَفَرِحٌ فَخُورٌ ١٠ هود: ٩-١٠

او که انسان ته له خپلې خوا د کومې پېرزوينې خوند وروڅکو بيا ئې ترې لرې کړو، يقيناً چې (په دې صورت کې) دی حتماً ډېر مأيوس او ناشکره وي او که له هغه وروسته چې کړاو وررسېدلی؛ ده ته د نعمتونو خوند وروڅکو، حتماً وايي چې له ما ستونزې ولاړې، بې شکه چې هغه ډېر خوښي کوونکی او ډېر فخر کوونکی دئ.

همدا راز فرمايي:

وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَعۡبُدُ ٱللَّهَ عَلَىٰ حَرۡفٖۖ فَإِنۡ أَصَابَهُۥ خَيۡرٌ ٱطۡمَأَنَّ بِهِۦۖ وَإِنۡ أَصَابَتۡهُ فِتۡنَةٌ ٱنقَلَبَ عَلَىٰ وَجۡهِهِۦ خَسِرَ ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةَۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡخُسۡرَانُ ٱلۡمُبِينُ ١١ يَدۡعُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُۥ وَمَا لَا يَنفَعُهُۥۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلضَّلَٰلُ ٱلۡبَعِيدُ ١٢ الحج:١١-١٢

او له خلکو ځيني داسې دي چې په يوې ژۍ کې د الله عبادت کوي، نو که کومه ښېګڼه وررورسېږي په هغې ډاډه شي او که د آزموينې (کومه ستونزه) وروررسېږی خپل مخ اړوي، دنيا او آخرت ئې تاواني شو او دا څرګنده تباهي ده. له الله پرته هغه څه ته دعاء کوي چې نه ضرر وررسولی شي او نه ګټه وررسولی شي، همدا ژوره لاروركتيا ده، هغه څه ته دعاء کوي چې تاوان ئې تر ګټې ډېر نږدې دئ، څومره بد مولا او څومره بد ملګری.

په دې مبارکو آيتونو کې د هغه څه حالت انځور شوی چې مسلمانېدا ئې مشروطه ده، که اسلام د دوی غرضونه ترسره کړي نو پر اسلام او خپلې مسلمانۍ راضي وي، خو که اسلام د دوی د اغراضو په وړاندې خنډ شي، د مسلمانانو په څنګ کې خپل غرضونه ترلاسه نکړی شي، له ګواښونو او خطرونو سره مخامخ شي، دين او ايمان د قربانۍ غوښتنه ترې وکړي، نو خپل دين او ايمان ته لته ورکړي، په شا ولاړ شي او له مسلمانانو سره خپلې اړيکې وشلوي!! هغه له داسې څه سره تشبيه شوی چې د اسلام د دائرې له مرکزه ډېر لرې؛ په هغې کرښې چې اسلام او کفر سره بېلوي، ولاړ دئ او همله د خدای عبادت کوي، د کفر له دائرې يو ګام دې لورې ته رااوښتی،

له مخکي تلو ئي ډېره کړې، هملته ودرېدلی او په همدومره څه ئې اکتفاء کړې، که دلته کومه ګټه او منفعت ترلاسه کړي، نو په خپلي ګټي او دغه يو قدم رااوښتو خوښ وي، خو که له کومي ستونزي او خطر سره مخامخ شي، بېرته يو ګام په شا ولاړ شي او خپل مخکني حالت ته وروګرځي. دا د خپل هوس بنده دئ، له الله تعالی سره ئې معامله د يوه بازاري سوداګر ده، ايمان او عقيده هم د مادي ګټي په تله تلي، هغه عقيده ورته د منلو وړ ده چي مادي اغراضو ته په رسېدو کې د ده مرسته وکړي، له هري هغي عقيدې کرکه لري چي د سپېڅلو اهدافو په لار کې د قربانۍ مطالبه ترې وکړي. د مادي ګټي په طمع د داسي چا خوا ته درومي او له هغه مرسته غواړي چي له معنوي او اخلاقي پلوه ئې تباه کوي او دومره تاوان وررسوي چي په دنيا کې سپك شي او په آخرت کې د دوزخ وړ!! په دې نه پوهېږي چي د ګټي او تاوان پرېکړه د الله تعالی له لوري کېږي، له الله تعالی پرته نه څوك د ګټي رسولو توان لري او نه د تاوان رسولو، د الله تعالی پر ځای داسي چا ته مخه کړي چي تاوان وررسولی شي خو ګټه نه، څومره بد مولی او څومره بد ملګری.

د النساء د مبارکي سورې په ۷۷-۷۹ آيتونو کې د جهاد او له جهاد د راولاړو شوو ستونزو په اړه د منافقينو انګېرني او دريځ او د دوی منافقانه نظريات په ډېر دقيق ډول ښودل شوي، په دې آيتونو کې به وګورئ چي قرآن هغه کسان څنګه معرفي کوي چي يا د قضاء او قدر په مفهوم نه پوهېدل او يا ئې په هغه ايمان نه درلود؛ وګورئ چي قرآن د دوی قضاوتونه د بري او ماتي په وخت کې او د ښېګڼي او مصيبت په صورت کې څنګه راښيي:

أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ قِيلَ لَهُمۡ كُفُّوٓاْ أَيۡدِيَكُمۡ وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيۡهِمُ ٱلۡقِتَالُ إِذَا فَرِيقٞ مِّنۡهُمۡ يَخۡشَوۡنَ ٱلنَّاسَ كَخَشۡيَةِ ٱللَّهِ أَوۡ أَشَدَّ خَشۡيَةٗۚ وَقَالُواْ رَبَّنَا لِمَ كَتَبۡتَ عَلَيۡنَا ٱلۡقِتَالَ لَوۡلَآ أَخَّرۡتَنَآ إِلَىٰٓ أَجَلٖ قَرِيبٖۗ قُلۡ مَتَٰعُ ٱلدُّنۡيَا قَلِيلٞ وَٱلۡأٓخِرَةُ خَيۡرٞ لِّمَنِ ٱتَّقَىٰ وَلَا تُظۡلَمُونَ فَتِيلًا ٧٧ أَيۡنَمَا تَكُونُواْ يُدۡرِككُّمُ ٱلۡمَوۡتُ وَلَوۡ كُنتُمۡ فِي بُرُوجٖ

مُّشَيَّدَةٍۗ وَإِن تُصِبۡهُمۡ حَسَنَةٌ يَقُولُواْ هَٰذِهِۦ مِنۡ عِندِ ٱللَّهِۖ وَإِن تُصِبۡهُمۡ سَيِّئَةٌ
يَقُولُواْ هَٰذِهِۦ مِنۡ عِندِكَۚ قُلۡ كُلٌّ مِّنۡ عِندِ ٱللَّهِۖ فَمَالِ هَٰٓؤُلَآءِ ٱلۡقَوۡمِ لَا
يَكَادُونَ يَفۡقَهُونَ حَدِيثًا ٧٨ مَّآ أَصَابَكَ مِنۡ حَسَنَةٍ فَمِنَ ٱللَّهِۖ وَمَآ أَصَابَكَ
مِن سَيِّئَةٍ فَمِن نَّفۡسِكَۚ وَأَرۡسَلۡنَٰكَ لِلنَّاسِ رَسُولًاۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدًا ٧٩

**النساء:۷۷-۷۹**

هغو ته دي ونه کتل چي ورته وویل شو: لاسونه مو راتم کړئ، لمونځ وکړئ او زکات ورکړئ، خو کله چي پر دوی جهاد فرض کړی شو نو یوه ډله ئې له خلکو داسي وېرېده لکه له الله او یا تر دې هم سخته وېره او ویل ئې: اې زموږ ربه! ولي دي پر موږ جنګېدل فرض کړل؟ ولي دي تر یوې نږدې نېټې ونه ځنډولو؟ ورته ووايه: د دنيا متاع خو وړوکی شی دئ او آخرت غوره دئ، د هغه لپاره چي تقوی ئې غوره کړه او د بخرکي په اندازه به پر تاسو تېری ونشي. چي هرځای وئ مرګ به مو بیا مومي، که څه هم په دنګو کلکو ماڼیو کي وئ او چي کومه ښېګڼه ئې په برخه شي نو وايي: دا خو د الله له لوري ده، خو که کړاو ئې په برخه شي نو وايي: دا خو له تا څخه دئ، ورته ووايه: ټول د الله له لوري دي، په دې خلکو څه شوي چي په هيڅ خبري نه پوهېږي. له ښېګڼي چي څه ستا په برخه شي نو د الله له لوري ده او چي کړاو او ستونزه درورسېږي نو هغه پخپله ستا لخوا ده، ته خو مو خلکو ته یو استازی لېږلی یې او الله د شاهد په توګه کافي دئ.

په دې مبارکو آيتونو کي لاندي لارښووني زموږ مخي ته ايښودل شوې:

- ځيني خلك داسي وي چي له دښمن سره د جګړو د وخت له رارسېدو مخکي په جګړي ټينګار کوي، او وايي: بايد له دښمن سره د یوې پرېکندي نښتي له لاري خبره پای ته ورسوو او ستونزه د تل لپاره حل کړو، خو دا ټينګار ئې له قوي ايمان او د الله په لار کي د قربانۍ له جذبې څخه نه وي راولاړ شوی، بلکي له بيمار زړه راخوټېدلی وي، په دې بې وخته ټينګار سره غواړي چي ځان مخلص او انقلابي وښيي او په خپلو غلطو عملونو او غلطلو ويناوو پرده واچوي او خلکو ته وښيي چي که

اوس او د سختي ورځي له رارسېدو مخکې هغوی څه قصور لري او په عمل کې تر نورو شاته پاتې دي او د خپلو ديني او مذهبي دندو په اداء کولو کې لټي کوي، کله چې په دې اړه ورباندې اعتراض وشي نو وايي: که له دښمن سره د نښتې او له دين د دفاع وخت راورسېدو نو موږ به ترټولو مخلص ومومنځ، زموږ په اخلاص او صداقت به هلته پوه شئ چې په لومړي خط کې مو توره په لاس او متې بروهلې وګورئ!! وبه ګورئ چې تر هر چا مخکې يو او په لومړي خط کې د دښمن مقابله کوو!! خو کله چې د جګړې اصلي وخت راورسېږي او په دې اړه صريح او واضح فيصله وشي او د قرآن صريح او واضح حکم د هغه غوښتنه وکړي نو دا کسان به داسي ومومئ چې سخته وېره به ئې په څېرو کې څرګنده وي، خړې سترګې؛ د هغه چا په څېر چې د مرګ له وېرې او هيبته بې سده شوی، له خلکو به داسي وېرېږي لکه له الله او حتی له خلکو به ئې وېره هومره وي چې له الله به دومره نه وېرېږي!!

- بيا به وايي: اوس خو د جګړې مناسب وخت نه دئ، ضروري وسائل نه دي برابر شوي، څه نور وخت ته ضرورت لرو، بايد جګړه وځنډېږي!!

- دوی جګړه او له دښمن سره مخامخ کېدل داسي ګڼي لکه د مرګ په لوري چې خوځول کېږي، لکه مرګ چې تيار دوی ته خپل کومی پرانيستی وي او د مرګ نېټه ئې رارسېدلې وي!! وايي به: خدای ولې موږ ته د څه نوري مودې لپاره د ژوندي پاتې کېدو موقع رانکړه او داسي ژر ئې له جګړو سره مخامخ کړو!!

- دې خلکو ته فقط يو ځواب په کار دئ او هغه دا چې: له دنيا سره افراطي مينه مو له مرګه وېروي، آخرت مو هېر کړی، دنيا ته په آخرت ترجيح ورکوئ، د همدې لپاره له مرګه وېرېږئ او له جنګه ډډه کوئ. د الله په عدالت باور نلرئ، ګمان کوئ چې الله به د مسلمانانو هلې ځلې او قربانۍ ضايع کړي، حال دا چې الله د وړې ذرې په اندازه هم په خپلو بندګانو ظلم نه کوي.

- په دې پوه شئ چې په کور کې ناستي سره او کلکو مورچلو او دنګو کلاګانو ته په پناه وړلو سره هم له مرګه نه شئ خلاصېدی، په هر صورت به د مرګ داعي ته لبيك وايئ.

• دا کسان داسي دي چي که ستاسو په څنګ کې ئې څه ښېګڼه په برخه شوه نو دا ستاسو د ملګرتیا نتیجه نه بلکې په خپل ځان د الله پېرزوینه ګڼي، خو که له کومي ستونزي سره مخامخ شول نو دا ستاسو له لوري ګڼي، دوی ته ووایئ چي ښه او بد ټول د الله له لوري دي، دوی په دې نه پوهېږي چي د ښه او بد، خیر او شر، ګټي او تاوان پرېکړه د الله له لوري کېږي.

• هره ښېګڼه د الله پېرزوینه ده، مبادا هغه د خپل عمل نتیجه وګڼئ، دا ځکه چي د نېك عمل توفیق هم د الله پېرزوینه ده.

• هر کړاو او ستونزه ستا د بد عمل او ګناه نتیجه ده، له ځان نه پرته بل څوك مه ملامتوه.

• د الله پیغمبر هم د خیر او شر واکدار نه بلکې د استازي په توګه لېږل شوی. الله په دې شهادت ورکوي چي خیر، شر د ده له لوري دئ او ستا په عمل پوري تړلی دئ، د ده پیغمبر فقط د یوه امین استازي دنده تر سره کوي، د خیر او شر واك او پرېکړه د ده په اختیار کې نه ده.

قرآن په ډېره حیرانتیا سره د دغو خلکو په اړه فرمایي: په دې خلکو څه شوي چي په خبره نه پوهېږي؟!! ولي داسي دي چي که له فتحي، بري او کومي بلي ښېګڼي سره مخامخ شي، نو د دې لپاره چي په دې بري او فتحې کې ئې د پیغمبر علیه السلام له ونډي او اغېز انکار کړی وي وایي: دا خو د الله له لوري وه؛ خو که له ماتي او تلفاتو سره مواجه شي وایي: دا د قیادت او مشرتابه غلطي وه، د ماتي او مصیبتونو باعث او موجب پیغمبر علیه السلام او د ده قیادت او مشري ګڼي؛ حال دا چي هر څه د الله له لوري دي، خیر او شر ټول د ده په اختیار کې دي، د خیر او شر تقدیر او ټاکنه د ده له خوا ده. الله تعالی چي هره فیصله کوي، چي هره لارښوونه کوي، د هر چا په هر عمل چي کومه نتیجه مرتب کوي، خیر په هماغه کې دئ، که کوم مجرم مؤاخذه کوي، که کوم ظالم د تېري، ظلم او طغیان له کبله تعذیبوي، که کوم مسلمان په کوم مصیبت او کړاو سره آزمویي، په هر یوه کې مصلحت او حکمت مضمر دئ، لکه پلار چي خپل زوی د غلطۍ له کبله تنبیه کوي او یا استاد چي خپل شاګرد ته سزا ورکوي، خو احمق شاګرد او بې عقله زوی په دې

نه پوهېږي چې په دې تنبیه کې ده ته کوم خیر او ښېګڼه مضمر ده.

## مصیبتونه او پېښې د قضاء او قدر په رڼا کې

د حوادثو، مصیبتونو او پېښو په اړه دوه نظریې وړاندې کېږي:

- ټولې پېښې تصادفي حوادث دي، که دا ستر ستر طوفانونه دي، که سېلابونه، که زلزلې او وچ کالي او که وړې وړې پېښې، د یوه انسان له عادي بیمارۍ نیولې تر هغو لویو لویو پېښو چې په میلونونو خلك ترې متأثره شي، دا ټول طبیعي اسباب او عوامل لري، د خلکو له کړو وړو او ګناهونو سره ئې هیڅ تعلق نشته، هم ګنهګار نیسي او هم بې ګناه، نه ئې د انسان بد عمل په راتلو کې څه ونډه لري او نه ښه عملونه په مخنیوي کې.
- د هرې پېښې پرېکړه د الله له لوري کېږي، هره حادثه د هغه په اراده رامنځته کېږي، الله نه په چا ظلم کوي او نه د عدالت خلاف پرېکړه، له هر فرد او ټولنې سره همغه څه کوي چې د عدالت له مخې ئې مستحق وي، نه ستر ستر حوادث تصادفي پېښې دي او نه واړه واړه مصیبتونه، د انسان بد عملونه ئې د راتلو لامل دئ او نېك عملونو ئې د تم کېدو باعث.

راشئ وګورو چې قرآن په دې اړه څه وایي او له دغو دواړو نظریو کومه یوه تأییدوي؟ راشئ وګورو چې د یوه مؤمن په حیث به د دغو پېښو په اړه زمونږ نظر څه او عقیده مو څنګه وي؟ او د هغه چا په ځواب کې به څه وایو چې په دې اړه د قرآن په وینا اعتراض لري؟ تر هر څه مخکې باید هغه آیتونه تر نظر تېر کړو چې د مصیبتونو او پېښو په اړه په قرآن کې راغلي:

د الشوری د سورې په دېرشم آیت کې داسې لولو:

وَمَآ أَصَٰبَكُم مِّن مُّصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتۡ أَيۡدِيكُمۡ وَيَعۡفُواْ عَن كَثِيرٖ ٣٠

الشوری:۳۰

او په کوم مصیبت چې تاسو اخته کېږئ نو دا ستاسو د خپلو لاس ته راوړنو له کبله دئ او له ډېرو ئې (الله ) تېرېږي.

(۳۰)- دا مبارك آيت په ډېر صراحت او قاطعيت سره وايي چي مصيبتونه ستاسو د کړو وړو په سبب راځي او دا چي دا ستاسو د ګناهونو يوازي د يوې برخي سزا ده، که الله عفو ونه کړي او له تاسو سره د فضل او عفوي پر ځای د عدل له مخي معامله وکړي نو تر دې به ئې ستر ستر مصيبتونه دربانديي نازل کړي وو.

دلته يوه جدي پوښتنه راولاړېږي او هغه دا چي آيا انسان له ګناه پرته هم په مصيبت اخته کېدی شي که نه؟ هغه مصيبتونه به څنګه تعبيروو چي د الله تعالی نېك بندګان ورسره مخامخ شوي؟ پر پيغمبرانو عليهم السلام هم مصيبتونه راغلي دا به د دې آيت له مخي څنګه توجيه کوو؟ بې ګناه ماشومان هم مصيبتونه ګالي!! په دې اړه بايد لاندي خبري په پام کي ولرو:

- د حوادثو، مصيبتونو او پېښو په اړه څلور نظريې وړاندي کېږي:

۱. يوه د بايبل هغه نظريه ده چي وايي: په انسان باندي چي کوم مصيبتونه راځي؛ دا د شيطان کار دئ، خدای شيطان ته دا اجازه ورکوي چي انسان له کړاوونو او مصيبتونو سره مخامخ کړي.

۲. بله دا چي انسان د خپلو ګناهونو په سبب له مصيبتونو سره مخامخ کېږي، هر په مصيبت اخته انسان په حقيقت کي يو ګناهګار انسان دئ!! دا ځکه چي مصيبتونه يوازي يو لامل لري او هغه د انسان ګناه ده او بس.

۳. درېيمه نظريه هغه ده چي وايي: ټولي پېښي تصادفي حوادث دي، که دا ستر ستر طوفانونه دي، که سېلابونه، که زلزلې او وچ کالي او که وړې وړې پېښي، د يوه انسان له عادي بيمارۍ نيولې تر هغو لويو لويو پېښو چي په ميلونونو خلك ترې متأثره شي، دا ټول طبيعي اسباب او عوامل لري، د خلکو له کړو وړو او ګناهونو سره ئې هيڅ تعلق نشته، هم ګناهګار نيسي او هم بې ګناه، نه ئې د انسان بد عمل په راتلو کي څه ونډه لري او نه ئې ښه عملونه په مخنيوي کي.

٤. خو قرآن فرمايي چي د ښه او بد، راحت او مصيبت، نعمت او نقمت پرېکړه د الله تعالی له لوري کېږي، نه شيطان په دې کي څه تصرف او مداخله کولی شي او نه په زمکي او آسمان کي له الله تعالی پرته بل څوك. د هري پېښي پرېکړه د الله له لوري کېږي، هره حادثه د هغه په اراده رامنځته کېږي، الله نه په چا ظلم کوي او

نه د عدالت خلاف پرېکړه، له هر فرد او ټولني سره همغه څه کوي چي د عدالت له مخي ئې مستحق وي، نه ستر ستر حوادث تصادفي پېښي دي او نه واړه واړه مصيبتونه، کله د انسان بد عملونه د دې مصيبتونو د راتلو لامل وي او نېك عملونه ئې د تم کېدو باعث او کله الله تعالی غواړي د مصيبتونو په ترځ کي انسان وروزي، کمال ته ئې ورسوي او هغه استعدادونه په کي راوېښ او ځلانده کړي چي يوازي له کړاوونو سره د مخامخ کېدو په صورت کي په انسان کي وده کوي، لکه هغه ماشوم چي د لومړي ځل لپاره په خپلو پښو تګ زده کوي نو په وار وار لوېږي او لټېږي او په همدغو لوېدلو او لټېدلو کي د ده روزنه کېږي، ډېر څه ورښودل کېږي، هډوکي ئې مضبوطېږي او په لوړو ژورو کي د تلو هنر زده کوي.

قرآن فرمايي:

مَآ أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۗ وَمَن يُؤْمِنۢ بِٱللَّهِ يَهْدِ قَلْبَهُۥ ۚ وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌ ١١ التغابن: ١١

هيڅ مصيبت نه راځي مګر د الله په إذن سره او څوك چي پر خدای ايمان لري زړه ئې ورهدايت کړي او الله په هر څه ښه پوه دئ.

• دا آيت هم په ډېر تأکيد او قاطعيت سره وايي چي هيڅ مصيبت په خپل سر او تصادفي نه راځي، د الله په حکم او إذن راځي، د ايمان خاوندان ئې په وجه او حقيقت پوهېږي او په دې اړه ئې الله زړونه روښانه کوي او له شك او اعتراض ئې خوندي ساتي.

• د قرآن ګڼ شمېر آيتونه په پرېکنده ډول وايي چي هيڅکله کوم داسي مصيبت نه دررسېږي چي الله تعالی له مخکي نه وي درته ليکلی، که دا مرګ ژوبله وي، په جګړي کي ماته وي، يا کوم بل مصيبت، مؤمنان به په خدای توکل کوي، د مصيبتونو په اړه به هيڅکله دا شك نه کوي چي دا په خپل سر او د الله تعالی له عادلانه پرېکړي پرته نازل شوي.

• کله مصيبت د ګناه دنيايي سزا وي، له داسي مصيبت سره کله يو انسان د خپلي ګناه له کبله مخامخ کېږي او کله يوه ټولنه د اکثريت د ګناه له کبله، کله

فردي بڼه لري او کله اجتماعي، کله يوه الهي آزموينه وي او په ترڅ کې ئې انسانان روزل کېږي او لوړو لوړو درجو ته د رسېدو لپاره جوګه کېږي. د دې تفصيل د الانبياء سورې د (۸۴-۸۳) آيتونو په تفسير کې وګورئ.

- په دې اړه دا روايت هم مخې ته راځي چي وايي:

عَنْ أَبِي مُوسَى أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم قَالَ « لاَ يُصِيبُ عَبْدًا نَكْبَةٌ فَمَا فَوْقَهَا أَوْ دُونَهَا إِلاَّ بِذَنْبٍ وَمَا يَعْفُو اللَّهُ عَنْهُ أَكْثَرُ ». قَالَ وَقَرَأَ ( وَمَا أَصَابَكُمْ مِنْ مُصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُو عَنْ كَثِيرٍ  رواه الترمذي

له ابو موسی رضی الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: هيڅ بنده ته کوم ستر يا ووړ مصيبت نه رسېږي مګر د کومي ګناه له کبله، او له هغه څه چي الله تېرېږي هغه ډېر دي، بيا ئې دغه آيت تلاوت کړ: ( وَمَا أَصَابَكُمْ مِنْ مُصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُو عَنْ كَثِيرٍ ).

که څه هم ځينو دا روايت د سند له پلوه ضعيف ګڼلی خو متن ئې د قرآن له آيت سره په بشپړه توګه مطابقت لري. متأسفانه موږ له دې ستونزي سره مخامخ يو، کله به داسي روايت ته صحيح ويل کېږي چي له قرآن سره په بشپړه توګه تعارض لري او کله به پورتني روايت ته ورته روايت ضعيف ګڼل کېږي؛ په داسي حال کې چي هغه به د قرآن له څرګند آيت سره مطابقت لري. دا ستونزه له دې راولاړه شوې چي ځينو سند ته پر متن ترجيح ورکړې، سند ئې په لومړۍ درجې کې معتبر ګڼلی او متن په دوهمي درجې کې.

د التوبه د مبارکي سورې په يو پنځوسم او دوه پنځوسم آيتونو کې مسلمانانو ته په دې اړه داسي لارښوونه شوې:

قُل لَّن يُصِيبَنَآ إِلَّا مَا كَتَبَ ٱللَّهُ لَنَا هُوَ مَوۡلَىٰنَاۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ٥١ التوبة:٥١

(ورته)ووايه: هيڅکله له هغه پرته څه نه رارسېږي چي الله راته ليکلي، هغه مو مولا دئ او مؤمنان خو بايد پر الله توکل وکړي.

قرآن مؤمنانو ته لارښوونه کوي چي مخالفينو ته په بشپړ ډاډ او اطمئنان سره

وايي: هيڅکله کوم داسي مصيبت نه رارسېږي چي الله تعالی له مخکي نه وي راته ليکلی، که دا مرگ ژوبله وي يا په جگړي کي ماته او يا کوم بل مصيبت، مؤمنان به پر خدای توکل کوي، د مصيبتونو په اړه به هيڅکله دا شك نه کوي چي دا په خپل سر او د الله تعالی له عادلانه پرېکړي پرته نازل شوي.

- همداراز دا مبارك آيت مؤمنانو ته وايي چي د کافرانو د گواښونو په وړاندي به ستاسو ځواب دا وي:

- **لَّن يُصِيبَنَآ إِلَّا مَا كَتَبَ ٱللَّهُ لَنَا: له هغه څه پرته چي الله تعالی راته ليکلي او مخکي له مخکي ئې راته مقدر کړي، بل هيڅ مصيبت نه رارسېږي، دا د هر مؤمن بنده د عقيدې او ايمان يوه برخه ده چي باور وکړي هيڅ مصيبت نه وررسېږي؛ مگر هغه چي الله تعالی لادمخه ده ته مقدر کړی.**

- **دوی به پدې خبرې باور لري چي الله مو مولا دئ، هغه به موږ يوازي نه پرېږدي، هغه به زموږ هلي ځلي نه ضائع کوي، موږ به د دښمن په وړاندي يوازي نه پرېږدي.**

- **دوی به پر الله توکل کوي. دښمن ته به وايي: زموږ ويسا او اعتماد پر الله دئ، دا ځکه چي موږ ايمان لرو او د ايمان تقاضاء دا ده چي انسان به پر الله تعالی توکل کوي.**

د دې مبارك آيت مهمي لارښووني دا دي:

- د الله تعالی له اذن پرته هيچا ته کوم مصيبت نه رسېږي.
- انسان ته يوازي هغه مصيبت وررسېږي چي له وړاندي هغه ته مقدر او د ده

په تقدیر پاڼي کې لیکل شوی وي.

- دا مقدرات نه بدلېږي.
- او دا چې الله زموږ مولا او چاره گر دئ، موږ به یوازې نه پرېږدي، په هره پرېکړه او فیصله کې ئې زموږ لپاره خیر مضمر دئ، دا ځکه چې الله زموږ مولا دئ او هر څه د هغه په اراده کېږي، که په موقتي توگه له ماتې سره مخامخ کېږو، زموږ خیر په همدې کې مضمر دئ او که فتح او غلبه را په برخه کړي خیر په همدې کې دئ، دا ځکه چې الله زموږ مولا دئ.
- او دا چې د ایمان خاوندان باید پر الله تعالی باندې توکل وکړي، له نتائجو به مطمئن وي، کار به الله ته حواله کوي او له دې به ډاډه وي چې الله جل شأنه به په هغه باندې نېك نتائج مرتب کوي.

ورپسې فرمايي:

قُلْ هَلْ تَرَبَّصُونَ بِنَآ إِلَّآ إِحْدَى ٱلْحُسْنَيَيْنِ ۖ وَنَحْنُ نَتَرَبَّصُ بِكُمْ أَن يُصِيبَكُمُ ٱللَّهُ بِعَذَابٍ مِّنْ عِندِهِۦٓ أَوْ بِأَيْدِينَا ۖ فَتَرَبَّصُوٓا۟ إِنَّا مَعَكُم مُّتَرَبِّصُونَ ۝ التوبه: ٥٢

(ورته) ووایه: آیا موږ ته له دوو نه د یوې ښېگڼې پرته د بل څه انتظار لرئ او موږ خو ستاسو لپاره یا دې ته سترگې په لار یو چې الله مو له خپل لوري په کوم عذاب اخته کړي او یا زموږ په لاس، نو انتظار وکړئ چې موږ هم درسره انتظار کوونکي یو.

د داسې کسانو په ځواب کې باید ووایئ:

- موږ ته له دې پرته د بل څه انتظار نه لرئ چې له دوو ښېگڼو به مو یوه په برخه شي: یا بری یا د الله په لار کې شهادت، هر یو ئې زموږ لپاره ښېگڼه.
- خو موږ ستاسو په اړه دوو حالاتو ته منتظر یو: یا دا چې الله تعالی به تاسو له خپل لوري په کوم عذاب اخته کړي او یا زموږ په لاس.

- د الله تعالی پرېکړي ته تاسو هم انتظار وکړئ او موږ هم انتظار کوو.

د آل عمران د مبارکي سورې په ١٤٥آیت کي لولو:

وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ أَن تَمُوتَ إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ كِتَٰبًا مُّؤَجَّلًا ... آل عمران:١٤٥

هیڅ ژوی نه مري مگر د الله په حکم او په لیکل شوې نېټې...

همداراز د الحدید د مبارکي سورې په ٢٢-٢٣ آیتونو کي داسي راغلي:

مَآ أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ فِى ٱلْأَرْضِ وَلَا فِىٓ أَنفُسِكُمْ إِلَّا فِى كِتَٰبٍ مِّن قَبْلِ أَن نَّبْرَأَهَآ ۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٌ ٢٢ لِّكَيْلَا تَأْسَوْا۟ عَلَىٰ مَا فَاتَكُمْ وَلَا تَفْرَحُوا۟ بِمَآ ءَاتَىٰكُمْ ۗ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُورٍ ٢٣ الحدید: ٢٢-٢٣

نه په زمکي کی کوم مصیبت واقع کېږي او نه په خپله تاسو کي، مگر دا چي په کتاب کي لیکل شوی؛ مخکي له دې چي پیدا ئې کړو. دا خو یقیناً الله ته آسان کار دئ، تر څو په هغه څه مأیوس نشئ چي له لاسه ئې ورکوئ او په هغه څه چي درکوي ئې بې ځایه خوشحالي ونکړئ او خدای هیڅ کبرجن او فخرکوونکی نه خوښوي.

د مصیبتونو په اړه د الله تعالی یو سنت دا هم دئ چي کله ئې مصیبت یوازي ظالمان نه نیسي بلکي عام وي او د ظالمانو تر څنگ نور هم نیسي، د الانفال په مبارکي سورې کي دا قضیه داسي توضیح شوې:

وَٱتَّقُوا۟ فِتْنَةً لَّا تُصِيبَنَّ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ مِنكُمْ خَآصَّةً ۖ وَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلْعِقَابِ ٢٥ الانفال: ٢٥

و له هغي فتني او مصیبت ځان وساتئ چي یوازي ستاسي ظالمان نه پرې اخته کېږي او په دې پوه شئ چي الله سخت عذاب ورکوونکی دئ.

دا هغه مصیبتونه دي چي مختص د ظالمانو په سر نه راپرېوځي، بلکي عام وي او نور خلك هم پرې اخته کېږي، خو باید په دې پوه شو چي دا نور خلك څوك دي چي د ظالمانو ترڅنگ دوی هم په دې الهي مصیبتونو اخته کېږي. د قرآن د وینا له

مخي دا يا هغه خلك دي چي د ظالمانو ملگرتيا ئي کړي، د دوی په څنگ کې درېدلي، دوی ته تسليم شوي، د دوی واکمني ئي منلې، د عسکر، پوليس، مأمور او مستخدم په حيث ئې د دغو ظالمانو خدمت کړی، ماليه ئې ورکړې او يا پر ظلم راضي شوي او د ظالمانو په مقابل کې ساکت پاته شوي او يا ئې د منکراتو د مخنيوي په اړه خپل مسئوليت نه دئ اداء کړی. له عام مصيبت مقصد دا نه دئ چي گناهگار او بې گناه دواړه نيسي، دا ځکه چي قرآن د لوط عليه السلام د قوم د هلاکت په اړه په ډېر صراحت سره فرمايي چي هلته له يوې مسلماني کورنۍ پرته بل داسي څوك نه وو چي د ژغورلو مستحق وو او الله تعالی همدغي يوې کورنۍ ته نجات ورکړ او نور ټول ئې هلاك کړل، فرمايي:

فَمَا وَجَدْنَا فِيهَا غَيْرَ بَيْتٍ مِّنَ ٱلْمُسْلِمِينَ ٣٦ الذاريات: ٣٦

نو موږ په هغه (کلي) کې د مسلمانانو له يوې کورنۍ پرته (بله) ونه موندله.

دا آيت همدغه مطلب په ډېر قاطعيت سره داسي بيانوي:

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَقَالُواْ لِإِخْوَٰنِهِمْ إِذَا ضَرَبُواْ فِي ٱلْأَرْضِ أَوْ كَانُواْ غُزًّى لَّوْ كَانُواْ عِندَنَا مَا مَاتُواْ وَمَا قُتِلُواْ لِيَجْعَلَ ٱللَّهُ ذَٰلِكَ حَسْرَةً فِي قُلُوبِهِمْ ۗ وَٱللَّهُ يُحْيِۦ وَيُمِيتُ ۗ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ

١٥٦ آل عمران: ١٥٦

اې مؤمنانو! د هغو په څېر مه کېږئ چي کافران شول او د خپلو وروڼو په اړه ئي چي په سفر تللي وو او يا ئې غزا کوله (او هلته يا مړه يا وژل شوي وو) وويل: که زمونږ په خوا کې وی، نه به مړه شوي وو او نه به وژل شوي وو!! تر څو الله دا خبره د دوی په زړونو کې د حسرت لامل وگرځوي، حال دا چي د ژوند، مرگ پرېکړه الله کوي او الله د هغه څه ښه ليدونکی دئ چي تاسو ئې کوئ.

د دې آيت اساسي مطالب دا دي:

- مسلمانان د مرگ او ژوند په اړه له کافرانه تصور منع شوي.

- که چا مړينه او وژنه سفر يا غزا ته منسوب کړه او د وژل شوي او مړ شوي خپلوان په اړه ئې وويل: که زموږ په څنګ کې وی، په غزا کې ئې برخه نه وی اخيستې او په سفر نه وی تللی له مړيني او وژنې به خوندي پاته شوی وو، د ده دا تصور او اعتقاد کافرانه دئ.
- د ژوند مرګ پرېکړه يوازې الله تعالی کوي.
- دا کافرانه تصور له دې پرته بل څه نه دئ چې په زړونو کې د حسرت باعث شي، په دې حسرت سره الله تعالی کافران تعذيبوي.
- د انسان کوم کړه وړه چې له همدې کافرانه اعتقاد څرګندېږي، که هغه له مرګ وېره وي، په جهاد کې برخه نه اخيستل وي او سنګر ته د خپلوانو له لېږلو ډډه کول وي، الله په ټولو خبر دئ او ستاسو د ټولو عملونو شاهد او ناظر دئ.

قرآن ټول هغه مصيبتونه چې د فرعون د اقتدار په وخت کې په مصريانو راغلي دا د فرعون او فرعونيانو د کفر، ظلم، طغيان او فساد له کبله ګڼي، د نوح عليه السلام په قوم طوفان د دوی د عملونو سزا بولي، همداراز نور ټول هغه عذابونه چې په بېلو بېلو قومونو راغلي.

د عالم هره پېښه خاص طبيعي عوامل لري، باران او واوره له ورېځو ورېږي، زلزلې د زمکې د ډبرين قشر له ماتېدو راولاړېږي، بېماري له ويروسونو او مکروبونو راپيدا کېږي، د طوفانونو لامل تونديڅ سيلۍ دي چې د سيمو د هوا او موسم له سريع او دراماتيك تغيير سره ئې خوځښت توند او تېز شي او ستر ستر طوفانونه راولاړ کړي، خو د پېښو دا عوامل د هغه ذات په واك کې دي او د هغه په اراده او اذن خوځېږي چې د عالم هر څه اداره کوي، هيڅ څه د ده له إذن او حکم پرته نه ترسره کېږي. قرآن د بادونو په اړه فرمايي چې دوی ورېځې په سر واخلي، په خاص استقامت ئې وخوځوي، په بېلو بېلو برخو ئې ووېشي، په لوړو غرونو واوري وورووي، په اوارو سيمو بارانونه، په چا لږ او په چا ډېر، خو نه ئې دا خوځول په خپل سر دي او نه ئې وېش، هر چا او هر ځای ته هومره برخه ورکوي چې الله تعالی ورته ټاکلې، نه ئې خوځښت د ړندو په څېر دئ او نه ئې وېش د پټو سترګو او له معيار او ميزان پرته، قرآن بادونه د (فارقات) په نامه يادوي چې معنی ئې فرق کوونکي ده، يعني دا بادونه د مستحق او غير مستحق ترمنځ د تفکيك او تمييز

استعداد لري، پوهېږي چي کومي سيمي ته څومره ورېځي انتقال کړي، چېري واوره ووروي او چېري باران، په چا لږ او پر چا ډېر، لکه څنګه چي د لمر راختل او لوېدل، هره ورځ په خپل وخت او له خپل ځايه وي او په راختو او پرېوتو کي د خاصو الهي سننو او ضوابطو تابع، په همغه مسير کي خوځي چي الله ورته ټاکلی او همغه څه کوي چي پرې ګمارل شوی، همداراز د دې عالم هرڅه د خاصو ضوابطو تابع او هر يو په پوره دقت سره همغه کارونه ترسره کوي چي الله تعالی ورته ښودلي، د زمکي او آسمانونو هرڅه د الله په وړاندي د هغو منقاد او مطيع فوځيانو په څېر دي چي هر څه ئې د خپل آمر او قومندان په امر او لارښوونه وي، قرآن د زمکي او آسمان هرڅه د الله لښکري ګڼي او فرمايي:

وَلِلَّهِ جُنُودُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا ٧ الفتح: ٧

د آسمانونو او زمکي ټولي لښکري د الله دي او الله باحکمته عزتمن دئ.

أَفَغَيْرَ دِينِ ٱللَّهِ يَبْغُونَ وَلَهُۥٓ أَسْلَمَ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ طَوْعًا وَكَرْهًا وَإِلَيْهِ يُرْجَعُونَ ٨٣ آل عمران: ٨٣

آيا د الله له دين پرته (بل دين) لټوي، حال دا چي د آسمانونو او زمکي هرڅه، طوعاً اوکرهاً، (په خوښه او ناخوښه) ده ته غاړه اېښې او د ده لوري ته ورګرځول کېږي.

خو دې ته مو بايد پام وي چي د رزق په اړه د الله سنت دا نه دئ چي د خلکو د عملونو له مخي ئې پرېکړه کوي او يوازي صالحو بندګانو ته ئې ورکوي او بدکاران ترې محروموي، برعکس د رزق په اړه د الله سنت دا دئ چي هم ئې مؤمن ته ورکوي او هم کافر ته، هرڅه چي الله تعالی پيدا کړي او رزق روزي ته ضرورت لري الله تعالی د هغوی رزق په خپله ذمه اخيستی، د خاصو اسبابو او عواملو له کبله او د خاصو مصلحتونو له مخي ئې کله زيات او کله کم کړي، کله د زمکي او آسمان د برکت دراوزې پرانيزي او کله ئې وتړي، کله دواړه په پراخ لاس او ورين تندي خپل نعمتونه د خلکو پښو کي غورځوي او کله ئې سخاوت نه پېرزو کېږي او خپل غوره

او ښايسته نعمتونه ترې سپموي. قرآن فرمايي:

وَلَوۡ أَنَّ أَهۡلَ ٱلۡقُرَىٰٓ ءَامَنُواْ وَٱتَّقَوۡاْ لَفَتَحۡنَا عَلَيۡهِم بَرَكَٰتٖ مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِ وَلَٰكِن كَذَّبُواْ فَأَخَذۡنَٰهُم بِمَا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ٩٦ الاعراف:٩٦

که کليوالو ايمان راوړی وی او تقوی ئې درلودی نو موږ به حتماً د آسمانونو او د ځمکې د برکاتو (دروازې د دوی پر مخ) پرانيستې وې، خو دوی دروغ وګڼلو، نو په هغه څه مو ونيول چې دوی کول.

دا هم يو بل ثابت او نه بدلېدونکی الهي سنت دئ چې: که خلك ايمان راوړي، د تقوی لار غوره کړي نو الله تعالی به د آسمانونو او ځمکې د برکاتو دروازې د دوی پر مخ پرانيزي، دواړه به په سخاوت او پراخ لاس سره خپل برکات د دوی مخې ته ږدي، آسمان به له برکته ډك ورښتونه پرې وروي او ځمکه به له برکت ډکې ميوې او دانې ورته راټوکوي. خو که دوی د الهي دين د تکذيب لار اختيار کړي، د ايمان پر ځای د کفر او د تقوی پر ځای د ظلم، فسق او فساد لار، نو د خپلو کړنو له کبله دي الهي عذاب ته منتظر وي.

وَضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلٗا قَرۡيَةٗ كَانَتۡ ءَامِنَةٗ مُّطۡمَئِنَّةٗ يَأۡتِيهَا رِزۡقُهَا رَغَدٗا مِّن كُلِّ مَكَانٖ فَكَفَرَتۡ بِأَنۡعُمِ ٱللَّهِ فَأَذَٰقَهَا ٱللَّهُ لِبَاسَ ٱلۡجُوعِ وَٱلۡخَوۡفِ بِمَا كَانُواْ يَصۡنَعُونَ ١١٢ النحل: ١١٢

او الله د يوه داسي کلي مثال بيانوي چې خوندي او ډاډ من وو، له هري سيمي تازه او پرېمانه رزق ورته راتلو، نو دوی د الله د نعمتونو کفران وکړ، نو الله هم د لوږې او وېرې د لباس خوند وروڅاکو، د هغه څه په سبب چې دوی کول.

فَكَأَيِّن مِّن قَرۡيَةٍ أَهۡلَكۡنَٰهَا وَهِيَ ظَالِمَةٞ فَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلَىٰ عُرُوشِهَا وَبِئۡرٖ مُّعَطَّلَةٖ وَقَصۡرٖ مَّشِيدٍ ٤٥ الحج:٤٥

او څومره کلي چې ظالمان وو او تباه مو کړل، نو دا دي په خپلو چتونو راپرېوتي او

وزګار پاته څاګان او ټینګي ماڼۍ.

وَكَأَيِّن مِّن قَرۡيَةٍ أَمۡلَيۡتُ لَهَا وَهِيَ ظَالِمَةٌ ثُمَّ أَخَذۡتُهَا وَإِلَيَّ ٱلۡمَصِيرُ ٤٨ الحج: ٤٨

او څومره کلی چی فرصت مو ورکړ سره له دې چي ظالم ول، بیا مو ونیول او بېرته ګرځېدل خو زما په لوري دي.

په لاندي مبارك آیت کي الله تعالی د هغو مغرورو ځواکونو په اړه چی خپل زور ځواك مغرور کړي او په نورو ئې تېری کړی او ملکونه ئې ترې نیولي خو الله تعالی هلاك کړي، داسي فرمایي:

وَكَمۡ أَهۡلَكۡنَا قَبۡلَهُم مِّن قَرۡنٍ هُمۡ أَشَدُّ مِنۡهُم بَطۡشًا فَنَقَّبُواْ فِي ٱلۡبِلَٰدِ هَلۡ مِن مَّحِيصٍ ٣٦ ق:٣٦

او تر دوی وړاندي مو څومره داسي نسلونه هلاك کړل چي تر دوی ځواکمن او (د خلکو په نیولو او تعذیبولوکي) شدید ول، نو ښارونو ته (د اشغال لپاره) ننوتل، خو آیا کوم پناه ځی ئې وو؟

خلك دا واوري چي په فلاني ملك کي زلزله وشوه، طوفان راغی، وچ کالي ده او وبا خوره شوې او په زرګونو او لکونو خلك په کي مړه شوي، طبیعي ده چي عواطف ئې تحریك شي، د زړه له تل خواخوږي وښيي او دا پوښتنه ورسره راولاړه شي چي دا ولي، د څه لپاره او د کومي ګناه له کبله دومره خلك په یو ځای مري؟ دلته به خامخا ډېر بې ګناه خلك هم وو، ولي الله تعالی د دومره بې ګناه خلکو په مرګ راضي کېږي؟!! د دغو کسانو قضاوت یو اړخیز او پر عاطفې ولاړ قضاوت وي، د قضیې له ټولو ابعادو او اړخونو خبر نه وي، په دې نه پوهېږي چي په هغه ځای کي څه تېرېدل، د خلکو عملونه څنګه وو، که په قرآن کي د هغو ولسونو چي ستر ستر عام عذابونه ورباندي راغلي، یوازي د عذاب څرنګوالی راغلی وی او عوامل او د خلکو ګناهونو ته ګوته نه وی نیول شوې نو خلکو به همدا ویل چي دا دومره خلك ولي په یو ځای او یو وخت کي وژل شوي، د خلکو ګناه څه وه؟!! خو الله تعالی د

دغو عذابونو لاملونه هم په گوته کړي، د همدې لپاره نن مونږ قانع یو چې په عاد، ثمود، د نوح، لوط او شعیب علیهم السلام په قومونو او په فرعونیانو مسلط شوي عذابونه د الله تعالی له لوري د عادلانه پرېکړې او د خلکو د عملونو له کبله وو، که همداسې هره هغه سیمه وڅېړو چې داسې الهي عذابونه پرې مسلط شوي نو عوامل به ئې هرومرو ترلاسه کړو او په دې به پوه شو چې دا عذابونه نه خو د ړندو او پټو سترگو پرېکړو نتیجه ده او نه غیرعادلانه، که دا پېښې په دقت سره وڅېړو نو حتماً به په ټولو کې هغه عوامل بیامومو چې د هغه له کبله مخکني قومونه په الهي عذابونو اخته شوي.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ